ان الدين عند الله الاسلام

د ما شومانو بچو د زده کړے د پاره یو ښه کتاب

تعلیم الاسلام

پښتو مکمل څلور حصے

حضرت مولانا مفتی کفایت الله

فقیر محمد عباس قادریه

ناشر

وحیدی کتب خانه

میونسپل پلازه قصه خوانی بازار پشاور

باهتمام ... فون نمبر: 2564991



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کررہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

ان الدين عند الله الاسلام

د ماشومانو بچو د زده کړې د پاره يو ښه کتاب



تصنيف: حضرت مولانا مفتي کفايت الله نور الله مرقده

پښتو ترجمه: فقير محمد عباس قادريه گولډ ميډلسټ (۳ هزار کتب)

ناشر

وحيدي کتبخانه

ميونسپل پلازه قصه خواني بازار پشاور

قاري سفر محمد (شيرزاد)

اولے حصے

د تعلیم الاسلام د مضامینو فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

د تعلیم الاسلام

رومبئ حصّه

س: مسلمان چا ته وائی؟

ج: د اسلام منونکی، د اسلام پیرو، غاړه کیښودونکی فرمانبردار د شریعت په احکامو عمل کونکی ته مسلمان وائی۔

س۔ ته څوک یې؟

ج۔ مسلمان۔

س۔ د مسلمانانو د مذهب (دین) څه نوم دے؟

ج۔ اسلام۔

س۔ اسلام څه بنائی؟

ج۔ اسلام دا بنائی، چه الله یو دے۔ د بندګئ لائق بس هغه دے۔ او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ بنده او رسول دے۔ او قرآن مجید

دے الله تعالیٰ کتاب دے۔ اسلام ریښتینے مذهب (دین) او اسلام د دُنیا ټولے د خیر او نیکئ خبرے ښائی۔

س۔ د اسلام کلمه څه ده؟

ج۔ د اسلام کلمه دا ده۔ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ۔ (ترجمه) د الله نه سِوا بل څوك د عبادت لائق نشته۔ او محمّد صلعم د الله رسول دے۔ دے کلمے ته کلمۂ طیبّه او کلمه توحید هم وائی۔

س۔ د شهادت کلمه څه ده؟

ج۔ د شهادت کلمه دا ده۔ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط (ترجمه) زه گواهی کوم، چه د الله نه سِوا بل معبود نشته۔ او گواهی کوم چه محمّد صلعم د الله بنده او دهغه رسول دے۔

س۔ ایمان مجمل څه ته وائی۔

ج۔ ایمان مجمل دے ته وائی۔ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَآئِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ ط

ترجمه: مایه الله ایمان راوړے دے۔ څنګه چه هغه

خپلو نومونو او صفتونو سره دے۔ او د هغه ټول حکمونه م قبول کړی دی۔

س۔ ایمان مفصل څه ته وائی؟

ج۔ ایمان مفصل دا دے۔ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ -

ترجمه۔ ما په الله، د هغه په ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، د قیامت په ورځ او په دے چه ښه او بد تقدیر د الله تعالیٰ د طرفه دی۔ او د مرګ نه پس په ژوندی کیدو م ایمان راوړے دے۔

س۔ تاسو چا پیدا کړی یئ؟

ج۔ مونږ، ټولو، مور و پلار، اسمانونه، مزکے او ټول مخلوق الله تعالیٰ پیدا کړی دی۔

س۔ الله تعالیٰ دُنیا څه شی نه پیدا کړے ده؟

ج۔ خپل قدرت او حُکم سره ئے پیدا کړے ده۔

س۔ کوم خلق چه خدائے نه منی هغوی ته څهٔ وائی؟

ج۔ کوم خلق چه الله تعالیٰ نه منی۔ هغوئ ته کافر

س۔ کوم خلق چه د الله تعالیٰ نه سِوا د نورو څیزنو عبادت کوی، لکه هندوان، چه د بُتانو عبادت کوی دوئ ته څه وائی ج۔ هغوی ته کافر او مشرک وئیلے شی۔

س۔ کوم خلق چه دوه درے خدایان منی، لکه عیسایان لکه عیسایان چه درے خدایان منی هغوئ ته څه وائی؟

ج۔ هغوئ ته هم کافر او مشرك وئیلے شی۔

س۔ مشرك به بښلے شی؟

ج۔ د مشرکانو بښنه نشته۔ هغوئ به همیشه تکلیف او عذاب کښې وی۔

س۔حضرت محمّد صلعم څوك وو؟

ج حضرت محمد صلعم د الله تعالیٰ بنده، او د هغه رسول او پیغمبر وو. مونږ د هغه اُمت کښې یو۔

س۔ څونږ پیغمبر حضرت محمدؐ کوم ځائے پیدا شوے وو؟

ج۔ د عربو ملك د مکے معظمے ښار کښې پیدا شوے وو۔

د نبی صلعم د پلار او نیکه څه نوم‌ونه وو؟

د پلار نوم ئے عبد الله او د نیکه نوم ئے عبد المطلب وو۔

س۔ څومره پیغمبر صلعم مرتبه کښې د نورو پیغمبرانو نه لوئے دے یا وړوکے؟

ج۔ حضور پیغمبر صلعم مرتبه کښې د ټولو پیغمبرانو نه لوئے، او د الله تعالیٰ د ټول مخلوق نه زیات بزرګ دے۔

س۔ حضرت محمّد صلعم زیات عمر کوم ځائے تیر کړے وو

ج۔ د ترپنځوس ۵۳ کالو پورې مکه معظمه کښې اوسیدلے وو بیا د الله تعالیٰ د حکم سره مدینے منورې ته ئے تشریف یوړلو۔ لس کاله هلته وو. بیا د درشیته کالو عمر کښې وفات شو۔

س۔ څوک چه حضرت محمدؐ نه منی. هغه څنګه دے؟

ج۔ څوک چه حضرت محمّد صلعم د الله رسول نه منی، هغه هم کافر دے۔

س۔ د حضرت محمد صلعم د منلو څه مطلب دے؟

ج۔ د نبی صلعم د منلو دا مطلب دے، چه د الله رالیږلے شوے پیغمبر ئے اوګڼړی. د الله نه پس ئے د ټول مخلوق نه افضل اوګڼړی، محبت ورسره کوی او د حکمونو تابعداری ئے کوی۔

س۔ څنګه معلومه شوه چه حضرت محمد صلعم د الله تعالیٰ پیغمبر دے؟

ج۔ هغوی د ډیرے نیک کارونه اوکړل. او ډیرے خبرے ئے وښودلے، چه پیغمبرانو نه سوا نور څوک ئے نشی ښودلے۔

س۔ دا څنګه معلومه شوه، چه قرآن مجید د الله تعالیٰ کتاب دے؟

ج۔ حضرت محمد مصطفیٰ صلعم اوفرمائیل. قرآن مجید د الله تعالیٰ کتاب دے۔ الله په ما نازل کړے دے۔

س۔ قرآن مجید په نبی صلعم ټول په یو ځل نازل شو، یا لږ لږ؟

ج۔ لږ لږ نازل شو، کله یو آیت کله دوه. څلور آیتونه کله یو سورة. څنګه به چه ضرورت شو۔ هغسے به نازلیدلو۔

س۔ څومره موده کښی ټول قرآن نازل شو؟

ج۔ د ۲۳ ویشت کالو کښی۔

س۔ قرآن مجید به څنګه نازلیدلو؟

ج۔ جبرائیل به راغے. نبی علیه السلام ته به ئے یو آیت

یا سورة آورولو۔ نبی صلعم به هغه یاد ولو۔ بیا به
ئے چا لیکو نکی باندِ لیکلو۔

س۔ نبی صلعم خپله ولے نه لیکلو؟
ج۔ ځکه چه نبی صلعم خپله اُمّی وو۔

س۔ اُمّی چا ته ویلے شی؟
ج۔ چه چا نه ئے لیک لوست نه وی زده کړے، هغه ته اُمّی وائی۔ اگرکه حضور صلعم د دنیا کښی چا نه علم نه وو زده کړے۔ لیکن الله تعالیٰ ورته د تمام مخلوق نه زیات علم ورکړے وو۔

س۔ حضرت جبرائیل علیه السلام څوك دے؟
ج۔ یوه ملائکه ده۔ چه د الله تعالیٰ احکام به ئے پیغمبرانو ته راوړل۔

س۔ مسلمانان د الله تعالیٰ بنده گی څنګه کوی؟
ج۔ مونځ کوی، روژے نیسی، د مال زکوٰة ورکوی او حج کوی۔

س۔ مونځ څه ته وائی؟
ج۔ مونځ د الله تعالیٰ د عبادت او بندګئ کولو یوه خاص طریقه ده۔ چه الله تعالیٰ قرآن مجید کښی او د رسول

الله صلعم حدیثونوکښې مسلمانانو ته ښودلې دی۔

س۔ د بند ګئ هغه طریقه څه ده، چه هغې ته مونځ وائي؟

ج۔ کور یا مسجد کښې د الله تعالیٰ مخکښې لاس تړلو سره او دریږی۔ او قرآن شریف لولی۔ د الله تعالیٰ تعریفونه بیانوی۔ د هغه بزرګی او تعظیم کوی۔ د هغه مخکښې ښکته کیږی۔ او په مزکه سر ایښودو سره د هغه لوئ او خپله عاجزی او ذلت ظاهروی۔

س۔ جومات کښې مونځ کولو سره سړے د الله تعالیٰ مخ ته وی۔ یا کور کښې؟

ج۔ الله تعالیٰ هر ځائے کښې مخې ته دے۔ خواه جومات کښې مونځ کوی، یا کور کښې۔ لیکن جومات کښې د مونځ کولو ثواب ډیر زیات دے۔

س۔ د مونځ نه مخکښې لاس، مخ، او پښې وینزے دے ته څهٔ وائي؟

ج۔ دے ته اودس وائي۔ بغیر د اودس نه مونځ نه کیږی۔

س۔ مونځ کښې کوم طرف ته مخ کولو سره او دریدل پکار دی؟

ج۔ مغرب (نمر پریوتو) طرف۔

س۔ مغرب ته د مخ کولو حکم ولے شوے دے؟

ج۔ مکه معظمه کښې د الله تعالیٰ یو کور دے. چه هغې ته کعبه وائي۔ هغې طرف، ته مانځه کښې مخ کول ضروري دي، او هغه ځمونږ د ښارونو نه مغرب طرف ته ده ځکه مغرب طرف ته مخ کولو سره مونځ کوي۔

س۔ قبله څه ته وائي؟

ج۔ کوم طرف چه مخ کولو سره مونځ کوئ. هغې ته قبله وائي۔

س۔ څو مونځونه فرض دي؟

ج۔ شپه او ورځ کښې پنځه مونځونه فرض دي۔

س۔ د پنځو مونځونو څه نومونه دي؟

ج ۔ اول د سحر مونځ چه سحر وخت کښې د نمر ختلو نه مخکښې کیږي۔ دویم د ماسپخین مونځ چه د غرمے د نمر اوړیدو (زوال کیدو) نه پس کیږي۔ دریم د مازیګر مونځ چه د نمر پریوتلو نه دوه یا یوه نیمه ګهنټه مخکښې کولے شي۔ څلورم د ماښام مونځ چه د ماښام د نمر پریوتلو نه پس کیږي. پنځم. د ماسختن مونځ چه یوه نیمه ګهنټه شپے راتلو باندې کیږي۔

س۔ اذان (بانګ) څه ته وائي؟

ج۔ هر کله چه د مونځ وخت شي. نو د مانځه نه مخکښې یو سړے اودریږي، او په زوره دا الفاظ وائي: اَللّٰهُ اکبر څلور ځله۔ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔ دوه ځله (ترجمه) الله پاك ډیر لوئے دے۔ زه ګواهي کوم چه د الله نه سِوا بل معبود نشته اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط. دوه ځله. حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ دوه ځله۔ مانځه له راځئ۔ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ۔ دوه ځله۔ خلاصی ته راځئ۔ اَللّٰهُ اَكْبَرُ دوه ځله۔ الله د ټولو نه لوئے دے۔ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ یو ځله۔ د الله نه سِوا هیڅوك د عبادت لائق نشته۔ دے لفظونو ته اذان وائي۔

د سحر اذان کښې د حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ نه پس. اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ (مونځ د خوب نه بهتر دے. هم دوه ځله ویلے شي۔

س۔ اقامت (تکبیر) څه ته وائي ؟

ج۔ هر کله چه مونځ د پاره اودریږي. نو د مانځه د شروع کولو نه مخکښې یو سړے هغه کلمے وائي کومے چه اذان کښې ویلے شي۔ دے ته اقامت (تکبیر) وائي.

تکبیر کښې د حَیَّ عَلَی الْفَلَاح نه پس قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوۃُ
دوه ځلې د اذان د کلمو سره زیاتے وئیلے شی.

س۔ کوم سړے چه اذان یا تکبیر کوی. هغه ته څه وائی؟
ج۔ کوم سړے چه اذان کوی، هغه ته مؤذن او کوم
چه تکبیر کوی، هغه ته مکبّر وائی۔

س۔ ډیر خلق جمع کیدو سره مونځ کوی. دے کښې هغے
مونځ ته. مونځ ورکونکی ته. او مونځ کونکو ته
څه وائی؟

ج۔ ډیر خلق جمع کیدو سره چه مونځ کوی هغے ته
د جماعت مونځ وائی. مونځ ورکونکی ته امام
او د هغه پسے مونځ کونکو ته مقتدیان وائی۔

س۔ ځان ته مونځ کونکی ته څه وائی؟

ج۔ ځان له مونځ کونکی ته منفرد وائی۔

س۔ کوم مکان چه خاص د مونځ کولو د پاره جوړیږی۔
او هغے کښې جماعت سره مونځ کیږی. هغے ته څه وائی؟

ج۔ هغے ته جومات وائی۔

س۔ جومات ته تلو سره څه کول پکار دی؟

ج۔ جومات کښې د مونځ کوی. قرآن شریف هم لولی۔

یا بله څه وظیفه دِ کوی. یا ادب سره دِ چپ ناست وی. جو مات کښې لوبے کول، تو پو نه وهل شور کول بد کار خبره ده.

س. د مونځ کولو نه څه فایدے دی؟

ج. مونځ کولو کښې ډیرے فایدے دی. لږ شان درته بنایو.

(۱) د مونځ گزار بدن، کپړے پاکے صافے او ستهره وی.

(۲) مونځ گزار نه الله تعالیٰ راضی او خوشحاله وی.

(۳) حضرت محمد صلعم د مونځ گزار نه راضی او خوشحاله وی.

(۴) مونځ گزار الله تعالیٰ ته نزدے وی.

(۵) د مونځ گزار دُنیا کښې هم نیک خلق عزت کوی.

(۶) مونځ گزار د ډیرو گناهونو نه بچ کیږی.

(۷) الله تعالیٰ مونځ گزار د مرګ نه پس آرام سره ساتی.

س. مونځ کښې چه څه لوستے شی. د هغے ټول نومونه او عبارتونه څه څه دی؟

ج. د مونځ شروع کولو نه آخره پورے چه څه لوستے

د هغې نومونه او الفاظ دا دی:

تکبیر۔ ثناء۔ تعوذ۔ تسمیه۔ سورهٔ فاتحه۔

تکبیر: اَللّٰهُ اَکْبَرُ۔ الله ډیر لوئے دے۔

ثناء: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰی جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ ط۔

ترجمه۔ اے الله مونږ ستا د پاکی اقرار کوو، ستا تعریف بیانوو۔ او ستا نوم ډیر برکت ناك دے۔ او ستا بزرګی ډیره اعلیٰ ده۔ او ستا نه سِوا بل څوك د عبادت لائق نشته۔

تعوذ: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط

ترجمه: د شیطان رټلی شوے نه د الله پناه غوارم.

تسمیه: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

ترجمه: د الله نوم سره شروع کوم چه ډیر مهربانه نهایت رحم والا دے۔

سورهٔ فاتحه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ هر قِسم تعریفونه الله لره بنائی چه اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ د تمامو جهانونو مالك دے ډیر مهربانه او رحم والا دے۔ د جزا د ورځې

نَسْتَعِيْنُ ۝ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝ آمین۔

واکداړدے۔ اے الله مونږ ستا عبادت کوو، او تا نه مدد غواړو مونږ په سمه لاره روان کړے، دداسے خلقو په لاره چه تا پرے انعام کړے دے نه دهغو په لاره چه ستا غضب پرے نازل شوے دے۔ او نه دګمراهانو په لاره۔

سورة کوثر

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۝

اے نبی مونږ تا ته کوثر درکړے دے۔ نو ته خپل رب ته مونځ کوه. او قربانی کوه. بیشکه ستا دښمن بے نومه بے نشانه دے۔

سورة اخلاص

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝

او وایه چه الله یو دے۔ هغه بے نیازه دے۔ نه دهغه نه څوک پیدا دے، او نه هغه دچا نه پیدا دے۔ او هیڅوک دهغه سیال نشته۔

سورة فلق

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۝

اووایه اے نبی! زه دصباد رب نه

مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ وَمِنْ شَرِّ پناه غواړم. د مخلوق د شر نه.
غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ وَمِنْ او د تیارې د شر نه. هر کله چه
شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الْعُقَدِ ۙ خوره شی، او په غوټو د دم
وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۟ کونکو د شر نه. او د حسد کونکو
نه هر کله چه په حسد کولو راشی.

سورة النّاس

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ اے نبی دعا کښې داسے وایه! زه
مَلِكِ النَّاسِ ۙ اِلٰهِ النَّاسِ ۙ د بنیادمو د رب نه پناه اخلم. د
مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۟ بنیادمو د بادشاه. د بنیادمو د
الْخَنَّاسِ ۙ الَّذِیْ یُوَسْوِسُ معبود پناه اخلم. د هغې وسوسه
فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۙ مِنَ غورځونکی په وروستو کیدونکی
الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۟ د شر نه چه د خلقو زړونو کښې
وسوسه غورځوی. د پیریانو نه وی، یا د بنیادمو نه.

رکوع. قومه. تحمید. سجده

د رکوع تسبیح

سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ ط. د خپل رب پاکی بیانوم.

قومه

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ط. الله واوریده چا چه د هغه تعریف اوکه

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ط　　اے ربه ځمونږ. تا لره ثنا ده۔

د سجدے تسبیح

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى۔　　د خپل اعلیٰ پروردګار پاکی بیانوم

تشهد

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوٰتُ　　ټول قولی فعلی او مالی عبادتونه
وَ الطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ　　الله دَپاره دی. اے نبیؐ په تاسو
اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ　　دِ سلام او د الله رحمت او
وَبَرَكَاتُهٗ ط اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا　　برکتونه وی. سلام دِ وی په
وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ　　مونږ او د الله په نیکو بندګانو۔
اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا　　زه ګواهی کوم چه الله نه سِوا
اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا　　بل معبود نشته. او ګواهی کوم چه
عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط　　محمدؐ د هغه بنده او رسول دے.

دُرود شریف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى　　اے الله په محمدؐ او د هغویؐ په آل
اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى　　رحمت نازل کړے. څنګه چه تا

اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ ابراهیم او د هغوی په آل رحمت
اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ط نازل کړو، بیشکه ته تعریف لائق یې
اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اے الله په محمد او د هغوی
عَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰی په آل برکت نازل کړے څنګه چه
اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ تا ابراهیم او د هغوی په آل
اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ط برکت نازل کړو. بیشکه ته د
تعریف لائق یې- او د لوئے بزرګۍ خاوند یې۔

دعا

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا اے الله! ما په خپل نفس ډیر ظلم
كَثِیْرًا وَّ اِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ کړے دے. او بیشکه ستا نه سوا بل
اِلَّا اَنْتَ فَاغْفِرْ لِیْ مَغْفِرَةً خوك ګناهونه نشی بښلے- پس ته د
مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِیْ اِنَّكَ خپل طرف نه ما ته خاص بخښنه اوکړه
اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ۔ او په ما رحم اوکړه بیشکه ته بخښنے
والا او رحم والا یې۔

سلام

اَلسَّلَامُ عَلَیْكُمْ وَرَحْمَةُ په تاسو دے سلام او د الله
اللّٰهِ رحمت وی۔

د مونځ نه پس دعا

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ اے الله ته سلامتی ورکونکے یې

اَلسَّلَامُ تَبَارَکْتَ یَاذَالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ ط
او ستا د طرف سلامتي ده ته ډیره برکت لوئي او بزرګي خاوند یې۔

دعائے قنوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَ نَتَوَكَّلُ عَلَیْكَ وَنُثْنِیْ عَلَیْكَ الْخَیْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَ نَخْلَعُ وَ نَتْرُكُ مَنْ یَّفْجُرُكَ اَللّٰهُمَّ اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّیْ وَنَسْجُدُ وَ اِلَیْكَ نَسْعٰی وَنَحْفِدُ وَ نَرْجُوْا رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰی عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ط

اے الله مونږ تا نه مدد او بښنه غواړو، په تا ایمان راوړو. په تا توکل لرو. او ستا بهتر تعریف کوو. ستا شکر اداء کوو او ناشکري دے نه کوو، او څوك چه ستا نافرماني کوي، هغه پریږدو. اے الله مونږ خاص ستا عبادت او تا لره مونځ او سجده کوو. او تا پله درزغلو او ستا د رحمت امید لرو. او ستا د عذاب نه ویریږو. بیشکه ستا عذاب کفارو ته رسیدونکے دے۔

د اودس کولو طریقه

س۔ اودس څنګه کول پکار دی؟

ج۔ پاک لوبنی کښې پاکې اوبه واخلئ. پاک او صاف ځائې باندې اوچت کینی، قبلې ته مخ کول غوره دی لستونړی څنګلو پورې اوچت کړی. بیا به بسم الله اووائی. او درې ځله ګټو پورې دواړه لاسونه اووینځی. بیا درې ځله خُله کنګاله کړی. که مسواک نه وی، نو مسواک ګُتې سره غاښونه اومږی. بیا درې ځله پوزه کښې اوبه واچوی. د ګس لاس ټچې ګُتې سره پوزه صفا کړی. بیا درې ځله مخ اووینځی. په مخ به رو اوبه اچوئ. د تندی د ویښتو نه د زنې لاندې پورې اووینځئ د دواړو غوږونو پورې مخ وینځل پکار دی. بیا څنګلو سره دواړه لاسونه اووینځی. بیا ښی لاس درې ځله، بیا ګس لاس درې ځله وینځل پکار دی بیا لاسونه اوبو سره لامده کړئ او د سر مسح اوکړی بیا درې ځله دواړه پښې ګټو پورې اول ښئ بیا ګسه خپه وینځل پکار دی.

د موځ کولو طریقه

س۔ د مونځ کولو څه طریقه ده ؟ د مانځه طریقه د ده چه
ج ۔ اول س به اوکړی پاکے جامے به واغوندی پاك
ځائے باندِ قبلے ته مخ کولو سره اودریږی. د مانځه
نیت اوکړی. لاسونه غوږونو ته اوچت کړی
اللهُ اَکْبَرُ او وائی۔ او لاسونه د نامه نه لاندِ اوتړی
داسے چه ښے لاس د کس لاس د پاسه وی۔ او
اَدب سره اودریږی۔ الله تعالیٰ طرف ته خیال کولو
سره لاسونه به اوتړی۔ ثناء (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ۔ بیا به
بسم الله او وائی۔ بیا به اَلْحَمْدُ او لولی۔ بیا چه کوم
سورة ورته یاد وی هغه به او لولی۔ بیا به رکوع اوکړی۔
رکوع کښی د واړو لاسونو سره ګونډے اونیسی۔ د
رکوع تسبیح درے یا پنځه ځله اولولی۔ بیا تسمیع ویلو
سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَہٗ سره نیغ اودریږی۔ تحمید
رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ هم اولولی۔ او د اللهُ اَکْبَرُ ویلو سره
سجدے ته داسے لاړشی چه مخکښی د واړه ګونډے په
مزکه کیږدی. بیا د دواړو لاسونو مینځ کښی اول پوزه
بیا تندے په مزکه کیږدی۔ د سجدے تسبیح درے
یا پنځه ځله اولولی. بیا د تکبیر ویلو سره به پاسی

نیغ کیني. بیا د تکبیر و یلو سره به دویمه سجده هم هغسې اوکړي، بیا د تکبیر ویلو سره او دریږي د سجدې پورې یو رکعت پوره شو. اوس دویم رکعت شروع شو. بِسمِ الله او اَلْحَمْدُ شریف اولولي او یو سورة ورسره یو ځائې کړي. بیا رکوع. قومه دواړه سجدې وکولو سره کیني. مخکښې تشهد، بیا دُرود شریف او دُعا اولولي. د هغې نه پس اول ښي طرف ته بیا کس طرف ته سلام اوګرځوي. د سلام ګرځولو په وخت ښي او کس طرف ته مخ تاوُکړي. دا دوه رکعته مونځ پوره شو. اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ الخ او وائي دُعا به اوغواړي. لاسونه به په مخ را کاږي.

س- د دواړو سجدو مینځ کښې او تشهد لوستلو حالت کښې څنګه کیناستل پکار دي؟

ج- ښئ پښه او دروئ چه د هغې ګوتې قبلې طرف ته وي. او کسه پښه خوره کړئ په هغې کیني د ناستې حالت کښې دواړه لاسونه په زنګونو کیښودل پکار دي.

س د امام منفرد او مقتدي مونځ کښې څه فرق شته، که نه؟

ج۔ هو! د امام منفرد او مقتدی مونځ کښی لږ فرق شته۔ او هغه دا چه امام په ومبنی رکعت کښی ثنا نه پس اعوذ بالله او بسم الله لوستلو سره الحمد شریف او سورت لولی۔ او دویم رکعت کښی بسم الله او اَلْحَمْدُ شریف او سورة لولی۔ خو مقتدی ته صرف په ومبنی رکعت کښی ثنا لوستلو سره د واړه رکعتونو کښی چپ اودریدل پکار دی۔

دویم فرق دا دے۔ چه د رکوع نه پورته کیدو وخت امام او منفرد سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ وائی او منفرد تسبیح سره تحمید هم وئیلے شی۔ خو مقتدی ته صرف رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وئیل پکار دی۔

س۔ که مونځ درے یا څلور رکعاته وی۔ نو څنګه به کیږی؟

ج۔ دوه رکعته خو به هغے قاعدے سره کوی۔ کوم چه پورته بیان شوه۔ خو قعده کښی د التحیات او تشهد نه پس به دُرود شریف نه لولی۔ بلکه د اَللّٰهُ اَکْبَرُ وئیلو سره به اودریږی۔ بیا که مونځ واجب، سنّت یا نفل وی۔ نو دوه رکعاته دے د ومبنو دوه رکعاتو

په شان اوکړی. او که مونځ فرض وی. نو دریم او څلورم رکعت کښې دے اَلحَمدُ شریف نه پس سورة نه لولی. باقی ټول به هغسے کوی. څنګه چه ړومبی دوه رکعاته ئے کړے وی.

س. د سنّت یا نفل مونځ درے رکعته هم وی، که نه ؟

ج. سنّت یا نفل مونځ کښې درے رکعاته نه وی. دوه یا څلور رکعاته کولے شی.

س. د رکوع کولو صحیح طریقه څه دَه ؟

ج. رکوع داسے کول پکار دی. چه ملا او سر برابر وی. سر نه د ملا نه اوچت وی، نه ښکته. دواړه لاسونه دے د ګونډو نه جُدا وی او ګونډے دے لاسونو سره مضبوطے نیسی.


س. د سجدے کولو صحیح طریقه څه دَه ؟

ج. سجده داسے کول پکار دی. چه د لاسونو بنجے په مزکه وی. او مرووندونه او څنګلے د مزکے نه اوچتوی او خیټه د ورنو نه جُدا وی. او دواړه لاسونه د ګونډو نه جُدا وی.



د مونځ نه پس وظیفه

س ـ د مانځه نه پس په کوتو شمیرلو سره څه وائی ؟
ج ـ سُبْحَانَ اللّٰهِ ۳۳ ځله ـ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۳۳ ځله ـ او اَللّٰهُ اَکْبَرُ ۳۴ ځله ـ لوستلو سره ډیر لوئے ثواب دے ـ



د تعلیم الاسلام اوله حصّه ختم شوه

وحیدی کُتب خانه

ناظمِ مکتبه
عبدالوهاب

تعلیم الاسلام

دویمه حصّه

تعلیم الایمان یا اسلامی عقائد

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

س۔ د اسلام بنیاد په کومو څیزونو دے؟

ج۔ د اسلام بنیاد په پنځو څیزونو دے۔

س۔ هغه پنځه څیزونه کوم کوم دی۔ چه په هغے د اسلام بنیاد دے؟

ج۔ هغه پنځه څیزونه دا دی۔ کلمهٔ طیّبه زړه سره منه او ژبے سره اقرار کول (۲) مونځ۔ (۳) روژه (۴) زکوٰة (۵) حج۔

س۔ کلمهٔ طیّبه کومه ده، او د هغے معنیٰ څه ده؟

ج۔ کلمهٔ طیبه دا ده: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه د دے معنیٰ دا ده۔ چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک

د عبادت لائق نشته او حضرت محمّد صلّی الله علیه وسلم
د الله رالیږلے شوے رسول دے

س۔ کلمهٔ شهادت کومه ده۔ او د دے څه معنی ده؟
ج۔ کلمهٔ شهادت دا ده: اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ
وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط
معنی ئے دا ده: زۀ گواهی کوم، چه د الله نه سِوا
بل څوک د عبادت لائق نشته۔ او گواهی کوم چه
حضرت محمّد صلعم د الله بنده او رسول دے۔

س۔ آیا بغیر د معنی او مطلب پوهیدو صرف ژبے سره
د کلمے لوستلو سره سړے مسلمانیدے شی؟
ج نه بلکه په معنی پوهیدو سره په زړهٔ کښی یقین کول
او په ژبه اقرار کول ضروری دی۔

س۔ زړهٔ کښی یقین او ژبے سره اقرار کولو ته څه وائی؟
ج۔ دے ته ایمان راوړل وائی۔

س۔ گونگا سړے ژبے سره اقرار نشی کولے، نو د هغه
ایمان راوړل به څنګه معلومیږی؟
ج۔ د قدرتی مجبورئ په وجه هغه د پاره اشاره کول
به کافی گڼړلے شی۔ هغه د اشارے سره دا ظاهره کړی

چه الله تعالیٰ یو دے۔ او حضرت محمّد صلعم د الله تعالیٰ پیغمبر دے۔

س۔ د مسلمان په کومو څیزونو ایمان راوړل ضروری دی؟

په اوو څیزونو چه د هغې ذکر ایمان مفصل کښې دے۔ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِکَتِهٖ وَ کُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَیْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰی وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ ط

معنیٰ ئے دا ده: ما په الله، د هغه په ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو (پیغمبرانو) او د قیامت په ورځ ایمان راوړلو۔ او په دے خبره چه د نیا کښې څه خیر او شر کیږی۔ ټول تقدیر سره کیږی۔ او په دے خبره چه د مرګ نه پس بیا ژوندی کیدل دی۔

الله تعالیٰ باندِ د مسلمانانو عقیدے

س۔ په الله تعالیٰ د مسلمانانو څه عقیدے ساتل پکار دی؟

ج۔ (۱) دا چه الله تعالیٰ یو دے (۲) هغه د عبادت او

بندہ گئی لائق دے۔ او د هغه نه سِوا بل څوك د عبادت لائق نشته. (۳) د هغه څوك شريك نشته (۴) هغه په هره خبره پوهه دے. هيڅ څیز ترِ پټ نه دے (۵) هغه د لوئے طاقت او قدرت خاوند دے (۶) هغه مزکه اسمان، سپوږمئ، نمر، ستوری، ملائکے، انسانان، پيريان غرض ټول جهان پيدا کړے دے. او هغه د تمامے دُنيا مالك دے (۷) هغه وژل او ژوندی کول کوی. د مخلوق ژوند او مرګ د هغه حکم سره کیږی (۸) د ټول مخلوق روزی رسان دے (۹) هغه نه خوری، نه څکی نه اوده کیږی (۱۰) هغه همیشه دے او همیشه به وی (۱۱) هغه چا نه دے پيدا کړے (۱۲) د هغه نه پلار شته نه څوئے، نه لور، نه ښځه، نه ئے چا سره رشته شته هغه د تمامو تعلقاتو نه پاك دے (۱۳) ټول د هغه محتاج دی. هغه د چا محتاج نه دے. او هغه هيڅ حاجت نه لری (۱۴) بے مثله دے، هيڅ څیز د هغه مشابه د هغه په شان نشته (۱۵) هغه د ټولو عيبونو نه پاك دے (۱۶) د مخلوق په شان لاس، پښو، پوزے، غوږونو، شکل او صورت نه پاك دے (۱۷) هغه ملائکے پيدا کړے. د دُنيا انتظام او خاص خاص کارونو باندِ مقرر کړے (۱۸) هغه د خپل

مخلوق د هدایت د پارهٔ پیغمبران را ولیږل چه خلقو ته سپېڅلي مذهب او ښې خبرې او ښائی او د بدو خبرو نه ئې منع کړي۔

د ملائکو بیان

س۔ ملائکې څوک دي؟

ج۔ ملائکې د الله تعالیٰ مخلوق دے۔ نور نه پیدا شوې دي۔ څمونږ د نظر نه غائب دي۔ نه سړي دي نه ښځې۔ د الله نافرمانی او ګناه نه کوي۔ په کومو کارونو چه الله تعالیٰ مقرر کړي دي هغې کښې مشغولې دي۔

س۔ ملائکې څومره دي؟

ج۔ د ملائکو تعداد د الله تعالیٰ نه سوا بل چا ته نه دے معلوم۔ هو! دومره معلومه ده چه ملائکې ډیرې دي هغوئ کښې څلور ملائکې مقربې او مشهورې دي۔

س۔ مقرب او مشهور څلور ملائکې کومې دي؟

ج۔ اول: حضرت جبرائیل علیه السلام چه د الله کتابونه احکام او پیغامونه ئې پیغمبرانو ته راوړل۔ دویم: حضرت اسرافیلؑ چه د قیامت په ورځ به شپیلئ پوکی دریم: حضرت میکائیلؑ چه د بارانِ کولو انتظام او مخلوق ته روزی رسولو باندې مقرر دے۔ څلورم: حضرت

عزرائیلؑ چہ د مخلوق ساہ (روح) اوبنکلو باندِ مقرر دے

د اللہ تعالیٰ کتابونہ

س۔ د اللہ تعالیٰ څومرہ کتابونہ دی؟

ج۔ د اللہ تعالیٰ وارہ لوئے کتابونہ پہ پیغمبرانو نازل شوے (کتابونہ کتاب) خولویو او ورو کتابونو تہ (ویرزاپاتے) صحیفی وائی۔ څلور کتابونہ مشهور دی۔

س۔ څلور مشهور آسمانی کتابونہ کوم کوم دی۔ او پہ کومو کومو پیغمبرانو نازل شوے دی؟

ج۔ تورات پہ حضرت موسیٰؑ نازل شو (۲) زبور پہ حضرت داؤدؑ نازل شو ۔(۳) انجیل پہ حضرت عیسیٰؑ نازل شوے (۴) قرآن مجید څمونږ پہ پیغمبر حضرت محمد صلعم باندِ نازل شوے دے۔

س۔ صحیفے څومرہ دی۔ او پہ کومو کومو پیغمبرانو نازلے شوے دی؟

ج۔ د صحیفو تعداد معلوم نہ دے۔ هو! څہ صحیفے پہ حضرت آدمؑ څہ پہ حضرت شیثؑ او څہ پہ حضرت ابراهیمؑ نازلے شوے دی۔ دے نہ علاوہ نورے هم صحیفے شتہ چہ بعضے

نورو پیغمبرانو باندِ نازل شوے دی۔

دالله تعالیٰ رسولان (پیغمبران) علیهم السلام

س۔ رسولان څوک دی؟

ج۔ رسولان دالله تعالیٰ بندیان او انسانان دی۔ الله تعالیٰ هغوئ خپلو بندیانو ته د خپلو احکامو رسولو دپاره مقرر کړي وو هغوی رښتینی وی هیڅ کله دروغ نه وائی گناه نه کوی۔ د الله تعالیٰ د حکم سره معجزے ښائی دالله تعالیٰ پیغامونه پوره پوره خلقو ته رسوی۔ هغی کښی کمے زیلتے نه کوی۔ نه څه پیغام پټوی۔

س۔ د نبی څه معنیٰ ده؟

ج۔ د نبی هم د غه معنیٰ ده۔ دالله تعالیٰ بندیان او انسانان وی۔ دالله تعالیٰ احکام بندیانو ته رسوی۔ رښتینی وی۔ دروغ نه وائی گناه نه کوی۔ دالله تعالیٰ په حکمونو کښی کمے زیلتے نه کوی۔ هیڅ حکم نه پټوی۔

س۔ نبی او رسول کښی څه فرق دے۔ یا د دواړو یو معنیٰ ده؟

ج۔ نبی او رسول کښی لږ شان فرق دے۔ هغه داچه رسول هغې پیغمبر ته وائی چه هغه ته نوے شریعت

اوکتاب ورکړے شوے وی۔ او بنی هغے پیغمبر ته وئیلے شی۔ خو انوے شریعت او کتاب ورکړے شوے وی یا نه وی ورکړے شوی بلکه هغه د وړومبی شریعت او کتاب تابع وی۔

س۔ آیا خپل کوشش او عبادت سره څوک سړے نبی جوړیدے شی؟

ج۔ نه بلکه الله تعالیٰ چه څوک غواړی نبی جوړ وی مطلب دا چه نبی او رسول جوړیدو کښی د سړی کوشش او ارادے له دخل نشته۔ دا مرتبه د الله د طرف نه عطا کیږی۔

س رسولان او نبیان څومره دی؟

ج۔ دُنیا ته ډیر رسولان او نبیان راغلی دی۔ لیکن د هغوئ صحیح تعداد الله تعالیٰ ته معلوم دے۔ مونږ او تاسو له په دے خبره ایمان راوړل پکار دی۔ چه الله تعالیٰ څومره رسولان رالیږلی دی۔ مونږ هغه ټول برحق منو۔

س۔ د ټولو نه وړومبے پیغمبر څوک دے؟

ج۔ د ټولو نه وړومبے پیغمبر حضرت آدم علیه السلام دے۔

س۔ د ټولو نه آخری پیغمبر څوک دے؟

ج - [illegible] پیغمبر حضرت محمد مصطفیٰ صلعم دے.

س۔ د حضرت محمّد مصطفیٰ صلعم نه پس څوک پیغمبر راځی که نه ؟

ج۔ نه۔ ځکه چه پیغمبری او نبوت په حضرت محمدؐ ختم شو۔ هغوئؐ نه پس بیا د قیامته پورے هیڅ نوے نبی نه راځی۔ د هغوئؐ نه پس چه څوک د پیغمبری دعویٰ اوکړی هغه دروغجن دے۔

س۔ رسولانو کښی د ټولو نه افضل رسول کوم یو دے؟

ج۔ زمونږ پیغمبر حضرت محمد صلعم د تمامو نبیانو او رسولانو نه افضل او بزرګ دے۔ د الله تعالیٰ خو حضور صلعم بنده او تابعدار دے۔ هو! د الله پاک نه پس د حضور صلعم مرتبه د ټولو نه لویه ده۔

د قیامت بیان

س۔ د قیامت ورځ کومے ورځے ته وائی ؟

ج۔ د قیامت ورځ هغے ورځے ته وائی۔ په کومه ورځ چه به ټول سړی (خلق) او جاندار مړه شی۔ او ټوله دُنیا به فنا شی۔ غرونه به د مالوچو د پاغندُ په شان الوځی۔ ستوری به ماتیدو سره راوغورځیږی۔ غرض

هرڅیز به ماتید وسره فناه شي.

س- ټول خلق او ځناور به څنګه مړه شي؟

ج- حضرت اسرافیل به شپیلۍ پوک وهي. د هغې آواز به دومره ویرونکے او سخت وي. چه د هغې د صدمے نه به ټول مړه شي. او هر څیز به ماتید وسره فناه شي

س- قیامت به کله راځي؟

ج- قیامت راتلونکے دے. لیکن د هغې ټیک وخت د الله تعالیٰ نه سوا بل چا ته معلوم نه دے. دومره معلومه ده چه د جُمعے ورځ او د محرم لسلم تاریخ به وي. او ځینو پیغمبر صلعم د قیامت څه نښے ښودلے دي؟ هغه نښے لید وسره د قیامت قریب کیدل راتلے شي.

س د قیامت نښے څه دي؟

ج- حضور صلعم فرمائیلي دي. هر کله چه دُنیا کښې ګناهونه زیات شي. خلق د مور پلار نافرماني او به هغوئ سختۍ شروع کړي. امانت کښې خیانت کوي. ګانا بجانا او نایح رنګه زیات شي. او روستني خلق به مخکنو خلقو بد وئیل شروع کړي. بے علمه او کم علمه خلق پیشوایان جوړ شي. د کمے درجے او شپانه خلق به لوئے لوئے عمارتونه جوړ کړي. نالائقه خلقو ته به لوئے

لوئے عهد نه ور کړے شی. نو پوهه شئ چه قیامت
را نزدے شو.

د تقدیر بیان

س. تقدیر څه ته وائی؟
ج. هرے خبرے او بنه بد څیز د پاره د الله تعالیٰ علم
کښې یوه اندازه مقرر ده. او د هر څیز د پیدا کولو
نه مخکښې الله تعالیٰ په هغې بنه پوهیږی. د الله تعالیٰ
دے علم او اندازے ته تقدیر وائی. هیڅ
بنه یا بده خبره د الله تعالیٰ د علم او اندازے نه
بهر نه ده.

د مرګ نه پس ژوندی کیدل

س. د مرګ نه پس ژوندی کیدو نه څه مراد دے؟
ج. قیامت کښې به ټول څیزونه فنا شی. بیا به اسرافیل
دوباره شپیلئ اووهی. نو ټول څیزونه به موجود
شی. بیا به انسانان هم را ژوندی شی. د حشر
میدان کښې به د الله تعالیٰ مخکښې پیش شی. حساب
به اخستے شی. په کومه ورځ چه دا کار وی هغې

ورځے ته یوم الحشر (د جمع کیدو ورځ) یوم الجزا او یوم الدین (د بدلے ورځ) اود حساب ورځ وائی۔

س۔ ایمان مفصل کښی د کومو اوؤ خبرو ذکر دے که هغے کښی یوه یا د وه خبرے او نه منی۔ نو آیا مسلمان کیدے شی؟

ج۔ هیڅ کله نه۔ څو پورے چه د الله توحید د پیغمبرانو پیغمبری، د الله تعالیٰ کتابونه۔ د هغه ملائکے، د قیامت ورځ، تقدیر او مرګ نه پس ژوند او نه منی۔ هیڅ کله مسلمانیدے نشی۔

س۔ رسول الله صلعم پنځه څیزونه د اسلام بنیاد ښودلے دی۔ هغے کښی د ملائکو۔ د الله تعالیٰ، د کتابونو، د قیامت او تقدیر هیڅ ذکر نشته؟

ج۔ دے پنځه څیزونو کښی په حضرت محمد صلعم د ایمان راوړلو ذکر دے۔ او هر کله چه یو سړی په حضرت محمد صلعم ایمان راوړلو نو هغه له د حضور صلعم ښودلے شوے ټولے خبرے منل ضروری دی۔ او د الله تعالیٰ کتاب چه حضور صلعم راوړے دے۔ په هغے ایمان راوړل هم ضروری دی۔ دا ټولے خبرے چه د هغے ایمان مفصل کښی ذکر دے۔ د الله تعالیٰ

دکتاب قرآن مجید او پیغمبر صلعم د بیان نه ثابتے دی.

س- دد ے تهولو خبرو کله زړه سره یقین او ژبے سره دے اقرار او کړی. لیکن مونځ نه کوی. یا زکوٰة نه ورکوی. یا روژے نه نیسی. یا حج نه کوی نو هغه مسلمان دے که نه؟

او! مسلمان خو دے. لیکن سخت ګنهګار او د الله تعالیٰ نافرمان دے. دا سے سړی ته فاسق وائی. دا خلق د خپلو ګناهونو سزا اخوړلو سره اخوکښې به خلاصے بیا مومی.

تعلیم الارکان یا اسلامی اعمال

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

س- اسلامی اعمال نه څه مراد دے؟

ج- په کومو پنځه خیزونو چه د اسلام بنیاد دے. هغې کښې د ومبئ خبرے ته ایمان وائی. او د هغې بیان اسلامی عقائدو کښې تاسو لوستی دی. باقی څلور خیزونه مونځ روژه، زکوٰة، د بیت الله شریف حج ته اسلامی اعمال وائی. دے دویمه حصه کښې د مونځ بیان دے.

مونځ

س۔ مونځ څه ته وائي؟

ج۔ مونځ د الله تعالیٰ عبادت او د بندګئ کولو یوه خاصه طریقه ده۔ چه الله تعالیٰ او د هغه پیغمبر صلعم بندیانو ته ښودلے ده۔

س۔ د مونځ کولو نه مخکښ د کومو څیزونو ضرورت دے؟

ج۔ مونځ کولو نه مخکښ د اوه څیزونو ضرورت وی چه د هغې نه بغیر مونځ نه کیږی۔ دے څیزونو ته د مونځ شرائط او فرض وئیلے شی۔

س۔ هغه اوه څیزونه چه د مونځ نه مخکښ ضروری دی۔ څه څه دی؟

ج۔ اول د بدن پاکیدل۔(۲) د کپړے پاکیدل (۳) د ځائے پاکیدل (۴) ستر پټول (۵) د مونځ د وخت کیدل (۶) قبلے ته مخ کول (۷) نیت کول۔

د مونځ د مهمو شرط بیان

س۔ د بدن د پاکیدو نه څه مراد دے؟

ج۔ د بدن د پاکیدو نه دا مراد دے۔ چه بدن باندې

هیڅ قِسم نجاست نه وی۔
س۔ د نجاست څومره قسمونه دی؟
ج۔ د نجاست (ناپاکی) دوه قسمونه دی. یو حقیقی دویم حکمی۔
س۔ نجاست حقیقی څه ته وائی؟
ج هغه ظاهری ناپاکی چه لیدو کښی راشی. نجاست حقیقی دی۔ لکه واړه بول، لوئے بول، وینه، شراب۔
س۔ نجاست حکمیه څه ته وائی؟
ج۔ هغه ناپاکی چه د شریعت د حکم نه ثابته وی خو لیدو کښی نشی راتلے۔ لکه بے اودسه کیدل، د غُسل حاجته
س۔ مونځ د پاره د کوم نجاست نه د بدن پاکیدل شرط دے؟
ج۔ دواړه قِسمه نجاست نه د بدن پاکیدل ضروری دی
س۔ د نجاست حکمیه څومره قِسمونه دی؟
ج۔ دوه قِسمه دی۔ یو وړوکے نجاست حکمیه چه هغے ته حدث اصغر وائی۔ او دویم لوئے نجاست چه هغے ته نجاست حکمیه او جنابت (لویه بے اودسی) وائی
س وړوکی نجاست حکمیه نه د بدن د پاکیدو څه طریقه دی؟
ج۔ وړوکی نجاست حکمیه نه بدن اودس کولو سره

پاکیزی۔

داودس بیان

س۔ اودس څه ته وائي ؟

ج۔ اودس دے ته وائي۔ چه سړے د مونځ کولو اراده اوکړی۔ نو پاک لوښی کښې د اوبه واخلی۔ مخکښې د ے ده ږوندو پورے لاسونه اووینزی۔ بیا د درے ځله خُله کنګال کړی۔ مسواک د اوکړی۔ درے ځله دے پوزه کښې اوبه واچوی، او پوزه دے صفا کړی۔ بیا درے ځله دے مخ اووینزی۔ بیا څنګلو پورے د لاسونه اووینزی۔ بیا د سر او غوږونو مسح د اوکړی۔ بیا دواړه پښے د ګیټو پورے اووینزی۔ د اودس کولو طریقه د تعلیم الاسلام ړومبئ حصه کښې تیره شوے ده

س۔ اودس کښې آیا د اتولے خبرے ضروری دی ؟

ج۔ اودس کښې بعضے خبرے ضروری دی۔ چه د هغے په پریښودو سره اودس نه کیږی۔ هغے ته فرض وائي۔ او بعضے خبرے داسے دی۔ چه د هغے پاتے کیدو سره اودس کیږی۔ خو ناقص وی۔ هغے ته سنت وائي۔ او بعضے خبرے داسے دی چه د هغے کولو سره ثواب زیاتیږی او پریښودو سره هیڅ نقصان نه کیږی۔ هغے ته مستحب وائي۔

س۔ اودس کښې څو فرض دي؟
ج۔ اودس کښې څلور فرض دي۔ (۱) د تندي د ویښتو نه د زنې لاندې پورې۔ او د یو غوږ نه د بل غوږ پورې د مخ وینځل (۲) دواړه لاسونه څنګلو پورې وینځل (۳) د څلورم حصې د سر مسح کول (۴) دواړه پښې ګیټو پورې وینځل۔
س۔ اودس کښې څو سنت دي؟
ج۔ اودس کښې دیارلس سنت دي۔ (۱) نیت کول (۲) بسم الله وئیل (۳) مخکښې دواړه لاسونه مړوندو پورې وینځل (۴) مسواک کول (۵) درې ځله خُله کښې اوبه ګرځول (۶) درې ځله پوزه کښې اوبه اچول (۷) د ږیرې خلال کول (۸) د لاس، پښو د ګوتو خلال کول (۹) هر اندام درې ځله وینځل (۱۰) یو ځل د ټول سر مسح کول (۱۱) د غوږونو مسح کول (۱۲) ترتیب سره اودس کول (۱۳) پرله پسې اودس کول۔ یو اندام لا اُوچ شوے نه وي چه دویم او وینځي۔
س۔ اودس کښې مستحب څو مره دي؟
ج۔ اودس کښې پنځه څیزونه مستحب دي۔ (۱) ښي طرف نه شروع کول۔ بعضې علماؤ دا سنتو کښې لیکلي دي۔ او

دا قوی حنبره دے (۲) د ختت مسح کول (۳) د اودس کار خپله کول د بل نه مدد نه اخستل (۴) قبلے طرف ته مخ کولو سره کیناستل (۵) پاک او اوچت ځائے کښې ناستے سره اودس کول۔

س۔ اودس کښې څو څیزونه مکروه دی؟

ج۔ اودس کښې څلور څیزونه مکروه دی۔ (۱) ناپاک ځائے باندې اودس کول (۲) بنی لاس سره پوزه صفا کول (۳) اودس کښې دُنیوی خبرے کول (۴) د سنت خلاف اودس کول۔

س۔ کومو څیزونو سره اودس ماتیږی؟

ج۔ اته څیزونو سره اودس ماتیږی۔ هغے ته نواقص وضوء وائی۔ (۱) لوئے واړه بول کول۔ دے دواړو لارو سره د څه بل څیز وتل (۲) باد۔ د روستو لارے نه هوا وتل۔ (۳) د بدن د یو مقام نه وینه یا نو وتلو سره بهیدل (۴) په ډکه خُله قے کول (۵) ملاستے یا ډډے لګولو سره اوده کیدل (۶) بیمارې یا په څه بله وجه بیهوشه کیدل (۷) مجنون، لیونے کیدل (۸) مونځ کښې په قهقهه خندل

د غسل بیان

س۔ لوئے نجاست حکمیه یعنی حدثِ اکبر او جنابت نه د بدن د پاکید و څه طریقه ده ؟

ج۔ حدثِ اکبر یا جنابت نه بدن په غُسل کولو سره پاکیږی

س۔ غُسل څه ته وائی ؟

ج۔ د غسل معنیٰ ده لامبل۔ خو شریعت کښی د لمبلو یوه خاص طریقه ده۔

س۔ د غُسل څه طریقه ده ؟

ج۔ د غسل طریقه دا ده۔ چه اول دواړه لاس تر مړوندو پورے اووینزی۔ بیا استنجاء اوکړی، او د بدن نه نجاست حقیقی اووینزی بیا اودس اوکړی۔ بیا ټول بدن لوند اوبو اچولو سره لاس اومږی۔ بیا ټول بدن باندِ درے ځله اوبه اوبهیوی۔ خُله کنګال کړی پوزه کښی اوبه واچوی۔

س۔ غُسل کښی څو فرض دی؟

ج۔ غُسل کښی درے فرض دی (۱) خله کنګالول (۲) پوزه کښی اوبه اچول (۳) ټول بدن باندِ اوبه بهیول

س۔ غسل کښی څو سنت دی ؟

ج۔ غسل کښی پنځه سنت دی۔ (۱) دواړه لاس تر مړوندو

پورے وینزل (۲) استنجاء کول، اوکوم ځائے چه بدن ته نجاست نکیدلے وی هغه وینزل (۳) د ناپاکی د لرےکولو نیت کول (۴) اول اودس کول (۵) ټول بدن باندے درے ځله اوبه بهیول۔

موزو باندےمسح کول

س۔ کوم قِسم موزو باندے مسح کول جائز دی؟

ج۔ درے قِسمه موزو باندے مسح کول جائز ده۔ اول د څرمن په موزے چه هغے سره پنبے کټو پورے پټے وی (۲) هغه وړیے تارینے موزے چه هغے کښی د څرمنے تلے لګیدلے وی (۳) هغه وړینے تارینے موزے چه دومره ټینګے وی چه خالی موزے اچولو سره درے څلور میله لاړ وهلو سره نه شلیږی۔

س۔ موزو باندے کله مسح جائز ده؟

ج۔ هرکله چه اودس اوکړی، یا پښو وینزلو سره موزے اچولے وی۔ بیا اودس ماتیدو حالت کښی موزے اچولے وی۔ نو په موزو به مسح کوے۔

س۔ د یو ځل اچولے شوے موزو باندے څو ورځو پورے مسح جائز ده؟

ج۔ که سرے په خپل کور یا داوسید وځائے کښې وی نو یوه ورځ اویوه شپه دِ په موزو باندِ مسح کوی او که سفر کښې وی نو درے ورځو شپو پورے مسح جائز ده۔

س۔ په موزو به څنګه مسح کوی؟

ج۔ د پاسه طرف ته مسح کول پکار دی۔ تلو طرف ته یا پوندے طرف ته مسح کولو سره مسح نه کیږی۔

س اودس اوغسل د واړو کښې موزو باندِ مسح جائز ده یا نه؟

ج ۔اودس کښې موزو باندِ مسح جائز ده۔ غسل کښې نه ده

س مسح به څنګه کوی؟

ج۔ د لاس ګوتے اوبو کښې لمدولو سره درے ګوتے د پښو په پنجه ایښودو سره د پاسه طرف ته دِ راکاږی۔ ګوتے دِ پوره کیږدی۔ صرف د هغے سرونه ایښودل کافی نه دی

س۔ شلیدلے موزو باندِ مسح جائز ده یا نه؟

ج۔ که موزه دومره شلیدلے وی چه د پښے د درے وړو ګوتو برابر پښه ښکاریږی یا تلو کښې ښکاریږی نو په هغے مسح جائز نه ده۔ که دے نه کمه شلیدلے

وی۔ نو جائز ده۔

جبیره باندِ مسح کول

س۔ جبیره څه ته وائی؟

ج۔ جبیره هغه لرګے دے۔ چه مات شوی هډ وکی درست کولو دپاره تړلے شی۔ خو دلته جبیره نه هغه لرګے یا د زخم پټئ یا د مرهم پټئ څه چه وی مراد ده

س۔ په دے لرګی یا پټی یا پهٔ (پهایه) د مسح کولو څه حُکم دے؟

ج ددے لرګی یا پټئ پرانستل او دپایه لرے کول که نقصان رسوی۔ یا سخت تکلیف وی۔ نو هغے لرګی، پټئ او پایه باندِ مسح کول جائز دی۔

س۔ څومره پټئ باندِ مسح کول پکار دی؟

ج۔ په ټوله پټئ مسح کول پکار دی۔ خواه د هغے لاندِ زخم وی۔ یا نه وی۔

س۔ که پټی پرانستلو سره نقصان او تکلیف نهٔ وی۔ نو څه حکم دے؟

ج۔ که زخم ته په اوبو وینزل نقصان نه رسوی۔ نو وینزل ضروری دی۔ او که اوبو سره وینزل ورته

نقصان رسوی۔ لیکن مسح سره نقصان نه وی. نو زخم بانذِ مسح کول واجب دی۔ او هر کله چه زخم بانذِ مسح کول هم نقصان رسوی نو هغه وخت به پټۍ یا پهایه بانذِ مسح کول جائز دی۔

د نجاست حقیقیه بیان

س۔ د نجاست حقیقیه څو قسمونه دی؟

ج د نجاست حقیقیه دوه قسمونه دی (۱) نجاست غلیظه (۲) نجاست خفیفه۔

س۔ نجاست غلیظه او نجاست خفیفه څه ته وائی؟

ج۔ سختې ناپاکی ته نجاست غلیظه او سپک (معمولی) نجاست ته نجاست خفیفه وائی۔

س۔ څومره څیزونه نجاست غلیظه دی؟

ج۔ د انسان واړه او لوئ بول، د څناورو بول (ګنګی) او د حرام څناورو متیازې او د انسان او څناورو بهیدونکې وینه او متیازې او د چرګې او بطخ غل نجاست غلیظه دی۔

س۔ نجاست خفیفه کوم کوم څیزونه دی؟

ج۔ د حلال څناورو متیازې او د حرام مرغانو ڃچې ګنګی

نجاست خفیفه دی۔

س۔ نجاست غلیظه څومره معاف ده ؟

ج۔ نجاست غلیظه که ټینګه وی لکه لوئے بول نو هغه درے نیمے ماشے پورے معاف ده۔ او که نرے وی لکه شراب نو هغه دیوے روپئ برابر معاف ده۔ د معاف کیدو مطلب دا دے۔ که دومره نجاست بدن یا کپړے ته لګید لے وی او مونځ اوکړی۔ نو کیږی۔ خو مکروه به وی او قصداً دومره نجاست لګیدل جائز نه دی۔

س۔ نجاست خفیفه څومره معاف ده ؟

ج۔ که څلورمے حصے کپړے یا چوتهائی اندام نه کم وی نو معاف ده۔

س۔ نجاست حقیقیه نه کپړه یا بدن څنګه پاکیږی ؟

ج۔ نجاست حقیقیه خواه غلیظه وی یا خفیفه۔ کپړے باندِ وی یا بدن باندِ۔ اوبو سره درے ځله وینځلو سره پاکیږی۔ کپړے درے ځله نچوړی کول هم ضروری دی۔

س۔ د اوبو نه سوا بل څیز سره هم پاکیږی که نه ؟

ج۔ هو ! کوم څیزونه چه نری او بهیدونکی وی لکه سرکه یا د ایندوانے اوبه۔ په هغے وینځلو سره هم نجاست

حقیقیه پاکیږی۔

د استنجاء بیان

س۔ استنجاء څه ته وائی؟

ج۔ لوئے یا واړه بول کولو نه پس چه کومه ناپاکی بدن سره لګیدلے وی۔ د هغې پاکولو ته استنجاء وائی۔

س۔ متیازو کولو نه پس د استنجاء څه طریقه د که؟

ج۔ متیازو کولو نه پس د خاورے پاکے لوټے سره د متیازو ځائے اُوچول پکار دی۔ هغې نه پس اوبو سره ئے وینزل پکار دی۔

س۔ لوئیو بولو نه پس د استنجاء څه طریقه د که؟

ج۔ پاخانے نه پس د خاورو درے یا پنځه لوټو سره دے دَ پاخانے مقام صاف کړی۔ بیا اوبو سره ئے وینزل پکار دی۔

س۔ استنجاء کول څنګه دی؟

ج۔ که لوئے واړه بول د خپل مقام نه خوریدو سره اخوا دیخوا او نه لګی۔ نو استنجاء کول مستحب دی۔ او که نجاست اخوا دیخوا لګیدلے وی د روپئ برابر یا د هغې نه کم وی نو استنجاء کول سنت دی۔ او که دیوے روپئ نه زیات

نکیدلے دی. نو استنجاء کول فرض دی۔
س۔ استنجاء کوموخیزونوسرہ پکار دہ ؟
ج۔ د خاورے پاکے لوټو یا کانړو سرہ۔
س۔ استنجاء کوموخیزونوسرہ مکروہ دہ ؟
ج۔ هډوکی، خاشړو، سوټو، د خوراک خیزونوسرہ کوئلے، کپړے او کاغذ سرہ استنجاء کول مکروہ دی۔
س۔ استنجاء کوم لاس سرہ کول پکار دی؟
ج۔ کس لاس سرہ کول پکار دی، ښی لاس سرہ استنجاء کول مکروہ دی۔

داوبو بیان

س۔ کومو اوبو سرہ اودس کول پکار دی ؟
ج۔ د باران اوبه، دچینے یا کوهی اوبه، د ولے یا سمندر اوبه، د ویلے شوے واورے یا ګلئ اوبه، دلوئے تالاب یا حوض اوبه. دے ټولو اوبو سرہ اودس او غسل کول جائز دی۔
س۔ کومو اوبو سرہ اودس کول جائز نه دی ؟
ج۔ د میوے او اونے نچوړے شوے اوبه. بنوروا، هغه اوبه چه د هغے رنګ، بوئ، مزه سره د پاک خیزیو ځائے

کید وسره بد نه شوے وی. او او به تینګے شوے وی دا سے اوبه چه لږے وی، او هغې کښې څه ناپاك څيز غورځيدلے وی، یا کوم ځناور غورځیدو سره په کښې مړ شوے وی. هغه اوبه چه هغې سره اودس او غسل شوے وی. هغه اوبه چه په هغې د نجاست اثر غالب وی. د حرام ځناورو جوټه او به د ګلاب یا د بلې څه دوائی عرق.

س. کومو اوبو سره چه اودس یا غسل شوے وی. هغې ته څه وائی؟

ج. دا سے اوبو ته استعمال شوے اوبه وائی. چه خپله پاکے دی. خو هغې سره اودس یا غسل کول جائز نه دی

س. د کومو ځناورو جوټه اوبه ناپاکے دی؟

ج. د سپی، خنزیر او ښکاری ځناورو جوټه اوبه ناپاکے دی. د غسے د پیشو چه مږه یا بل څه ځناور خوړلو سره سمدستی اوبه اوڅکی. د هغې جوټه هم ناپاکه ده. کوم سړی چه شراب اوڅکل، او سمدستی ئے اوبه اوڅکلے د هغه جوټه هم ناپاکه ده.

س. د کومو ځناورو جوټه اوبه ؟ .

ج. د پیشو (په شرط د دے چه سمدستی ئے مږه نه وی

خوړلے). مږ ه، چرمښکۍ، کرځېد ونکے چرګه نجاست
خوړونکے غوا، میښه، قا رغه، ټپوس، شکره او د
تمام حراموځناورو جوټه مکروه ده۔
س. دکومو جانداړو جوټه اوبه پاکے دی؟
ج۔ د سړی او حلال ځناورو جوټه اوبه پاکے دی. لکه
غوا، چیلے، کونتره، کرکوړه، آس۔
س۔کومے اوبه د نجاست غورځېدو سره ناپاکه کیږی۔
ج سِوا د دوو اوبو نه نورے ټولے اوبه نجاست
غورځېدو سره ناپاکه کیږی. او هغه دوه اوبه دا دی
(۱) د وَلے یا دریاب بهیدونکے اوبه (۲) ولاړے زیاتے
اوبه لکه د لوئے تالاب یا حوض اوبه۔
س. د ولاړو زیاتو اوبو څه مقدار دے؟
ج۔کومے ولاړے اوبه چه ښتري ګز سره پنځه نیم (½ ۵)
ګزه اوږد والے او پنځه نیم ګزه پلن والے لری. هغه
زیاتے اوبه دی. کوم حوض یا تالاب چه دومره لوئے
وی. هغه لوئے حوض او تالاب ګنړلے شی۔
س. نجاست غورځېدو نه سِوا بل کوم څيز سره لوږے اوبه
ناپاکه کیږی؟
ج۔ که اوبو کښں څه داسے ځناور غورځېدو سره مړشی

ځناور کوهی کښې غورځیدو سره مړ شي نو شل بو قې اوبه به راوکاږي. د شلو په ځای[2] دیرش[3] او د څلویښتو په ځای شپیته بو قې راوښکل مستحب دي۔

س۔ که مړ ځناور کوهی کښې اوغورځیږي. نو څه حکم دې؟

ج۔ د مړ ځناور د غورځیدو هغه حکم دے. کوم چه کوهی کښې غورځیدو سره د مړ کیدو بیان شو. مثلاً مړ چیلې یکښې او غورځیده. نو ټولې اوبه به راوکاږي. که مړه پیشو یکښې اوغورځیده، نو څلویښت یا شپیته بو قې اوکه مړه مږه یکښې او غورځیږي، نو شل[2] یا دیرش[3] بو قې به راوښکل وي۔

س۔ که پړسیدلے یا شلیدلے ځناور یکښې اوغورځیږي نو څه حکم دے؟

ج۔ ټولې اوبه به راوښکل وي. ځکه چه کوهی کښې غورځیدو سره مړ شي، اوپړسیږي او اوشلیږي۔

س۔ که کوهی نه مړ ځناور راوځي. او معلومه نه وي. چه کله غورځیدلے دے. نو څه حکم دے؟

ج۔ کوم وخت نه چه اولیدے شي. هغه وخت نه به ناپاکه گڼړلے شي۔

س۔ بوقې نه څومره لویه بوقه مراد ده؟

ج:- په کوم کوهی چه کومه بوقه پرته وی. هغه معتبر ده
س:- خومره بو قے (ډول) چه راوښکل دی. په یو ځائے راوښکل پکار دی، یا څو ځله کښې راؤښکل ئے هم جائز دی؟
ج:- څو ځله کښې راوښکل ئے هم جائز دی. مثلاً شپیته بو قے راوښکل دی. شل سحر کښې راو کا بیا شل غرمه کښې، او شل ماښام کښې. نو دا هم جائز دی۔
س:- کومے بو قے او رسئ سوره چه د کوهی نه ناپاکے او به راوښکلے شی، هغه پاك دی یا ناپاك؟
ج:- هر کله چه دومره او به راوښکلے شی. خومره چه راوښکل پکار دی. نو کوهے. بوقه او رسئ ټول پاك شی۔

الحمد لله۔ د تعلیم الاسلام دویمه حصه هم ختم شوه

تعلیم الاسلام

دریمه حصّه

بسم اللّٰه الرّحمٰن الرّحیم ط

توحید

س۔ د توحید څه معنیٰ ده؟

ج۔ زړه سره الله تعالیٰ یو منل او ژبې سره د دے اقرار کولو ته توحید وائي۔

س۔ د الله تعالیٰ د یو والی (ایکی یو کیدو) مخلوق ته څنګه علم اوشو؟

ج۔ اول خو انسانی عقل (په شرط د دے چه عقل صحیح وی۔ د الله تعالیٰ د موجود کیدو و د هغه د یو والی یقین لری او په د دے وجه چه دُنیا کښې کوم لوئے لوئے عقلمند او فلسفیان تیر شوی دی۔ هغوئ ټول د الله د توحید (یو والی) قائل دی۔

دویم دا چه د الله تعالیٰ پیغمبرانو متفقه طور سره مخلوق ته د توحید تعلیم ورکړو۔ او ورته ئے اوښودل

چہ اللہ تعالیٰ ایکی یو دے۔ د هغہ پہ مثل هیڅوک نشتہ
س۔ آیا قرآن مجید کښں د توحید تعلیم ورکړے شوے دے؟
ج۔ هو! قرآن مجید کښں د توحید تعلیم کامل طریقے او پہ اعلیٰ درجے ورکړے شوے دے۔ بلکہ نن دُنیا کښں قرآن مجید یو داسے کتاب دے چہ خالص د توحید تعلیم ورکوی۔ اگرکہ رومبنو اسمانی کتابونو کښں هم د توحید تعلیم وو۔ هغہ ټولو کتابونو کښں خلقو اَدل بَدل (تحریف) اوکړو او د توحید خلاف خبرے ئے پہ کښں داخلے کړے۔ او د اللہ رالیږلے شوے تعلیم ئے بدل کړو دهغے اصلاح او رښتینے توحید دُنیا کښں خورولو د پارہ اللہ تعالیٰ حضرت محمّد صلعم راولیږلو۔ او خپل خاص کتاب قرآن مجید ئے پرِ نازل کړو۔ او دے کښں صاف صاف رښتینے او د خالص توحید تعلیم ورکړو۔
س۔ قرآن مجید کښے کوم کوم آیتونو نہ توحید ثا بتیږی؟
ج۔ ټول قرآن مجید دَ اول نہ آخر پورے دَ توحید دَ تعلیم نہ ډک دے۔ څو آیتونہ دادی:۔
١ والهکم الہ واحد لا الہ الا هو الرحمٰن الرحیم۔ د ترجمہ:۔ ستاسو معبود ایکی یو دے۔ دَ هغہٗ نہ سوا بل معبود نشتہ هغہ ډیر ښونکے مهربان دے۔
د دویم آیت (شهد اللہ انہ لا الہ الا هو والملئکۃ واولوا العلم قائماً بالقسط لا الہ الا هو العزیز الحکیم) ترجمہ:۔ اللہ تعالیٰ گواہ دے۔ چہ دَ اللہ

نہ سِوا بل معبود نشته. او ملائکې او عالمان هم د دې خبرې ګواهي ورکوي. هغه انصاف قائمونکې دې.
د هغه نه سوا بل معبود نشته. هغه غالب او د حکمت خاوند دې. د غښې نور بې شمېره آیتونه د الله د توحید تعلیم ورکوي. لکه قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ. ته او وایه چه الله تعالیٰ یو دې.

س. د الله تعالیٰ ذاتی نوم څه دې؟

ج. د الله تعالیٰ ذاتی نوم الله دې. دې ته اسم ذات او اسم ذاتی هم وائي.

س. د لفظ الله نه سِوا د الله تعالیٰ نور نومونه (لکه خالق رازق وغیره) دی. هغې ته څه وائي؟

ج. لفظ الله نه سِوا د الله تعالیٰ نورو نومونو ته صفاتی نومونه وائي.

س. د صفاتی نوم څه معنیٰ دی؟

ج. د الله تعالیٰ ډیر صفتونه دی. لکه قدیم، عالم قادر، حیّ وغیره. کوم نوم چه د دې صفتونو کښې یو صفت ظاهر کړي. هغې ته صفاتی نوم وائي.

د دې مثال دا سې دې. لکه د یو سړي نوم جمیل دې چه صرف د هغه د ذات د لحاظ نه پیژندګلو د پاره

ایسے شوے دے دخہ صفت لحاظ پکښں نشتہ۔ لیکن هغہ علم هم
کړے دے۔ لیکل هم کولے شي او قرآن ئے هم یاد دے۔ نود دے
په لحاظ سره دلا تہ عالم منشي او حافظ هم وائي۔ نو جمیل
د دہ ذاتي نوم دے او عالم منشي حافظ تہ ئے صفاتي نومونه
وائي۔ ځکہ چہ د دہ د عالم د صفت دخط لیکلو د صفت او د قرآن د
یادولو د صفت په وجه ورله دا نومونه ایخودے شوے دي۔ په
دے شان سره لفظ الله دخداے پاک ذاتي نوم یا اسم ذات دے
او خالق، قادر، عالم، مالک وئے صفاتي نومونه دي۔

س۔ د خدائے پاک ذاتي نوم خو صرف یو لفظ الله دے
صفاتي نومونه ئے څومره دي؟

ج۔ قرآن مجید کښں الله پاک فرمائي: وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ
بِهَا (اعراف: ع ۲۲) یعنی دخدائے پاک ډیر ښہ نومونه دي۔ نو په
دے نومونو سره هغه یادوئ۔ او په حدیث شریف کښں دي اِنَّ لِلّٰهِ
تَعَالٰی تِسْعَةً وَّتِسْعِیْنَ اِسْمًا مِائَةً اِلَّا وَاحِدًا (بخاري) بیشکہ دالله تعالیٰ
نہہ دیاسہ لس اتیا یعنی یو کم ۹۹ سل نومونه دي۔

ملائکے (فرشتے)

س۔ د مقربو فرشتو نه علاوه د نورو ټولو فرشتو مرتبے دیو
بل سره یو شان دي او که کمے زیاتے پکښں شتہ؟

ج۔ څلور مقربے فرشتے چہ ذکر او نومونه ئے تاسو په دویمہ حصہ

کښې لوستې دي د ټولو فرشتونه غوره دي۔ د دوئ نه سوا نور هم فرشتې هم په مرتبو کښې د يو بل نه کمې زياتې دي. څوک زياتې مقربې او څوک لږې دي۔

س۔ فرشتې څه کار کوي؟

ج۔ په آسمانونو او زمکه کښې بے شماره فرشتې په مختلفو کارونو مقرر دي. دا سې اوګڼړه چه د آسمانونو او زمکې ټول انتظامات الله تعالیٰ د فرشتو سره متعلق کړي دي او فرشتې دا ټول انتظامات د خدائے د حکم مطابق پوره کوي۔

س۔ د ملائکو څه نومونه او کارونه بيان کړه؟

ج۔ حضرت جبرائيلؑ به د خدائے تعالیٰ احکام او کتابونه پيغمبرانو له راوړه. بعضے وخت د انبياء عليهم السلام مدد کولو او د الله تعالیٰ او د رسولﷺ د دښمنانو سره جنګ کولو د پاره هم راليږلے شوي دي. بعضے ځل الله تعالیٰ نافرمانه بنديانو باندې عذاب د هغوئ ذريعے سره راليږلے دے۔

حضرت ميکائيلؑ مخلوق ته روزي رسولو او باران وغيره انتظاماتو باندې مقرر دے. او بے شميره ملائکے د هغے ماتحتۍ کښې کار کوي۔ بعضے د ورېځو په انتظام مقرر دي۔ بعضے د هواګانو په انتظام دي. او بعضے دريابونو، تالابونو، نهرونو باندې مقرر دي. او د دے تمامو څيزونو انتظام د الله تعالیٰ د حکم موافق کوي۔

حضرت اسرافیلؑ به د قیامت په ورځ شپیلۍ پوک وهي۔

حضرت عزرائیلؑ د مخلوق ساه (روح) اوبنکلو باندِ مقرر دے۔ او د هغه ماتحتۀ کښې هم بے شمیره ملائکے کار کوي۔

د نیکو بندیانو روح اوبنکونکے ملائکے جدا دي۔ او د بدکارو خلقو روح اوبنکونکے ملائکے جدا دي۔ دوي نه نه علاوه د ملائکو بعضے کارونه دا دي۔

(۱) هر انسان سره دوه ملائکے اوسي۔ یوه ملائکه د هغه نیك کار لیکي۔ او دویمه ئے بد کار لیکي۔ دے ملائکو ته کراماً کاتبین وائي۔

(۲) ځنے ملائکے افتونو او بلاګانو نه د انسان حفاظت کولو باندِ مقرر دي۔ د بچو، بوډاګانو او کمزورو او دکومو خلقو بارهٔ کښې چه د الله تعالیٰ حکم وي۔ د هغوئ حفاظت کوي۔

(۳) څه ملائکے د انسان د مرګ نه پس قبر کښې هغه نه تپوس کولو باندِ مامور دي۔ د هر انسان قبر کښې دوه ملائکے ورته راځي۔ هغوئ ته منکر او نکیر وائي۔

(۴) څه ملائکے په دے کار مقرر دی. چه دنیا کښ گرځی. چرته چه د الله ذکر کیږی، وعظ کیږی قرآن مجید لوستے شی، درود شریف وئیلے شی. د دین د علم تعلیم کیږی. دا سے مجلسونو کښ حاضر وی. او څومره خلق چه هغے مجلس کښ هغے نیک کار کښ شریک وی. د هغوئ د شراکت د الله تعالیٰ مخکښ گواهی ورکوی.

دُنیا کښ چه کوم ملائکے کار کوی. د هغوئ سحر ماښام تبدیلی هم کیږی. د سحر د مونځ په وخت د شپے ملائکے اسمانونو ته ځی. او د ورځے کار کونکے ملائکے راځی. او د ماښام د مونځ نه پس د ورځے ملائکے ځی. د شپے کار کونکے راځی.

(۵) ځنے ملائکے د جنت انتظامونو او د هغے په کاروبار مقرر دی.

(۶) څه ملائکے د دوزخ په انتظام مقرر دی.

(۷) څه ملائکے د الله تعالیٰ د عرش اوچتونکی دی.

(۸) څه ملائکے د الله تعالیٰ عبادت او تسبیح و تقدیس کښ مشغول دی.

س- دا څنګه معلومه شوه چه ملائکے دا کارونه کوی؟

ج۔ دا ټولے خبرے قرآن مجید کښې او حدیثونو کښې ذکر دی۔

دالله تعالیٰ کتابونه

س۔ توراۃ، زبور، انجیل اسمانی کتابونه کیدل څنګه معلوم شو؟

ج۔ دَدے درے واړو کتابونو اسمانی کتابونه کیدل قرآن مجید نه ثابت دی۔ د توراۃ په باره کښې الله تعالیٰ فرمائیلی دی: بیشکه مونږ توراۃ نازل کړو۔ دے کښې هدایت او نور دے۔ د زبور باره کښې فرمائی، مونږ داؤد ته زبور ورکړو۔ د انجیل باره کښې فرمائی مونږ عیسیٰ بن مریم او لیږلو، او هغه ته مونږ انجیل ورکړو۔

نو مسلمانانو ته د قرآن مجید په ذریعه د دے درے کتابونو اسمانی کیدل معلوم شو۔

س۔ که څوک توراۃ، زبور، انجیل دالله تعالیٰ کتابونه نه منی۔ نو هغه څنګه دے؟

ج۔ داسے سړے کافر دے۔ ځکه چه د دے کتابونو دالله کتابونه کیدل د قرآن مجید نه ثابت دی۔ څوک چه دا دالله کتابونه نه منی، هغه د قرآن مجید بنو دلے خبره

نہ منی۔ نو هغه کافر دے۔

س۔ آیا دا توراۃ، زبور او انجیل چہ عیسایانو سرہ موجود دی، هغه اصلی آسمانی دی؟

ج۔ نہ قرآن مجید نہ دا خبرہ هم ثابتہ دہ۔ چہ پہ دے کتابونوکښی خلقو ادل بدل کړے دے۔ موجودہ توراۃ، زبور او انجیل هغه اصلی آسمانی کتابونه نه دی۔ بلکہ هغے کښی ادل بدل شوے دے۔ ځکہ د دے موجودہ دړے کتابونو متعلق دا یقین ساتل نہ دی پکار چہ دا اصلی آسمانی کتابونه دی۔

س۔ دا څنګہ معلومہ شوہ چہ بعضے پیغمبرانو باندِ صحیفے نازلے شوے وے؟

ج قرآن مجید نہ ثابتہ دہ۔ چہ بعضے پیغمبرانو باندِ صحیفے نازلے شوے دی۔ دا براهیمؑ د صحیفو ذِکر سورۃ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى کښی موجود دے۔

س۔ قرآن مجید د الله تعالیٰ کتاب دے۔ یا د هغه کلام؟

ج۔ قرآن مجید د الله تعالیٰ کتاب هم دے۔ او کلام هم۔ قرآن مجید کښی دے تہ کتاب الله هم فرمائیلے شوے دی۔ او کلام الله هم۔



د قرآن مجید فضیلتونه

س۔ تورات، زبور، انجیل او قرآن مجید کښې افضل کوم کتاب دے؟

ج۔ قرآن مجید د ټولو نه افضل دے۔

س۔ د قرآن مجید په مخکنو کتابونو څه فضیلت دے؟

ج۔ ډیر فضیلتونه دی۔ هغې کښې یو څو دا دی:

(۱) دا چه د قرآن مجید یو یو حرف او یو یو لفظ محفوظ دے کښې د یوے نکتے کمے بیشی هم نه دے شوے۔ او نه به د قیامته پورے اوشی۔ او مخکنو کتابونو کښې خلقو ادل بدل کړے دے۔

(۲) دا چه د قرآن مجید نظم (عبارت) معجز دے۔ داسے د اوچتے درجے عبارت دے۔ چه د قرآن مجید د وړوکی نه وړوکی سورة په مثل هم څوک نشی جوړولے

(۳) دا چه قرآن مجید د آخری شریعت احکام راوړی دی۔ ځکه د دے ډیرو احکامو د مخکنو کتابونو احکام منسوخ کړل۔

(۴) دا چه مخکنی کتابونه په یو ځل یو ځائے نازل شو۔ او قرآن مجید د ویشت کاله پورے د ضرورت د لحاظ

نه لږ لږ نازلیدو. رو. رو او د ضرورت په وخت
د نازلیدو په وجه د خلقو زړونو کښې کیناستلو.
او په سونو زړګونو او لکهونو خلقو د دے احکام
قبلول او مسلمانیدل

(۵) دا چه قرآن مجید د زرګونو، لکهونو مسلمانانو
سینو کښې محفوظ دے. او دا سینه په سینه حفاظت
د رسول الله صلعم د مبارکے زمانے نه نن پورے
برابر روان دے. او انشاء الله تعالیٰ قیامته پورے
به جاری وی.

د دے سینه په سینه د حفاظت په وجه د اسلام
دښمنانو ته هیڅ وخت دا موقع په لاس ورنه غله چه
قرآن مجید کښې څه کمے بیشی اوکړی. یائے د دُنیا نه ختم
کړی. او نه به قیامته دا سے موقع بیا مومی -

(۶) دا چه د قرآن مجید احکام دا سے معتدل دی چه د
هرے زمانے او هر قوم مناسب دی. دُنیا کښې هیڅ قوم
دا سے نشته چه د قرآن مجید په احکامو د عمل کولو نه عاجز
وی. د قرآن مجید احکام د هرے زمانے او هر قوم مناسب
دی. ځکه د قرآن مجید د نازلیدو نه پس د څه بل شریعت
او اسمانی کتاب حاجت پاتے نه شو. او د رسول الله صلعم

رسالت تهولے د نیا د پاره عام کړے شو۔

رسالت

س۔ د ټولو پیغمبرانو شمار او نومونه خو نه دی معلوم۔ مګر د مشهورو پیغمبرانو څه نومونه واخله؟

ج۔ د مشهورو پیغمبرانو نومونه دا دی: حضرت ادمؑ حضرت شیثؑ حضرت ابراهیمؑ حضرت اسماعیلؑ حضرت اسحٰقؑ حضرت یعقوبؑ حضرت سلیمانؑ حضرت داؤدؑ حضرت موسیٰؑ حضرت الیاسؑ حضرت هارونؑ حضرت ذکریاؑ حضرت یحییٰؑ حضرت صالحؑ حضرت یونسؑ حضرت عیسیٰؑ حضرت هودؑ حضرت شعیبؑ او حضرت محمدﷺ۔

س۔ حضور صلعم د عربو د کوم خاندان نه دے؟

ج۔ حضورﷺ د عربو د قریشو د خاندان نه دے۔ د عربو په ټولو خاندانونو کښې د قریشو د خاندان عزت او مرتبه زیاته وه۔ او د قریشو د خاندان خلق د نورو عربو خاندانونو سرداران ګنړل کیده او بیا د خاندان د قریشو یو شاخ بنی هاشم وه۔ چه دوئ د قریشو د نورو خاندانونو زیات عزتمند وو۔ حضورﷺ د دغے بنو هاشم د شاخ نه وه دغه وجه حضورﷺ ته هاشمی هم وائی۔

س۔ هاشم څوک وو چه د هغه خاندان ته بنی هاشم وائی؟

ج۔ د حضورﷺ د غور نیکه نوم هاشم وو۔ د نسب سلسله ئے دا سے ده محمد بن عبدالله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف۔

س۔ د حضورﷺ پښتو نو کښې د حضرت ادمؑ نه پس بل پیغمبر شته یا نه؟

ج۔ او! حضورؐ د حضرت اسماعیلؑ اولاد کښې دے۔ او حضرت اسماعیلؑ
د حضرت ابراهیمؑ ځوئے دے۔ د دے دواړو نه علاوه حضرت نوحؑ
حضرت ادریسؑ او حضرت شیثؑ د حضورؐ د نسب سلسله کښې داخل دی
س۔ حضرت محمدؐ ته څومره عمر کښې پیغمبری ورکړے شوه؟
ج۔ عمر مبارک ئے څلویښت کاله وو چه وحی پرے نازله شوه
س۔ د وحی نه څه مراد دے؟
ج۔ د وحی نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ خپل احکام او کلام
په حضورؐ نازلول شروع کړل۔
س۔ د وحی نازلیدو نه پس حضورؐ څومره موده ژوندے وو
ج۔ درویشت کاله، دیارلس کاله مکه مکرمه کښې او لس کاله مدینه منوره
س۔ مدینے منورے ته حضورؐ ولے لاړلو؟
ج۔ هر کله چه حضورؐ د مکے خلقو ته د توحید تعلیم ورکړو او ورته
ئے اووے چه د بتانو عبادت پریږدئ او په یو خدائے ایمان راوړئ
نو دغه خلق ئے دښمنان شو۔ ځکه چه دوئ به د بتانو عبادت کولو
او خپل خدایان به ئے ګنړلو۔ او حضورؐ ته به ئے قسم قسم تکلیفونه
رسول۔ حضورؐ به دا سختئ برداشت کولے۔ او د توحید تعلیم به
ورکولو۔ او د الله حکمونه به ئے رسول۔ تو چه د دوئ د دښمنئ
دحد نه زیاته شوه او ټولو په جمع د حضورؐ د قتل کولو اراده
اوکړه نو حضورؐ د الله په حکم خپل ګران وطن مکه معظمه

پر بخوده مدینے منورے ته ئے تشریف یوړو۔ د مدینے منورے خلق د مخکښ نه مسلمانان شوی وو۔ او دوئ د حضورؐ راتلو ته ډیر شوق کښې شوی وو۔ نو کله چه حضورؐ مدینے منورے ته تشریف راوړو نو دے مسلمانانو د حضورؐ او د دوئ د ملګرو په خپل جان او مال سره مدد اوکړو۔ د حضورؐ د تشریف راوړو نه پس نور مسلمانان هم چه کافرو ورته ازار رسولو مدینے ته تشریف راوړو۔ د حضورؐ د مکے نه مدینے منورے تلو ته هجرت وائی او د غے مسلمانانو ته چه د مکے نه ئے مدینے منورے ته هجرت کړے دے دوئ ته مهاجرین وائی۔ او د مدینے منورے هغے مسلمانانو ته چه د حضورؐ او د دے مهاجرینو مدد ئے اوکړو دوئ ته انصار وائی۔

س۔ د حضورؐ د نبوت د دعوے نه اول به د عربو خلقو دوئ ته څه وئے؟ او څنګه به ئے ګڼړلو؟

ج۔ د نبوت د دعوے نه مخکښ ټولو خلقو رشتونے پاک باز او امانتدار ګڼړلو محمدؐ امین به ئے ورته وئیل د دے مطلب دا دے چه دهغوئ په نزد حضورؐ ډیر معتبر او رښتینے سړے وو۔ او ټولو خلقو به د حضورؐ ډیر عزت او تعظیم کولو۔

س۔ د دے خبرے دلیل څه دے چه حضرت محمدؐ د ټولو نه اخری پیغمبر دے۔ او د حضورؐ نه پس به هیڅ بل نبی نه راځی؟

ج۔ اول دا چه قرآن کریم کښې الله تعالیٰ حضورؐ ته خاتم النبیین

فرمائیلی دی ددے مطلب دا دے چه د وئ د ټولو پیغمبرانو آخری پیغمبر دے. بل دا چه حضورؐ پخپله فرمائیلی دی: "اَنَا خَاتَمُ النَّبِیِّیْنَ لَانَبِیَّ بَعْدِیْ"، زهٔ آخری پیغمبریم خما نه پس بل نبی نشی راتلے دریم دا چه په قرآن شریف کښں الله پاک فرمائی "نن ماستاسو د پارهٔ ستاسو دین مکمل کړو او خپل نعمت مې درباندې پوره کړو او ستاسو د پارهٔ مې د اسلام دین غوره کړو (مائده ع ۱)

ددے نه ثابته شوه چه د حضورؐ په ذریعه الله پاک دین مکمل کړے دے. او اسلام په هر شان سره کامل دین گرزیدلے دے نو په دے وجه د حضورؐ نه پس د بل یو پیغمبر د راتلو ضرورت نشته

س. ددے خبرے څه دلیل دے چه حضورؐ د ټولو پیغمبرانو نه په مرتبه کښں زیات دے؟

ج. د حضورؐ د ټولو پیغمبرانو نه غوره والے په قرآن سره ثابت دے او پخپله حضورؐ هم فرمائیلی دی: "اَنَا سَیِّدُ وُلْدِ اٰدَمَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ"، د قیامت په ورځ به زهٔ د ټول اولاد د آدم سردار یم. او دا ښکاره خبره ده چه په اولاد د آدم کښں ټول پیغمبران شامل دی نو حضورؐ د ټولو پیغمبرانو نه افضل او د دوی سردار شو.

د اصحابو کرامو رضؓ بیان

س۔ صحابی څهٔ ته وائي ؟

ج۔ صحابی هغه سړی ته وائي۔ چه د ایمان حالت کښی ئې حضور صلعم لیدلے وی۔ د هغوی م خدمت کښی حاضر شوے وی۔ او د ایمان حالت کښی وفات شوے وی۔

س۔ صحابه څومره دی ؟

ج۔ پړه زرګونو دی۔ چه د حضور صلعم خدمت کښی حاضر شو۔ مسلمانان شو۔ او په اسلام وفات شو۔

س ټول صحابه رض مرتبه کښی برابر دی۔ یا کم وزیات ؟

ج د صحابه ؤ مرتبے خپلو کښی کمے زیاتے دی۔ لیکن ټول صحابه رض د باقی امت نه افضل دی۔

س۔ صحابه ؤ کښی د ټولو نه افضل صحابه کوم کوم دی ؟

ج۔ (۱) حضرت ابوبکر صدیق رض د ټول امت نه افضل دے (۲) حضرت عمر فاروق رض د حضرت ابوبکر صدیق رض نه پس د تمام امت نه افضل دے (۳) حضرت عثمان غنی رض د عمر رض نه پس د تمام اُمت نه افضل دے۔ (۴) حضرت علی کرم الله وجهه د عثمان رض نه پس د تمام امت نه افضل دے۔ دا څلور بزرګان د رسول الله صلعم نه پس د هغوئ خلیفه شو۔

س۔ د خلیفه کیدو څه مطلب دے ؟

ج۔ د حضورؐ د وفات نہ پس د دین کار پہ سنبالولو اوکوم انتظامات چہ حضورؐ فرمائیلی دی دھغے پہ قائم لرلوکښ چہ کوم سړے دھغوئ قائمقام شونو ھغہ تہ خلیفہ وائی د خلیفہ معنیٰ د قائمقام او نائب دہ۔ د حضورؐ د رحلت نہ پس ټولو مسلمانانو پہ اتفاق سرہ حضرت ابوبکر صدیقؓ د دوئ اولنے خلیفہ جوړ کړے شو د دوئ نہ پس حضرت عمرؓ دویم خلیفہ او بیا حضرت عثمانؓ دریم او بیا حضرت علیؓ څلورم خلیفہ مقرر کړے شو۔ دے څلور واړو تہ خلفائے راشدین او چار یار وائی۔

ولایت اود اولیاؤ بیان

س۔ ولی څہ تہ وائی؟

ج۔ کوم مسلمانان چہ د خدائے تعالیٰ اود رسولؐ د حکمونو تابعداری کوی او ډیر عبادت کوی اود ګناھونو نہ ځان ساتی د خدائے د رسولؐ محبت ورتہ د دنیا نہ اود دنیا د ټولو څیزونو نہ زیات وی نو دے د خدائے مقرب اود وست شی نو دہ تہ ولی وائی۔

س۔ ولی بہ څنګہ پیژندے شی؟

ج۔ د ولی پیژندل دا سے دی چہ مسلمان متقی پرھیزګار وی ډیر عبادت کوی ذ خدائے اود رسولؐ محبت پرے غالب [illegible] دنیا حرص ئے نہ وی شروخت ورسرہ د اخرت خیال وی۔

س۔ ایا صحابیؓ تہ ولی ویلے کیدای شی؟

ج۔ هاں! ټول صحابہ د الله ولی (ولیان) دِی۔ ځکه چه دحضور صلعم د صحبت له برکته د هغوئ زړونو کښ د الله او رسول محبت غالب وو۔ د دنیا سره ئے محبت نه وو۔ او کثرت سره ئے عبادت کولو۔ ګناهونو نه پیچ کیدل۔ د الله او رسول د حکمونو تابعداری به ئے کوله۔

س۔ آیا یو صحابی یا ولی د نبی برابر کیدے شی؟

ج۔ هیڅ کله نه۔ صحابی یا ولی که هر څومره لویه درجه لوی۔ خو د نبی برابر کیدے نشی۔

س۔ دا سے ولی چه صحابی نه وی۔ د یو صحابی د مرتبے برابر یا د هغه نه زیات مرتبے والا کیدے شی؟

ج۔ نه۔ د صحابی کیدو فضیلت ډیر لوئے دے۔ ځکه هیڅ ولی (چه صحابی نه وی) مرتبه کښ د صحابی برابر یا زیات کیدے نشی۔


س۔ بعضے خلق خلاف شرع کارونه کوی۔ مثلاً مونځ نه کوی۔ یا ږیره خریئی۔ او خلق هغه ولی ګڼړی۔ نو د داسے خلقو ولی ګڼړل څنګه دی؟

ج۔ بلکل غلط خبره دہ۔ یاد سا تئ۔ کوم سړے چه د شریعت خلاف کارونه کوی، هغه هیڅ کله ولی کیدے نشی۔

س۔ آیا داسے ولی هم وی۔ چه شرعی احکام مثلاً مونځ، روژه ورته معاف وی ؟
ج۔ څوپورې چه سړے هوش و حواس کښې وی۔ او د هغه طاقت او استطاعت درست وی۔ هیڅ عبادت ورته نه معاف کیږی۔ او نه د ګناه څه خبره هغه د پاره جائز کیږی۔ کوم خلق چه د هوش وحواس او استطاعت درست حالت کښې عبادت نه کوی خلاف شرع کارونه کوی۔ او وائی چه مونږ د پاره دا خبره درست ده۔ هغه بے دینه دی۔ هیڅ کله ولی کیدے نشی۔

دمعجزے او کرامت بیان

س۔ معجزه څه ته وائی ؟
ج۔ الله تعالیٰ خپلو پیغمبرانو نه کله داسے خلاف عادت خبرے ظاهروی۔ چه د هغے کولو نه د دُنیا نور خلق عاجزه وی۔ چه خلق داسے خبرے لید و سره پوهه شی چه داد الله رالیږلے شوے دی۔ داسے خبرو ته معجزه وائی۔



د انبیاء علیهم السلام څو معجزے

س ۔ پیغمبرانو کوم کوم معجزے اوښودلے ؟

ج ۔ پیغمبرانو د الله حکم سره بے شمیره معجزے اوښودلے څو مشهورے معجزے دا دی :

(۱) د حضرت موسیٰ ؑ همساد مار شکل جوړ شو او د جادوګرو د جادو مارانے ئے تیر کړل ۔

(۲) د حضرت موسیٰ ؑ لاس کښی به الله تعالیٰ دا سے بریښنا پیدا کوله، چه د هغے رنړا به د نمر په رنړا غالبه کیده ۔

(۳) حضرت موسیٰ ؑ د پاره د دریاب نیل مینځ کښی ورچے لارے جوړے شوے ۔ او هغه خپلو ملګرو سره په هغے لاره ودریاب نه پوریو تلو ۔ کوم وخت چه د فرعون لښکر په هغے لارو د دریاب مینځ ته ورسیدو نو اوبه رایو ځائے شوے ۔ او فرعون د لښکو سره ډوب شو ۔

(۱) حضرت عیسیٰ ؑ به د الله تعالیٰ په حکم سره مړی ژوندی کول ۔

(۲) مادرزاد ړوند ته به ئے بینائی ورکوله ۔

(مور نه پیدا شوی)

(۳) د ابرص (فیس) برګی مرض به یې ښه کولو.
(۴) د خاؤرے مرغئ جوړولو سره هغه به یې ژوندے کولو سره الوځولے.
(۱) څلورم: د حضرت محمد صلعم لویه معجزه قرآن مجید دے. چه څوارلس سوه کاله مود ه تیره شوه. لیکن ننه پورے د عربی ژبے لوئے عالمانو فاضلانو با وجود د خپل پوره کوشش هم د قرآن مجید د د ړوکی نه وړوکی سورة په مثل هم جوړ نه کړے شو. او نه به یې قیامته پورے جوړ کړے شی.

(۲) دویمه معجزه د حضور صلعم معراج دے.
(۳) دریمه معجزه یې شق القمر دے.
(۴) څلورمه معجزه یې داده چه د الله د ښودنے سره د ډیرو ... تلونکو کاروانو یې د مکے نه خبر ورکړو. او هغه هغسے واقع شو.
(۵) پنځمه معجزه داده چه د حضور د دعا له برکته دیو دوه سړو طعام د سوونو خلقو ... پاره پوره شو. د ے نه علاوه نور په سوونو معجزے دی چه په لویو کتابونو کښې بیان سوی تاسو او لولئ.

س۔ معراج څه ته وائی؟
ج۔ د الله تعالیٰ حکم سره حضور صلعم د شپې په وینه په براق سور شو۔ مکے معظمے نه بیت المقدس پورے او هلته نه اوړه اسمانونو ته او بیا چرته چه الله تعالیٰ ته منظوره وه۔ هلته ئے تشریف یوړلو۔ په دغه شپه ئے د جنت او د دوزخ سیل هم اوکړو۔ او بیا خپل مقام ته واپس راغلو دے ته معراج وائی۔

س۔ شق القمر نه څه مراد دے؟
ج۔ شق القمر نه دا مراد دے۔ چه یوه شپه د مکے کفارو حضور صلعم ته اووئیل: چه مونږ ته څه معجزه اوبنایه۔ حضور صلعم سپوږمئ دوه ټکړے کړه۔ ټولو حاضرینو دواړه ټکړے اولیدے۔ بیا هغه دواړه ټکړے خپلو کښی یو ځائے شوے۔ او سپوږمئ چه څنګه وه هغسے شوه۔

س۔ کرامت څه ته وائی؟
ج۔ الله تعالیٰ د خپلو نیکو بندیانو د عزت زیاتولو د پاره کله کله د هغوئ په ذریعه داسے خبرے ظاهرے وی چه د عادت خلاف او مشکلے وی۔ چه نور خلق

ئے نشی کولے دے خبرو تہ کرامات وائی۔ نیک بندیانو اولیاء اللہ نہ د کرامتونو ظاھریدل جوق دی۔

س۔ معجزے او کرامت کښں څہ فرق دے؟

ج۔ کوم سړی چہ دپیغمبری دعوی کړے وی۔ او هغہ نہ څہ خلاف عادت او مشکلہ خبرہ ظاهرہ شی هغے تہ معجزہ وائی۔ او چا چہ دپیغمبری دعوی نہ وی کړی، لیکن متقی او پرهیزګارہ وی، او د هغہ ټول کارونه د شرعے مطابق وی۔ کہ هغہ نہ څہ داسے خبرہ ظاهرہ شی۔ نو هغے تہ کرامت وائی۔ او کہ د خلاف شرع او بے دینہ خلقو نہ څہ خلافِ عادت خبرہ ظاهرہ شی۔ هغے تہ استدراج وائی۔

س۔ آیا د اولیاء اللہ نہ کرامتونہ ظاهریدل ضروری دی؟

ج۔ نہ۔ دا څہ ضروری خبرہ نه دہ۔ چہ ولی نہ دے څہ کرامت ضرور ظاهر شی۔ ممکنہ دہ۔ چہ یو سړے د اللہ دوست او ولی وی۔ او ټول عمر کښں ترے هیڅ کرامت ظاهر نشی

س۔ بعضے خلاف شرع فقیرانو نہ داسے خبرے ظاهریږی چہ نور خلق ئے نشی کولے۔ هغوئ څنګہ کسان دی؟

ج داسے خلق چه د شریعت خلاف کار کوی. که څه داسے خبره تر ظاهره شی. نو پوهه شئ چه جادو یا استدراج دے. کرامت هیڅ کله نشی کیدے. داسے خلق ولی گنړل او د هغوئ خلافِ عادت خبرے کرامت گنړل شیطانی دهوکه ده۔

داودس باقی مسائل

س۔ بے اودسه مونځ کول څنګه دی؟

ج۔ سخت ګناه ده۔ بعضے علماء خو داسے سړی ته چه قصدًا بے اودسه مونځ ته اودریږی. کافر وئیلی دی۔

س مونځ دپاره داودس شرط کیدو څه دلیل دے؟

ج۔ په دے حقله د قرآن مجید دا آیت دے۔ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ۝

ترجمه: اے ایماندارو! هر کله چه تاسو مونځ دپاره پاسئ نو اول خپل مخونه او څنګلو پورے لاسونه اووینځئ او په خپلو سرونو مسح اوکړئ۔ او د ګیټو پورے پښے اووینځئ۔

او رسول الله صلعم فرمائیلی دی۔ د مونځ کُنجی (یا شرط)

طهارت دے۔

د اودس د فرائضو باقي مسائل

س۔ د وینزلو څه حد دے؟ چه هغے ته وینځل دوئیل شي۔

ج۔ د ومره اوبه اچول چه اندام باندې بهیدو سره د وه قطرے اوڅاڅي. دا د وینزلو ادنی مقدار دے۔ دے نه کم ته وینزل نه وائي. مثلاً چا لاس لمدولو سره په مخ راښکلو یا د ومره اوبه ئے په مخ واچولے چه هغه د بهیدو سره په مخ پاتے شوے، او نه څڅیدے. نو د اسے به نشي وئیلے چه هغه مخ اووینزلو. او اودس به ئے صحیح نه وی۔

س۔ د کوموا ندامونو وینزل چه اودس کښې فرض دی هغه څو ځله وینزلو سره فرض ادا کیږی؟

ج۔ یو ځل وینزل فرض دی۔ دے نه زیات درے ځله پورے وینزل سنت دی. او درے ځله نه زیات وینزل ناجائز او مکروه دی۔

س۔ کوم ځائے نه کوم ځائے پورے د مخ وینزل فرض دی؟

ج۔ د تندی د ویښتو د ځائے نه د زنے لاندې پورے او

یو غوږ د پوسکۍ نه د بل غوږ پوسکۍ پورې وینزل فرض دی۔

س۔ د کومو اندامونو وینزل چه فرض دی۔ که هغې کښې لږ ځائے اوچ پاتے شی۔ نو اودس به درست وی یا نه؟

ج۔ که د ویښته برابر ځائے اوچ پاتے شی۔ نو اودس نه کیږی۔

س۔ که د یو سړی شپږ ګوتے وی۔ نو د شپږمے ګوتے وینزل فرض دی یا نه؟

ج۔ هاں! فرض دی۔ او د غسے کوم څیز چه زیات پیدا شی او هغې مقام کښې د ننه وی۔ چه د هغې وینزل فرض دی۔ نو د هغې زیات وینزل فرض کیږی۔

س۔ د مسح کولو څه معنٰی ده؟

ج۔ لاس اوبو سره لوند ولو سره یو اندام باندې ګرځولو ته مسح وائی۔

س۔ په سر مسح کولو د پاره نوے اوبه اخستل ضروری دی۔ یا په لاسونو پاتے لوند والے کافی دے؟

ج۔ نوے اوبه اخستل بهتر دی۔ لیکن که د لاس وینزلو نه پس باقی پاتے لوند والے سره مسح اوکړی۔ نو هغه هم کافی ده۔ خو هر کله چه لاس سره دے یو ځل مسح

اوکړه. نو بیا بل ځائے هغې سره مسح کول جائز نه دی دغسې که په لاس لوند والے نوی. څه ویښتو لے شوے یا مسح شوی اندام سره یے هغه لوند کړو نو هغې سره هم مسح جائز نه دہ۔

س۔ که سړی سر باندې د باران څاڅکی پریوتل او اوچ لاس یے په سر اښکلو. او لاس سره د باران اوبه یے په سر خورے شوے، نو مسح ادا شوه یا نه؟

ج۔ ادا شوه۔

س۔ که د یو سړی لاس د ختکلے نه لاندې پریکړے شوے وی نو هغه لاس وینزل ضروری دی، یا نه؟

ج۔ هاں۔ خو پورے چه ختکل یا هغې نه لاندې څه حصه باقی وی. نو باقی حصه او ختکل وینزل فرض دی؛

داودس د سنتو باقی مسائل

س۔ که اودس کښی نیت اونه کړی نو څه حکم دے؟

ج۔ که د اودس نیت یے اونه کړو. لکه دریاب کښی پریوتو یا باران کښی ولاړ وو. او د اودس ټولو اندامونو باندې اوبه اوبهیدے. نو اودس یے اوشو. هغې او دے سره مونځ کول جائز دی. لیکن د اودس ثواب یے

نه حاصلیږی۔

س۔ د اودس نیت کول څنګه پکار دی؟

ج۔ د نیت معنیٰ د ارادے کولو ده. هر کله چه اودس کوی. نو د اراده دِ اوکړی چه ناپاکی لری کولو حاصلولو او مونځ جائز کیدو د پاره اودس کوم بس د اراده او خیال کول د اودس نیت دے۔

س۔ د نیت ژبے سره کول ضروری دی که نه؟

ج۔ ژبے سره وئیل ضروری نه دی۔ خو که اووائی نو څه حرج نشته۔

س۔ چه اودس وی، او نوے اودس کوی، نو څه نیت به کوی؟

ج۔ صرف دا نیت دِ اوکړی. چه د اودس د پاسه اودس کولو او فضیلت او ثواب حاصلو د پاره اودس کوم۔

س۔ اودس کښی بسم الله وئیل پوره پکار ده. یا نه؟

ج۔ پوره بسم اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ وئیل یا بِسْمِ اللهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی دِیْنِ الْاِسْلَامِ یا بِسْمِ اللهِ وَ الْحَمْدُ. په درے واړو کښی هره یوه چه وائی جائز دی۔

س۔ مسواک کول څنګه دی۔ او ددے څه طریقه ده؟
ج۔ مسواک کول سنت مؤکده دی۔ ددے ډیر لوئے ثواب دے۔ او ددے کښی ډیرے فائدے دی۔ مسواک د ترخے وُنے د جړیا لرګی کیدل پکار دی۔ لکه د پیلو جړ یا د نیم لرګی مسواک۔ یو لیشت نه زیات نه دے پکار۔ و ییز لوسره دے مسواک کوی۔ او و ییز لوسره دے اِبد دی۔ اول ښی طرف غاښونو کښی بیا کس طرف غاښونو کښی کول پکار دی۔ او هره پیره نوے اوبه اخستل پکار دی۔

س۔ غړغره کول څنګه دی؟
ج۔ او دس او غسل کښی غړغره کول سنت دی۔ لیکن د روژے حالت کښی نه دی کول پکار۔ ښی لاس سره خُلے ته اوبه اچول پکار دی۔

س۔ پوزه کښی د اوبو اچولو څه طریقه ده؟
ج۔ ښی لاس کښی دِ اوبه واخلی۔ او د ساه اخستو په ذریعه دِ پوزے ته او خیژوی۔ لیکن دومره دے نه خیژوی۔ چه دماغ ته اورسی۔ روژه دار له پکار دی چه صرف لاس سره اوبه پوزے ته اورسوی۔ ساه سره دِ نه راکاږی۔ څنګه چه ئې اوپوزه کښی اوبه

اچول دواړه سنّت موکّده دی۔

س۔ د ږیرې د کومې حصّې خلالول سنّت دی؟

ج۔ د ږیرې د لاندې او د ننه ویښتو خلال کول سنت دی او کوم ویښته چه مخ طرف ته د مخ څرمن سره متصل دی۔ د هغې وتولو وینزل فرض دی۔

س۔ د ګوتو خلال کول څنګه کول پکار دی؟

ج۔ د لاسو نو د ګوتو خلال دې داسې اوکړي۔ چه د یو لاس ګوتې د بل لاس ګوتو کښې اچولو سره دې او خوزوی او د پښو د ګوتو خلال دې د ګس لاس قچې ګوتې سره اوکړي۔ د ښۍ پښې د قچې ګوتې نه دې شروع کړي۔ د ګسې پښې په قچه ګوته دې ختم کړي۔

س۔ د ټول سر مسح کول څنګه پکار دی؟

ج۔ دواړه لاسونه اوبو کښې لامده کړي۔ د سر د واړه طرف ته د تندی د ویښتو په ځائې ئې کیږدی۔ او د سټ طرف ته بوځي۔ او بیا واپس ئې راولي۔ د دې خیال ساتئ چه ټول سر باندې لاس راښکلې شي۔

س۔ د غوږونو مسح د پاره نوې اوبه اخستل پکار دی یا نه؟

ج۔ نه۔ د سر مسح د پاره چه کومې اوبه اخستې وی۔ هغه

کافی دی د غوږونو د ننه مسح د شهادت گوتو سره پکار ده
او د غوږ بهر مسح کټو گوتو سره پکار ده۔

دا اودس د مستحباتو باقي مسائل

س۔ ښي طرف نه شروع کول سنت دی، یا مستحب؟
ج۔ بعضې علماؤ دے ته سنت وئیلی دی. او بعضو مستحب ښودلی دی۔
س۔ په سټ د مسح کولو څه صورت دے؟
ج۔ په څټ د دواړو لاسونو د گوتو د شا طرف نه مسح کول پکار دی۔ په غاړه (موئ) مسح کول بدعت دے۔
س۔ اودس کښې نور څه څه آداب دی؟
ج۔ د اودس اداب ډیر دی. مثلاً د کیچې گوتے سره لمدولو سره د غوږونو سوروکښې ننباسل۔ د مونځ د وخت نه مخکښې اودس کول۔ اندامونه د وینځلو په وخت لاس سره مږل، گوته یا ځلے یا انگوټهئ) خوزول۔ د دُنیا خبرے نه کول۔ نور سره په مخ او به نه ویشتل۔ زیاتے او به نه مصرفول۔ د هر اندام د وینځلو په وخت بِسْمِ اللهِ وئیل۔ د اودس نه پس درود شریف، کلمۂ شهادت او دا دُعا لوستل: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ

مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ. اودس نه پخ شوي اوبه په ولاړه څکل. اودس نه پس دوه رکعاتهٔ تحية الوضوء کول وغيره.

د اودس د ماتيدو باقي مسائل

س۔ ناپاک څيز د بدن نه وتلو سره خومره اوبهيږي، نو اودس ماتيږي؟

ج۔ څه ناپاک څيز بدن نه وتلو سره هغې مقام طرف ته چه دهغې اودس يا غسل کښې وينځل فرض دي. که لږ هم اوبهيږي. نو اودس ماتيږي۔

س. د سترګې وينې وتلو سره سترګه کښې دننه اوبهيږي بهر راونه وځي. خو اودس مات شو يا نه؟

ج۔ مات نه شو. ځکه چه د سترګې دننه حصّه نه اودس کښې وينځل فرض دي. نه غسل کښې۔

س۔ که زخم باندې وينه ظاهر شي. هغه کوټې يا کپړې سره اوچه کړي. بيا ظاهره شي. بيا ئې اوچه کړي۔ څو ځله داسې اوکړي، نو اودس مات شو يا نه؟

ج۔ اوګورئ که وينه ئې اوچه کړې نه وي، نو د بهيدو لائقه وه يا نه. که دومره وه چه بهيدلې به وه. نو اودس

مات شو. او که د ومره نه وی نو اودس نه دے مات.

س۔ ق کښې مخکښې کوم څیز ونو سره اودس ماتیږی ؟

ج۔ که ق کښې د صفرا زیړے اوبه یا وینه یا طعام یا اوبه اوځی. او په ډکه خُله وی بنو اودس ماتیږی. او که خالص بلغم اوځی نو اودس نه ماتیږی۔

س۔ که لږ لږ قے څو ځله اوکړی. نو څه حکم دے ؟

ج۔ که یو ځل زړه را ایشید و سره څو ځله قے اوکړی. او د هغه مجموعه د ومره وی. چه خُله پرې ډکه شی. نو اودس مات شو. هو! که یو ځل زړه را ایشید و سره قے اوکړی بیا جوش لاړ شی. او دوباره جوش پیدا کید و سره لږ شان قے اوکړی، نو هغه دوارهٔ ځله قے به نشی جمع کولے. او اودس به نه ماتیږی۔

س۔ بدن کښې یو ځائے ننګئ وه. هغې نه د وینے یا نو داغ کپړے ته اونګی. نو کپړه پاکه ده. یا ناپاکه ؟

ج۔ که وینه یا نو وتلو سره د بهیدلو لائق نه وی. په کپړه لګید و سره داغ را اشی. نو هغه کپړه پاکه ده، لیکن بیا هم وینځل ئے بهتر دی۔

س۔ قے که په ډکه خُله نه وی. نو هغه ناپاک دے یا نه؟

ج۔ نه۔

س۔ جورے د بدن اشنتو سرہ وینہ اوځکلہ۔ او دکہ شوہ یا ماشے روکے (پسو) او چیچلو۔ نو دے سرہ اودس مات شو۔ یا نہ؟

ج۔ د جورے وینے څکلو سرہ اودس مات شو۔ اګر کہ د هغہ د لوے کولو نہ پس چیچلی زخم نہ اوبہ او نہ بهیږی ځکہ چہ ژورہ د ومرہ وینہ څکی۔ کہ هغہ وینہ بدن نہ وتلو سرہ د هغہ ځپے تہ نہ تلے۔ نو یقیناً بہ بهیدلے وہ او د ماشے چیچلو سرہ اودس نہ ماتیږی۔ ځکہ چہ د ا ډیر لږ مقدار کښی وینہ څکی چہ ذ بهید ولائقہ نہوی

س۔ کوم قِسم خوب سرہ اودس نہ ماتیږی؟

ج بہ ولاړہ ولاړہ اودہ کیدو۔ یا بغیر د دہ وهلو پہ ناستہ اودہ کیدو سرہ یا د مونځ څہ حالت کښی اودس نہ ماتیږی۔ لکہ سجدہ یا قعدہ کښی اودہ شو۔ نو اودس نہ ماتیږی۔

س۔ آیا څوک سړے داسے هم شتہ۔ چہ اودہ کیدو سرہ ئے اودس نہ ماتیږی؟

ج۔ د انبیاء علیہم السلام اودس اودہ کیدو سرہ نہ ماتیږی دا د هغوئ خصوصیت او خاص فضیلت وو۔

س۔ مونځ کښی پہ قهقهہ خندا سرہ د تولو اودس

ماتیږی. او قهقهه نه څه مراد دے؟
ج قهقهه نه دا مراد دے. چه دومره زور سره اوخاندی چه د هغه اواز خواکښی خلق واوری. مونځ کښی په قهقهه خندلو سره د اودس د ماتیدو دا شرطونه دی
(۱) چه خندیدونکے بالغ سړے یا ښځه وی. ځکه چه د نابالغه په قهقهه خندا سره اودس نه ماتیږی.
(۲) ویښه کښی اوخاندی. که مونځ کښی اوده شو. اوخوب کښی په قهقهه وخندل. نو اودس ئے نه ماتیږی.
(۳) کوم مونځ کښی چه خندلی دی. هغه رکوع سجده والا مونځ وی. د جنازے مونځ کښی په قهقهه خندلو سره اودس نه ماتیږی.
س. آیا د بل سړی په ستر نظر اچولو سره اودس ماتیږی
ج. خپل یا د بل سړی ستر باندِ قصدًا یا بلاقصد نظر اچولو سره اودس نه ماتیږی.

دغسل باقی مسائل

س. دغسل څو قسمونه دی؟
ج. درے قسمونه دی (۱) فرض (۲) سنت (۳) مستحب.

س۔ فرض غسلونہ څو دی ؟
ج۔ شپږ دی۔ او بیان بہ یې مخکښې راشي
س۔ سنت غسل څو دی۔ او کوم کوم دی ؟
ج۔ څلور دی۔ او هغه دا دی : دجُمع مونځ دپارهٔ غُسل کول (۲) د دواړو اخترونو دپارهٔ غسل کول (۳) د ذج د احرام تړلو نہ مخکښې غُسل کول (۴) عرفات کښې وقوف نہ مخکښې غسل کول۔
س۔ مستحب غسل څو دی۔ او کوم کوم دی ؟
ج۔ مستحب غسل ډیر دی۔ هغې کښې څو دا دی۔ د شعبان میاشت پہ پنځلسمہ شپہ چہ هغې تہ شب برات وائي۔ غسل کول د عرفې پہ شپہ غسل کول۔ د نمر یا سپوږمۍ تندر نیولو مونځ دپارهٔ غسل کول۔ استسقا مونځ دپارهٔ غسل کول۔ دَ مدینې منورې او مکې مکرمې دَ داخلیدُ دپارهٔ غسل کول۔ د مړي د غسل نہ پس غسل۔ د کافر د اسلام راوړلو نہ پس غُسل۔
س۔ کہ د غسل حاجت وی۔ او د دریاب کښې غوپہ او وهي یا باران کښې اودریږی۔ او ټول بدن باندې اوبہ اوبهیږی۔ نو غسل بہ ادا شي یا نہ ؟
ج۔ هاں ادا بہ شي۔ پہ شرط د دې چہ خُلہ کنګالہ کړی

او پوزه کښې اوبه واچوی۔

س۔ د غسل حالت کښې قبلې طرف ته مخ کول جائز دی یا نه؟

ج۔ که د غسل وخت کښې بدن بربنډ وی۔ نو قبلې طرف ته مخ کول ناجائز دی۔ او که ستر پټ وی، نو څه حرج نشته۔

س۔ د ستر ښکاره کولو سره غسل کول څنګه دی؟

ج۔ غسل خانه کښې یا داسې مقام کښې چرته چه د نورو سړو نظر د هغه په ستر نه پریوځی۔ بربنډ بدن لامبل جائز دی۔

س۔ غسل کښې مکروه څو مره دی؟

ج۔ (۱) زیاتې اوبه ضائع کول۔ (۲) د ستر د بربنډیدو په حالت کښې خبرې کول (۳) یا قبلې طرف ته مخ کول (۴) د سنت خلاف غسل کول۔

س۔ که غسل نه مخکښې اودس اونه کړی۔ نو غسل نه پس موږ د پاره اودس کول ضروری دی یا نه؟

ج۔ غسل کښې د ننه اودس هم اوشو۔ بیا د اودس کولو حاجت نشته۔

په موزو د مسح کولو باقی مسائل

س۔ د مسح موده د کوم وخت نه حسابیږی؟

ج۔ کوم وخت نه چه اودس مات شوے وی۔ هغه وخت نه یوه ورځ یوه شپه یا درے ورځے درے شپے مسح جائز ده مثلاً د جُمعے سحر کښ اودس اوکړو موزے یے واچولے او دهغه دا اودس ماسپخین وخت ختمیدو یا ندِ مات شو که دا سړے مقیم دے نو د خالی ماسپخین وخت پورے مسح کولے شی که مسافر دے نو د ګل (پیر) د ورځے ماسپخین پورے مسح کولے شی۔

س۔ مسح کوم کوم څیزونو سره ماتیږی؟

ج۔ کوموڅیزونو سره چه اودس ماتیږی۔ هغه سره مسح هم ماتیږی۔ او د هغے نه علاوه د مسح موده تیریدو او موزے کوزولو او د درے ګوتو برابر موزے شلیدو سره هم مسح ماتیږی۔

س۔ که د اودس حالت کښ موزه نے اوبښکله۔ یا په اودس کښ د مسح موده پوره شوه۔ نو څه حکم دے؟

ج۔ دے د واړه صورتونو کښ صرف پښے وینزلو سره موزے اچول کافی دی۔ او پوره اودس کول مستحب دی۔

س۔ که مسافر په موزو مسح کول شروع کړل۔ او یوه ورځ یوه شپه نه پس کورته راغے۔ نو څه به کوی؟

ج۔ موزے به اوکاږی۔ او د سره د نوے مسح شروع کړی

س۔ که مقیم مسح شروع کړه۔ او بیا په سفر لاړ و نو څه به کوی؟

ج۔ که یوه ورځ او یوه شپه پوره کیدو نه مخکښې ئې سفر اوکړو۔ نو درې ورځو درې شپو پورې دِ موزې اچوی او مسح دِ کوی۔ او که یوه ورځ یوه شپه پوره کیدو نه پس ئې سفر اوکړو۔ نو موزې دِ اوباسی د سره دِ نوې مسح شروع کړی۔

س۔ که موزه څو ځایه لږه لږه شلیدلې وی۔ نو څه حکم دې؟

ج۔ یوه موزه څو ځایه لږه لږه شلیدلې وی نو هغه جمع کولو سره دِ اوکوری که ټوله د درې ګوتو برابر وی نو مسح جائز نه ده او که د دوو ګوتو نه کمه وی نو مسح جائز ده۔ که دواړه موزې شلیدلې وی۔ او د دواړو شلیدلې ځایونه د درې ګوتو برابر وی۔ لیکن هر شلیدلې ځائې د درې ګوتو د مقدار نه کم وی۔ نو مسح جائز ده۔

د نجاست حقیقیه او د هغې د طهارت باقی مسائل

س۔ د غرمې څیزونه لکه پیدار موزې وغیره۔ که د کښې جسم دار نجاست اولګی۔ نو څنګه به پاکیږی؟

ج۔ منړکه یا بل څیز باندې مږ لو سره پاکیږی۔ په شرط ددې
چه مږ لوسره د نجاست جسم او اثر لاړ شی۔

س۔ که دې څیزونو ته متیازې، شراب یا دغسې څه بل
نجاست او لګی۔ نو څنګه به پاکیږی؟

ج۔ او بو یا بل څه بهید ونکی پاک څیز سره چه د نجاست
اثر لرې کړی۔ ویې لو سره پاکیږی۔ یعنې سوا د جسم
دار نجاست نه، که نور نجاستونه او لګی۔ نو مږ لوسره
دخر مڼې څیزونه نه پاکیږی۔ بلکه وینزل ضروری دی

س۔ چاقو، چاړه، توره او اوسپنه، یا چاندی، یا تانبه،
المونیم وغیره څیزونه که ناپاک شی۔ نو بغیر د وینزلو
پاکیږی یا نه؟

ج۔ د اوسپنې څیزونه چه صاف وی۔ زنګ شوی نه وی۔
او چاندی سره زر د تانبې، المونیم وغیره او د شیشې
څیزونه او د هاتی غابښ یا د هډوکی څیزونه او چینی
لوښی دا ټول څیزونه چه صاف او نقشدار نه وی۔
دغسې مږ لو سره که د نجاست اثر لاړ شی۔ نو پاکیږی۔

س۔ د نقش دار کیدو نه څه مراد دې؟

ج۔ یعنې د هغه جسم کښې داسې نقش نه وی۔ چه هغې سره
جسم بنکته پورته کیږی۔ ځکه چه داسې نقش کښې

مږلو نه پس هم د نقش باقي پاتې کیدو احتمال دے.
هاں! که صرف د رنګ نقش وی. نو دا څیزونه د
مُږلو سره پاکیږی.

س. په مزکه نجاست مثلاً متیازے یا شراب وغیره پریوځي
نو څنګه به پاکیږی؟

ج. مزکه چه اوچه شی او د نجاست اثر (رنګ، بوئ، مزه)
تِرلاړشی. نو پاکه شی.

س. مکان، جومات کښی پخو خښتو یا د کانړی فرش یا
دیوال باندِ نجاست پریوځي. نو څنګه به پاکیږی؟

ج. خښته او کانړی چه عمارت کښی لګیدلی دی او چیډ و
باندِ او د نجاست اثر تلو باندِ پاکیږی.

س. کوم څیزونه چه وینځلو سره نشی نچوړی کیدے.
مثلاً د تانبے لوښی، یا د غوړلو غټے غټے ګدئ. نو هغه
پاکولو دپاره څنګه وینځلے شی؟

ج. د اسے څیزونه چه د هغے نچوړول غیر ممکن یا مشکل دئ
د هغے د وینځلو طریقه دا ده: چه هغه یو ځل وینځلو
سره پریږدی. بیا چه او به څڅیدل ئے بند شی. نو په
دویم ځل وینځلو سره ئے پریږدی. هرکله چه دا وبو
څڅیدل بند شی. نو په دریم ځل ئے او وینځی. پاک به

شی۔ خو وینزلو کښی چه څومره مړول ممکن وی۔ هغومره مُړول ضروری دی۔ چه د نجاست اوښکلو کښی د خپل طاقت برابر کوشش اوکړے شی۔

س۔ خاورین لوښی که ناپاکه شی۔ نو پاکیدے شی که نه؟

ج۔ خاورین لوښی هم وینزلو سره پاکیږی۔ او د هغے د پاکولو طریقه دا ده چه دے نه مخکښی سوال او جواب کښی لیکلے شوے ده۔

س۔ پلیت څیز مثلاً سوټی سوزید و سره ایرے شی۔ نو هغه ایره پاکه ده۔ یا ناپاکه؟

ج۔ ناپاک څیز چه سوزید و سره ایره شی۔ نو هغه ایره پاکه ده۔

س۔ غوړو کښی که مږه غورځید و سره مړه شی۔ نو د هغے څه حکم دے؟

ج۔ غوړی که نړه (جم شوے وی)۔ نو مږه لا دے تر ے راوکاږی۔ د هغے خواوشا غوړی دِ اوکاږی۔ باقی غوړی پاک دی۔ او که ویلی شوے وی۔ نو ټول غوړی ناپاک دی

س۔ ناپاک غوړی او تیل څنګه پاکولے شی؟

ج۔ ناپاک غوړی یا تیلو کښی دے د هغے برابر اوبه واچوی۔

جوښ دِ ورکړی. بیا کوم غوړی یا تیل چه د اوبو د
پاسه راشی. هغه کوز کړئ. او درے ځله د غسے اوکړی
نو هغه غوړی یا تیل به پاک شی۔

د استنجاء باقی مسائل

س۔ د استنجاء کوم کوم صورتونه مکروه دی؟
ج۔ قبلے طرف ته مخ یا شا کول. د اسے ځائے کښی استنجاء کول
چه د چا سړی نظر د استنجاء کونکی په ستر پریوځی
مکروه دی۔

س۔ د لویو وړو بولو کولو حالت کښی کومے کومے خبرے
مکروه دی؟

ج۔ قبلے طرف ته مخ یا شا کولو سره لوئے واړه بول کول.
په ولاړه متیازے کول. تالاب، نهر یا کوهی کښی یا د
هغے په غاړه لوئے واړه بول کول، د جومات دیوال
سره یا قبرستان کښی لوئے واړه بول کول. د مږے
سوړه یا بله څه سوړه کښی متیازے کول. د لوئے واړه
بول کولو په وخت خبرے کول. لاندِ طرف ته کینا ستل
او اوچت ځائے باندِ متیازے کول. د خلقو د ناستے په
ځائے یا لار کښی لوئے واړه بول کول ...ډس یا غسل

ځائے کبنی، لوئے واړه بول کول. دا ټولے خبرے مکروه دی.

د اوبو باقی مسائل

س. نمر کبنی گرمے شوے اوبو سره اودس جائز دے یا نه؟

ج. جائز دے. لیکن بهتر نه دے.

س. د اودس کولو په وخت بدن نه که د اوبو قطرے لوبنی کبنی او غورځیږی. نو هغے اوبو سره اودس جائز دے، یا نه؟

ج. د اودس کولو وخت چه کومے اوبه بدن نه غورځیږی که بدن باندِ نجاست حقیقیه نه وی. نو هغے ته مستعملے اوبه وئیلے شی. مستعملے اوبه که غیر مستعملو اوبو سره یو ځائے شی، نو د هغے دا حکم دے. چه خو پورے د مستعملو اوبو مقدار د غیر مستعملو نه کم وی. هغے وخته پورے هغے سره اودس او غسل جائز دے. او هر کله چه د مستعملو اوبو مقدار د غیر مستعملو اوبو برابر یا د هغے نه زیات شی. نو بیا هغے سره اودس او غسل ناجائز دے.

س۔ که اوبو کښې څه پاک ځیز یو ځای شي. مثلاً صابون زعفران. نو هغې سره اودس جائز دے یا ناجائز؟

ج۔ اوبو کښې که پاک ځیز یو ځائ کیدو سره یو دوه وصف بدلید و باندې هم اودس جائز دے. هرکله چه درے وارړه وصف بدل شي او اوبه ټینګې شي. نو اودس ناجائز کیږي۔

س۔ که تالاب یا حوض شرعي ګز سره دوه ګزه پلن او پنځوس ګزه اوږد وي. یا څلور ګزه پلن او پنځویشت ګزه اوږد، یا پنځه ګزه پلن او شل ګزه اوږد وي نو هغه د لوئے حوض او جاري اوبو حکم کښې دے که نه؟

ج۔ هان۔ هغه د جاري اوبو حکم کښې دے۔

س۔ که د حوض پراسته مخ د شرعي[1] مقدار نه کم وي لیکن لاندې حصه د هغې ډیره لویه ده۔ نو هغه د لوئے حوض او جاري اوبو حکم کښې دے، یا نه؟

ج۔ که حوض لس ګزه پلن. لس ګزه اوږد وي. لیکن د هغې څلور طرف ته یا یو طرف، دوه نه د هغې مخ پټ دے. نو کوم ځیز سره یې چه پټ کړے دے. که هغه د اوبو نه اوچت او جدا وي۔ نو هغه حوض ټیک دے۔ او د جاري اوبو حکم کښې دے۔ او که هغه ځیز

[1] ګز نه شرعي ګز مراد دے چه د ممبري ګز تقریباً ۱۹ ګره دي۔

چه هغې سره ئې اوبه پټې کړې دي. او بو سره نکیدلې وي. نو هغه حوض تیک نه دے او د لږ واو بو حکم لري. خلاصه دا چه د او بو دومره حصه معتبره ده. څومره چه د پاسه نه څرګنده وي یعنې څه څیز سره نکیدلې نه وي. د هغې مقدار د شرعي مقدار برابر کیدل پکار دي او که پرانستې حصه ئې کمه وي نو د لاندې نه خواه څومره زیاته وي د هغې اعتبار نشته.

د کوهي باقي مسائل

س. که کوهي کښې د کونترې یا مرغۍ ګنګې ولوېږي نو څه حکم لري؟
ج. د کونترې، مرغۍ ګنګې یاد او بڼ چیلې ګډې د وه څلور بچو سره کوهے نه پلیتیږي
س. که کوهي کښې کافر بوکه یا او بنکلو د پاره کوز شو. او او بو کښې ئې غوپه او وهله. نو د کوهي څه حکم دے؟
ج. که هغه کافر کوهي ته د کوزیدو نه مخکښې ولمبولے شي. او پاکه کپړه ترې لو سره کوهي ته کوز شي. نو کوهے پاک دے. او که د کوزیدو نه مخکښې او نه لامبې او خپلو مستعملو کپړو سره کوز شي. نو د کوهي ټولې اوبه به اوبنکلې شي. ځکه چه د کافرو بدن او کپړې اکثره ناپاکه وي.
س. که کوهي باندې څه خاص بوکه نه وي. بلکه خلق ترې

مختلف لوښي واړهٔ بولو سره اوبه ګډ کوي. نو دغه کوهي پاکولو د پاره کوم بوکه سره اوبه را وبنکل پکار دي؟

ج- هر کله چه په کوهي څه خاص بوکه نه وي. یا د کوهي خاص بوکه ډیر لوښي یا ډیر وړوکي وي نو د ې صورت نو کښې درمیانه بوکه اعتبار دے. درمیانه بوکه هغه دے. چه هغې کښې د اتیا روپئ سیر سره درے نیم سیره اوبه راځي.

د تیمم بیان

س- تیمم څه ته وائي؟

ج- پاکه خاوره یا څه داسې څیز سره چه د خاورے حکم کښې وي. بدن د نجاست حکمیه نه پاکولو ته تیمم وائي.

س- تیمم کله جائز دے؟

ج- هر کله چه اوبه بیانه موندے شي. یا د اوبو استعمال سره د ناره وغیره کیدو، یا د مرض نه یا تیدو اندیښنه وي. نو تیمم کول جائز دي.

س- د اوبو نه بیاموندو څه څه صورتونه دي؟

ج۔ هر کله چه اوبه یو میل لرے وی۔ یا د دښمن دخوف د وجے نه اوبه نشی اخستے۔ مثلاً د کور نه بهر کوهے موجود دے۔ خو ویره د ه۔ که کور نه اوځی۔ نو دښمن یا غل به ئے قتل کړی۔ یا کوهی سره ډیر غټ مار کرځی یا امزرے ولاړ دے۔ یا لړے اوبه ورسره موجود دی۔ خو ویره ده۔ که هغه اودس کښې استعمال کړی نو د تندے نه به ورته تکلیف وی۔ یا کوهے موجود دے۔ خو بوکه سرئ نشته۔ یا اوبه موجود دی خو د اسرے پا سیلدے نشی چه هغه راوړی۔ او بل سړے موجود نه دے۔ د ا ټول صورتونه د اوبو نه بیا موندو حکم کښې داخل دی۔

س:۔ د بیمار کید و خوف کله معتبر دے؟

ج۔ هر کله چه خپلے تجربے سره کمان غالب شی۔ یا د لوئے حکیم یا ډاکټر و ینا سره معلومه شی چه د اوبو استعمال سره به ناجوړه شی۔ نو تیمم درست دے۔

س:۔ د اوبو د یو میل لرے کید و نه څه مراد دے۔ لږ وضاحت سره ئے بیان کړئ؟

ج۔ هر کله چه انسان یو داسے ځائے کښې وی۔ چرته چه اوبه موجود نه وی۔ لیکن هغه ته د چا بنود لو سره

یا خپل اټکل سره د دے خبرے غالب گمان اوشی چه
اوبه یو میل کښی د ننه دی. نو اوبه راوړل او
اودس کول ضروری دی۔
خو هر کله چه څوک ښودونکے هم نه وی. او هیڅ
طریقه سره د اوبو پته اونه لګی لیکن هغه یو میل یا
نزیاتے لرے وی. نو بیا اوبه راوړل ضروری نه دی
تیمم کول جائز دی۔
س۔ تیمم کښی څو فرض دی؟
ج۔ درے فرض دی (۱) نیت کول (۲) په خاوره لاس
وهل او په مخ راښکل (۳) دواړه لاسونه په خاوره
وهلو سره دواړه لاسونه څنګلو پورے مږل۔
س۔ د تیمم ... طریقه اوښائے؟
ج۔ ... اوکړی چه زه د ناپاکی لرے کولو او مونځ
کولو دپاره تیمم کوم. بیا دواړه لاسه د خاورے غټے
لوټے باندے وهلو سره هغه اوځنډی. که زیاته خاوره
ورسره اولګی، نو خُلے سره دِ پوکے ورکړے. او دواړه
لاسونه په مخ داسے راکاږی چه هیڅ ځائے باقی پاتے
نشی. د ویښته برابر ځائے هم که پاتے شی. نو تیمم به
درست نه وی. بیا په دویم ځل دواړه لاسونه په خاوره

او وهی او هغه خنډ لو سوه ډکس لاس ځلور ګوتے د بنی لاس ځلور ګوتو د سر ونو لاندِ ایښودو سره را ښکلو سره خنګلے پورے بوځئ. د غسے بو تلو کبنی به د مبنی لاس لاندِ جانب ته لاس او ګرځئ. بیا ډکس لاس تلے د بنی لاس د پا سه طرف ته ځنګلے نه ګوتو پورے را ښکلو سره را و لی. او د ګس لاس د کیټے ګوتے د ننه جانب د بنی لاس د کیټے ګوتے په شا او ګرځوی. بیا د غسے بنے لاس په ګس او ګرځوی. بیا د ګوتو خلال او کړی که ګوتئ ئے اچولے وی. نو د هغے کوزول یا خوزول ضروری دی. د به یرے خلال لول هم سُنت دی۔

س۔ د اودس او غُسل دواړو تیمم جائز دے. یا صرف د اودس؟

ج د دواړو تیمم جائز دے۔ س۔ په کومو څیزونو تیمم جائز دے؟

ج۔ پاکه خاوره، شګه، کانړے، چونا، او د خاورے کچه یا پوخ لوښے چه رو غنی نه وی. او د خاورے کچه یا پخے خښتے او خاوره یا خښتے یا کانړے یا د چونے دیوال او په ګرد ملتانی خاوره باندِ تیمم کول هم جائز دی۔

س۔ په کومو څیزونو تیمم کول ناجائز دی؟

ج۔ لرګے، او سپنه، سره زر، چاندی، تانبه، المونیم، پیتل

شیشه قلعی، سِکه، جست، غنم، وریشے او تمامے غلے کپړه، ایره دے نو لو خیزونو باندِ ناجائز دے۔ د اسے پوهه شئ چه کوم خیزونه اورکښې ویلی کیږی۔ یا سوزید و سره ایره کیږی۔ په هغے تیمم کول ناجائز دی

س۔ کانړے یا چونا یا دخښتو دیوال باندِ چه غبار (گرد) نه وی۔ نو تیمم پرِ جائز دے یا نه؟

ج۔ په کومو خیزونو چه مونږ تیمم جائز سنودلے دے په هغے د غبار (گرد) کیدو شرط نشته۔ کانړے یا خښته یا خاورین لوښے چه ویینزلے شوے نه وی۔ بیا هم په هغے تیمم کول جائز دی۔

س۔ په کومو خیزونو چه تیمم کول ناجائز دی۔ که په هغے غبار (گرد) وی۔ نو تیمم کیږی یا نه؟

ج۔ هاں! که دو مره گرد وی، چه د لاس نوهلو سره والوځی یا هغے خیز باندِ د لاس اینبودو سره نخښه پریوځی نو تیمم جائز دے۔

س۔ که د قرآن مجید لوستو یا مسه کولو یا جومات ته تلو یا اذان کولو یا د سلام جواب ورکولو نیت سره ئے تیمم اوکړو۔ نو دے سره مونځ جائز دے یا نه؟

ج۔ جائز نه دے۔

س ۔ د جنازے مونځ یا د سجدۂ تلاوت نیت سره ئے تیمم اوکړو، نو د هغې سره مونځ جائز دے یا نه؟

ج ۔ جائز دے۔

س ۔ که د اوبو نه بیا موندو په وجه ئے تیمم اوکړو۔ بیا اوبه بیا مونده شوے۔ نو څه حکم دے؟

ج ۔ مونځ ئے وشو۔ اوس د دوباره مونځ کولو حاجت نشته۔ خواه که اوبه وخت کښې د ننه بیا مونده شی یا د وخت نه پس۔

س ۔ تیمم کوم کوم څیزونو سره ماتیږی؟

ج ۔ کوم څیزونو سره چه اودس ماتیږی۔ هغې سره تیمم هم ماتیږی۔ هاں! د غسل تیمم صرف حدث اکبر سره ماتیږی۔ او که د اوبو نه بیا موندو په وجه ئے تیمم کړے وو نو د هغې عذر تللو سره هم تیمم ماتیږی۔

س ۔ د یو وخت مونځ د پاره ئے تیمم اوکړو۔ د دویم وخت مونځ د هغې سره جائز دے یا نه؟

ج ۔ یو تیمم سره څو پورے چه هغه مات شوے نه وی، څومره وختونه چه غواړی، مونځونه کولے شی۔ د غسے فرض مونځ د پاره چه کوم تیمم ئے کړے وی۔ هغې سره فرض مونځ، نفل مونځ، د قرآن مجید تلاوت، د جنازے

مونځ، سجدهٔ تلاوت، او ټول عبادته جائز دی.

س. د تیمم موده څه ده؟

ج. څو پورې چه اوبه بیا نه مومی. یا عذر باقی وی. تیمم جائز دے. که د ټول عمر حال کښې څو کاله هم تیر شی. نو څه حرج نشته.

د مونځ دویم شرط. د کپړے د پاکیدو بیان

س. د کپړو د پاکیدو نه څه مراد دے؟

ج. کومے کپړے چه د مونځ گزار په بدن وی لکه قمیص پرتوګ، ټوپۍ، پټکی، خلکه وغیره. د دے ټولو پاکیدل ضروری دی. دے کښې په یو د نجاست غلیظه دیوے روپۍ نه زیات نه کیدل. او نجاست خفیفه څلورمه برخه کپړے ته نه رسیدل مونځ جائز کیدو د پاره شرط دے که نجاست غلیظه دیوے روپۍ یا دهغې نه کم او نجاست خفیفه د څلورمې برخې کپړے نه کمه لګیدلے وی. نو مونځ کیږی لیکن مکروه دے.

س. که د پټکی یوه غاړه ناپاکه وی. خو مونځ گزار هغه کناره جدا کړله د بلے غاړے نه نیم پټکے وتړلو نو مونځ کیږی او که نه؟

ج۔ کومه کپړه چه د مونځ گزار بدن سره دا سې تعلق لری چه د هغه حرکت کولو سره هغه هم حرکت اوکړی دد اسې کپړے پاک کیدل شرط دی۔ نو دے صورت کښ مونځ نه کیږی ځکه چه د مونځ گزار خوځیدو سره به پتکے ضرور خوځی۔

د مونځ دریم شرط۔ دځائے پاکیدو بیان

س۔ د ځائے پاکیدو نه څه مراد دے؟

ج۔ د مونځ گزار د دواړو پښو، گنډو لاسونو اود سجدے ځائے پاک کیدل ضروری دی۔

س۔ په کوم څیز چه مونځ کوی۔ که د هغے بل طرف ناپاک وی۔ نو څه حکم دے؟

ج۔ که د لرګی په تخته یا کانړی یا غوړیدلے خښتو باندِ یا په څه دا سې سخت یا غټ څیز مونځ اوکړی۔ چه د هغے هغه طرف چه په هغے مونځ اوکړی پاک دے۔ نو مونځ یے اوشو۔ که بل طرف یے ناپاک وی۔ نو څه حرج نشته۔

اوکه په نرئ کپړه یے مونځ اوکړو۔ او د هغے بل طرف باندِ نجاست وی۔ نو مونځ به درست نه وی۔

س۔ که کپړه برغه (غبرګه) وی۔ پاسنۍ حصه یې پاکه او لاندینۍ حصه یې ناپاکه وی۔ نو څه حکم دے؟

ج۔ که دا دواړه خپلو کښې ګنډ لے شوے نه وی او پاسنۍ حصه دومره غټه وی۔ چه د لاندینۍ حصے د نجاست بوئ یا رنګ معلوم نه وی۔ نو مونځ جائز دے۔ او که د کپړے دواړه تهې ګنډ لے وی۔ نو احتیاط دا دے چه په هغې دے مونځ نه کوی۔

س۔ ناپاکه مزکه یا کپړے یا فرش باندې پاکه کپړه اچولو سره که مونځ اوکړی۔ نو څه حکم دے؟

ج۔ هرکله چه د پاسه کپړه باندې د لاندې د نجاست بوئ یا رنګ ظاهر نه وی۔ نو مونځ جائز دے۔

س۔ که د مونځ ځائے پاک دے۔ لیکن خواؤ شا ئے نجاست دے۔ او د هغې بوئ مونځ کښې راځی۔ نو مونځ کیږی یا نه؟

ج۔ مونځ کیږی۔ لیکن قصدًا په داسے ځائے مونځ کول بنه نه دی۔

د مونځ شلو رم شرط۔ د ستر پټولو بیان

س۔ د ستر د پټولو نه څه مراد دے؟

ج ۔ د نارینه د نامه لاندې زنګونو پورې خپل بدن پټول فرض دی ۔ دا داسې فرض دی ۔ چه د مونځ د ننه هم فرض دی ۔ او د مونځ نه بهر هم فرض دی ۔ ښځو له سوا د دواړو تلو، پښو او مخ نه تمام بدن پټول فرض دی ۔ اګر که ښځې له مونځ کښې د مخ پټول فرض نه دی ۔ لیکن د پردو سړو مخکښې بې پردې پرانستې مخ راتلل جائز نه دی ۔

س ۔ که د ستر څه حصه بلا قصد بربنډ شي نو څه حکم دے؟

ج ۔ که څلورمه حصه اندام بربنډ شي او دومره وخت بربنډ وی ۔ څومره وخت کښې درې ځله سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمُ ویلې کیدے شی ۔ نو مونځ ماتیږی ۔ او که بربنډ سوه سمدستی ئې پټ کړو ۔ نو مونځ صحیح کیږی ۔

س ۔ که یو سړے په تیاره کښې په بربنډه مونځ اوکړی ۔ نو څه حکم دے ؟

ج ۔ که د کپړے موجودګی کښې په بربنډه بدن مونځ اوکړی نو تیاره وی، که رڼرا مونځ نه کیږی ۔

س ۔ که قصداً څلورمه حصّه اندام بربنډ وی ۔ نو څه حکم دے؟

ج ۔ قصداً څلورمه عضو بربنډیدو سره مونځ ماتیږی ۔

س ۔ که چا سره بالکل کپړه نه وی ۔ نو څه به کوی ؟

ج۔ کہ هیڅ کپړه ورسره نه وي. نو څه بل څیز سره دے بدن پټ کړي. مثلاً د اونو پاڼړو یا تاټ وغیره سره خو که هیڅ هم بدن پټولو د پاره بیا نه مومي نو بربنډ دے مونځ اوکړي. لیکن دے حالت کښې په ناسته مونځ کول، او رکوع او سجده اشارے سره ادا کول بهتر دي۔

دمونځ پنځم شرط۔ د وخت بیان

س۔ مونځ د پاره د وخت شرط کیدو نه څه مراد دے؟

ج۔ د مونځ ادا کولو د پاره د اشرط دے۔ چه کوم وخت هغې د پاره مقرر شوے دے۔ هغې وخت کښې دے ادا کړي۔ هغې وخت نه مخکښې کولو سره خو مونځ بالکل نه درست کیږي. او هغې نه پس کولو سره ادا نه بلکه قضا به وي۔

س۔ د څو وختونو مونځ فرض دے؟

ج۔ شپه او ورځ کښې پنځه وخته مونځونه فرض دي۔ دے نه علاوه یو مونځ وِتر واجب دے۔

س۔ فرض، واجب، سنت، نفل څه ته وائي۔ او دے کښې څه څه فرض دي۔

ج- فرض هغې ته وائي. چه قطعي دليل سره ثابت وي چه د هغې ثبوت کښې څه شبهه نه وي. د هغې د فرضيت نه انکار کونکې کافر کيږي. او بلا عذره پريښودونکې ئې فاسق او د عذاب مستحق کيږي.

واجب هغه دي. چه ظنّي دليل سره ثابت وي. هغې نه انکار کونکې کافر نه وي. خو بلا عذره پريښودونکې ئې د عذاب مستحق کيږي.

سنت: هغې کار ته وائي. چه رسول الله صلعم يا صحابه کرامو رض کړې وي. يا ئې د کولو حکم ورکړې وي.

نفل: هغې کار ونو ته وائي. چه د هغې فضيلت شريعت کښې ثابت وي. د هغې کولو کښې ثواب وي. او پريښودو کښې عذاب نه وي. هغې ته مستحب مندوب او تطوع هم وائي.

س- د فرضو څو قسمونه دي؟

ج- دوه قسمونه دي (۱) فرض عين (۲) فرض کفايه.

فرض عين هغې فرض ته وائي. چه د هغې ادا کول هر سړي باندې فرض وي. او بلا عذره پريښودونکې ئې ...

او گنهگار وی. او فرض کفایه هغه فرض دی چه د یو سړی د وړ ادا کولو سره د ټولو ذمه کوزه شی. او که هیچوک ئے ادا نه کړی. نو ټول به گنهگار وی.

س. د سنتو څو قسمونه دی؟

ج. دوه قسمونه دی. ۱. سنت مؤکده ۲. سنت غیر مؤکده.

سنت مؤکده هغې کار ته وائی. چه حضور صلعم همیشه کړی وی. یا کولو د پاره ئے فرمائیلی وی. او همیشه کړے شوے وی. بغیر د عذر ئے هیڅ کله نه دے پریښے داسے سنت بغیر عذر پریښودل گناه ده. او د پریښودو عادت ئے سخته گناه ده. او سنت غیر مؤکده هغې ته وائی چه حضور صلعم اکثره کړے وی. لیکن کله کله بغیر د عذر نه ئے پریښود لے هم وی. د دې سنتو کولو کښ د مستحب نه زیات ثواب دے. او پریښودو کښ گناه نشته. دے سنتو ته سنت هم وائی.

س. حرام. مکروه تحریمی او مکروه تنزیهی نه څه مراد

ج۔ حرام هغه کار ته وائی چه د هغې ممانعت قطعی دلیل سره ثابت وی. او د هغې کونکے فاسق او د عذاب مستحق وی۔ او د هغې منکر وی۔ مکروه تحریمی هغه کار ته وائی چه د هغې ممانعت ظنّی دلیل سره ثابت وی. د هغې منکر کافر نه دے خود دے کونکے هم گنهگار دے۔ او مکروه تنزیهی هغه کار ته وائی چه د هغې پرینبودو کښې ثواب دے او کولو کښې عذاب خو نشته۔ لیکن یو قِسم خرابی ده۔

س۔ مباح څه ته وائی؟

ج۔ مباح هغه کار ته وائی۔ چه د هغې کولو کښې ثواب نه وی۔ او نه کولو کښې گناه او عذاب نه وی۔

س۔ د سحر، د مونځ وخت بیان کړئ؟

ج۔ د نمر ختلو نه تخمیناً یوه نیمه گینټه مخکښې نمر خاته طرف ته د اسمان په غاړه (کناره) یو سپینوالے ظاهریږی هغه سپینوالے د مزکے نه پورته طرف ته دیوے ستنے شکل کښې اوچته شی۔ هغې ته صبح کاذب وائی۔ لږ وخت پس دا سفیدی غائبه شی۔ هغې نه پس دویمه سفیدی ظاهره شی۔ چه مشرق طرف نه ښی کس طرف ته خوریدو سره اوچتیږی۔ د اسمان ټولے مشرق غاړے باندې خوره شی. پورته طرف ته اوږده اوږده نه اوچتیږی۔ دے ته صبح صادق وائی۔

دے صبح صادق راوتلو سرہ د سحر د مونځ وخت شروع کیږی۔ او نمرختو نہ مخکښی مخکښ پورے وی۔ کہ د نمر لږہ شان څنډہ (کنارہ) هم راوخیژی۔ نود سحر وخت ختم شی۔

س۔ د سحر مستحب وخت کوم دے؟

ج۔ هغہ کلہ چہ رڼا شی۔ او دومرہ وی چہ د سنتو موافق پہ ښہ شان مونځ ادا کړے شی۔ او د مونځ نہ د فارغیدو نہ پس دومرہ وخت باقی وی۔ کہ دا مونځ پہ څہ وجہ درست نشی، نود نمر راختلو نہ مخکښی دوبارہ د سنت موافق مونځ اوکړے شی دا سے وخت کښی مونځ کول افضل دی۔

س۔ د ماسپخین د مونځ وخت بیان کړئ؟

ج۔ د ماسپخین د مونځ وخت نمر اوړیدو (زوال) نہ پس شروع کیږی۔ او تیک غرمے وخت چہ دهر څیز څومرہ سورے وی، د هغې نہ علاوہ چہ دهر څیز سورے د هغې څیز نہ دوچند شی، نو د ماسپخین وخت ختم شی۔

س۔ د ماسپخین مستحب وخت څہ دے؟

ج۔ د ګرمی موسم کښی دومرہ تاخیر سرہ کول، چہ د ګرمی

تیزی کمه شی. او دیخنی موسم کښې اول وخت کښې کول مستحب دی. لیکن د دے خیال ساتل پکار دی چه د ماسپخین مونځ په هر حال یو مثل کښې د ننه اوکړے شی.

س. د ماښام وخت اوښائی؟

ج. هر کله چه د هر څیز سورے د اصلی سوری نه علاوه دوه مثل شی. نو د ماسپخین وخت ختمیږی او سره د ماښام وخت شروع شی. او نمر ډوبیدو پورے وی. خو هر کله چه نمر ډیر ښکته شی. او د نمر تاؤ کمزورے شی. او زیړ شی. نو هغه وخت مونځ مکروه کیږی. د دے نه مخکښې د ماښام مونځ کول پکار دی

س. د ماښام د مونځ وخت بیان کړئ؟

ج. هر کله چه نمر ډوب شی. نو د ماښام وخت شروع شی. او د شفق ډوبیدو پورے وی.

س. شفق څه ته وائی؟

ج. د نمر ډوبیدو نه پس مغرب طرف ته چه اسمان باندِ کومه سرخی وی. هغې ته شفق احمر وائی. بیا سرخی غائبیږی نو نه پس یوه سفیدی باقی پاتے شی. دے ته شفق ابیض وائی. بیا دا سفیدی هم غائبه شی.

او ټول آسمان یو شان په نظر راشي د ے شفق ابیض غائبیږي او نه ختمیږي پورې د ماښام وخت وي۔

س۔ د ماښام مستحب وخت څه دے؟

ج۔ اول وخت مستحب دے۔ او بلا عذره ناوخته کولو سره کول ئې مکروه دي۔

س۔ د ماسختن وخت څه دے؟

ج۔ سپین شفق تلو نه پس د ماسختن وخت شروع کیږي۔ او د صبح صادق نه ختمیدو پورې وي۔

س۔ د ماسختن مستحب وخت څه دے؟

ج۔ ځلورمے حصے شپے پورې مستحب وخت وي۔ هغې نه پس نیمے شپے پورې مباح دے۔ د هغې نه پس مکروه کیږي۔

س۔ د وتر مونځ وخت او بیانئې؟

ج۔ د وتر وخت هغه دے کوم چه د ماسختن د مونځ وخت دے۔ لیکن وتر مونځ د ماسختن د مونځ نه مخکښې نه جائز کیږي۔ د ماسختن د مونځ نه پس د دے وخت دے۔

س۔ د وتر مستحب وخت څه دے؟

ج ۔ که چا ته په ځان اعتبار وي ۔ چه د شپې اخر کښې ضرور پاسم ۔ نو هغه د پاره اخر شپه کښې وِتر کول مستحب دی ۔ خو که د ویښیدو اعتبار ئے په ځان نه وی ۔ نو د اوده کیدو نه مخکښې وِتر کول پکار دی ۔

د مونځ شپږم شرط ۔ قبلے ته د مخ کولو بیان

س ۔ د استقبال قبله څه معنیٰ دی ؟

ج ۔ قبلے طرف ته مخ کول مونځ کښې استقبال قبله وائی ۔

س ۔ قبلے طرف ته مخ کول مونځ کښې د شرط کیدو څه مطلب دے ؟

ج ۔ د مونځ کولو وخت ضروری دی ۔ چه د مونځ گزار مخ قبلے طرف ته وی ۔

س ۔ د مسلمانانو قبله کومه ده ؟

ج ۔ د مسلمانانو قبله خانه کعبه ده ۔ خانه کعبه د کمرے شکل کښې یو کور دے ۔ چه د عربو ملک کښې د مکے معظمے ښار کښې واقع دے : خانه کعبے ته (۱) کعبة الله (۲) بیت الله (۳) بیت الحرام هم وائی ۔

س ۔ قبله کوم طرف ته ده ؟

ج- پاکستان، افغانستان، هندوستان، برما، بنګال او د دیرو ملکونو قبله مغرب طرف ته ده. ځکه چه دا تمام ملکونه د مکے معظمے نه مشرق طرف ته واقع دی-

س- که د بیمار مخ قبلے طرف ته نه وی. او هغه کښی د خوزید و هم طاقت نه وي. نو څه به کوی؟

ج- که دویم سړے موجود وی- نو د بیمار مخ قبلے طرف کولے شی. او که مریض ته د زیات تکلیف کید و اندیښنه هم نه وی. نو د هغه مخ دِ قبلے طرف ته کړے شی. او که بل څوک نه وی. یا مریض ته سخت تکلیف کیږی. نو کوم طرف ته ئے چه مخ وی. هغے طرف ته دے مونځ اوکړی-

دمونځ اوم شرط- د نیت بیان

س- د نیت نه څه مراد دے؟

ج- نیت زړه سره ارادے کولو ته وائی-

س- نیت کښی د څه څیز اراده کیږی؟

ج- نیت کښی خاص د هغے فرض مونځ اراده کول ضروری دی. کوم چه کول غواړی. مثلاً د ... مونځ کوی. نو

دا ارادہ دِ اوکړی۔ چه د سحر مونځ کوم۔ یا قضا مونځ وی۔ نو دا ارادہ دِ اوکړی چه د فلانئ ورځے د سحر مونځ کوم۔ او که امام پسے مونځ کوی۔ نو دهغه نیت کول هم ضروری دی۔

س۔ نیت ژبے سرہ وئیل څنګه دی ؟

ج۔ مستحب دی۔ که ژبے سرہ اونه وائی۔ نو مونځ کښں څه نقصان نه راځی۔ که اووائی نو ښه دی۔

س۔ د نفل مونځ نیت څنګه کول پکار دی ؟

ج۔ د نفل مونځ نیت دومرہ کافی دے۔ چه نفل مونځ کوم سنّت مونځ او تراویح د پارہ هم دومرہ نیت کافی دے

د اذان بیان

س۔ د اذان څه معنیٰ دہ ؟

ج۔ دَ اذان معنیٰ د خبرولو دہ۔ لیکن شریعت کښں خاص مونځونو د پارہ خاص الفاظو سرہ خبرولو ته اذان وائی۔ د اذان الفاظ د دے کتاب په ومبئ حصه کښں لیکلے شوی دی۔

س۔ اذان فرض دے یا سنت ؟

ج۔ اذان سنت دے۔ اذان نه د اسلام یو خاص شان

ظاهریږی۔ حکمه ددے تاکید ډیر زیات دے۔
اذان د کومو مونځونو د پاره مسنون (سنت) دے؟
پنځه فرض مونځونو، او د جُمعے مونځ د پاره اذان سنت دے۔ دے نه علاوه بل مونځ د پاره اذان سنت نه دے۔
س۔ اذان کوم وخت کول پکار دی؟
ج۔ د هر فرض مونځ اذان د هغے وخت کښې کول پکار دی۔ که د وخت نه مخکښې ئے اوکړی۔ نو وخت راتلو باندې دے دوباره اوکړی۔
س۔ د اذان مستحب طریقه څه ده؟
ج۔ اذان کښې او وه خبرے مستحب دی۔ (۱) قبلے طرف ته مخ کړے او دریدل (۲) د اذان په قلاره قلاره وئیل تادی نه کول (۳) د اذان وئیلو په وخت د شهادت دواړه گوتے غوږونو کښې ایښودل (۴) په اوچت ځائے اذان کول۔ (۵) اوچت آواز سره اذان کول۔ (۶) حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة وئیلو په وخت ښی جانب ته او حَیَّ عَلَی الْفَلَاح وئیلو په وخت گس جانب ته مخ گرځول۔ (۷) د سحر مونځ کښې حَیَّ عَلَی الْفَلَاح نه پس اَلصَّلٰوةُ خَیْرٌ مِنَ النَّوْم دوه ځله وئیل پکار دی۔
س۔ اقامت څه ته وائی؟

ج۔ د فرض مونځ د شروع کولو په وخت د غه کلمات چه اذان کښې دی ویلے شی۔ خو د حَیَّ عَلَی الفلاح نه پس اقامت کښې قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة دوه ځله د اذان د کلمو نه زیات ویلے شی۔

س۔ د اقامت کول څنګه دی؟

ج۔ اقامت هم د فرض مونځونو د پاره سنت دے۔ د فرض مونځونو نه علاوه بل مونځ د پاره مسنون نه دے۔

س۔ آیا اذان او اقامت سړو او ښځو ټولو د پاره سنت دے؟

ج۔ نه بلکه صرف سړو د پاره سنت دے۔

س۔ بے اودسه اذان او اقامت کول څنګه دی؟

ج۔ اذان بے اودسه کول جائز دی۔ خو عادت جوړول ئے ښه نه دی۔ او اقامت بے اودسه مکروه دے۔

س۔ که څه وخت سړے چرته کور کښې فرض مونځ اوکړی نو اذان او اقامت به کوی۔ او که نه؟

ج۔ د محلے د جومات اذان او اقامت کافی دے۔ لیکن که اوکړی۔ نو ښه دے۔

س۔ مسافر به د سفر حالت کښې اذان او اقامت کوی۔ یا نه؟

ج ـ هاؤ د سفر حالت کښې چه د ـــ آبادئ نه بهر وی اذان او اقامت دواړه کول پکار دی۔ لیکن که اذان او نه کړی۔ صرف اقامت او کړی ۔ توڅه حرج نشته۔ خو دواړه پریښودل مکروه دی۔

س۔ که اذان یو سړی او کړی۔ او اقامت بل سړی ۔ نو دا جائز دی یا نه ؟

ج ـ که اذان کونکے موجود نه وی۔ یا موجود خو وی۔ خو بل سړی اقامت کولو سره نه ناراضه کیږی۔ نو جائز دی۔ لیکن که ناراضه کیږی بیا مکروه دی۔

س۔ د اذان نه څومره وخت پس اقامت کول پکار دی؟

ج ـ د ماښام د اذان نه سیوا نورو ټولو وختونو کښې دومره وخت پکار دے۔ که خلق خوراک څکاک کښې مشغول وی۔ یا لوئے واړه بول کوی۔ هغے نه فارغیدو سره مونځ کښې شریک شی۔ او د ماښام اذان نه پس په قدر د درے ایتونو لوستلو نه پس دے تکبیر (اقامت) او کړی۔

س۔ د اذان او اقامت اجابت څه ته وائی۔ او د دے

څه حکم دے؟

ج۔ د اذان او اقامت د وارو اجابت مستحب دے۔ او اجابت نه مراد دا دے چه اوریدونکی هم هغه کلمات اووائی کوم چه مؤذن وائی۔ د حَيَّ عَلَى الصلوٰة او حَيَّ عَلَى الْفَلَاح آوریدو سره لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ وئیل پکار دی۔ او د سحر اذان کښې اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ آوریدو سره صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ وئیل پکار دی۔ او تکبیر کښې قد قَامَتِ الصَّلٰوة آوریدو سره اَقَامَهَا اللّٰهُ وَاَدَامَهَا وئیل پکار دی۔

س۔ د اذان نه پس کومه دُعا لوستل پکار دی؟

ج۔ د اذان نه پس دے دا دُعا او لولی۔ اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِىْ وَعَدْتَّهٗ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ٥

د مونځ د ارکانو بیان

س۔ د مونځ ارکان څه ته وائی؟

ج۔ د مونځ ارکان هغه څیزونو ته وائی۔ چه مونځ کښې دننه فرض دی: ارکان د رکن جمع ده۔ د رکن معنیٰ فرض۔ او د ارکان معنیٰ فرائض ده۔

س۔ مونځ کښې څو فرض دی؟

ج۔ شپږ څیزونه فرض دی۔ (۱) تکبیر تحریمه وئیل (۲) قیام (اودریدل) (۳) قرائت (۴) رکوع کول (۵) دواړه سجدے (۶) اخری قعده۔ خو تکبیر تحریمه شرط دے۔ رکن نه دے۔

س۔ تکبیر تحریمه شرط دے۔ نو داړومبی اوه شرطو سره ولے بیان نه شو؟

ج۔ تکبیر تحریمه او د مونځ ارکان کښې څه فاصله نشته او دے نه مونځ شروع کیږی۔ ځکه تکبیر تحریمه د مونځ ارکانو سره بیانول مناسب معلوم شو۔

د تکبیر تحریمه بیان

س۔ تکبیر تحریمه نه څه مراد دے؟

ج۔ د نیت تړلو په وخت اَللّٰهُ اَكْبَرُ ته وائی۔ دے تکبیر وئیلو سره مونځ شروع کیږی۔ او کوم خبرے چه د مونځ خلاف دی۔ هغه حرام کیږی۔ ځکه دے

تہ تکبیر تحریمہ وائی۔

س۔ د فرض مونځونو تکبیر تحریمہ کہ پہ تیتہ تیتہ اووائی نو جائز دی کہ نہ؟

ج۔ نہ۔ ځکہ چہ د تکبیر تحریمہ پہ وخت فرض او واجب مونځونو کښی ھر کلہ چہ څہ عذر نہ وی نیغ اودریدل شرط دی۔

د مونځ د رومبنی رکن د قیام بیان

س۔ د قیام نہ څہ مراد دے؟

ج۔ قیام اودریدلو تہ وائی۔ او اودریدو نہ داسے نیغ اودریدل پکار دی، چہ گوتے و تہ لاس نہ رسی۔

س۔ قیام څومرہ او کوم مونځ کښی فرض دے؟

ج۔ فرض او واجب مونځونو کښی دومرہ اودریدل فرض دی۔ چہ ھغے کښی پہ قدر د فرض قرائت اوکړے شی۔

س۔ کہ د اودریدو طاقت نہ وی۔ نو څہ بہ کوی؟

ج۔ بیماری یا زخم یا د دښمن خوف یا داسے څہ قوی عذر وی۔ چہ اودریدلے نشی۔ نو پہ ناستہ فو...

او واجب مونځونه کول جائز دی۔
س۔ نفل مونځ کښې د قیام څه حکم دے؟
ج۔ نفل مونځ کښې قیام فرض نه دے۔ بلا عذره په ناسته مونځ کول جائز دی۔ لیکن بلا عذره په ناسته نفل مونځ کولو کښې نیم ثواب دے۔

د مونځ دویم رکن د قرائت بیان

س۔ قرائت نه څه مراد دے؟
ج۔ قرائت قرآن مجید لوستلو ته وائی۔
س۔ مونځ کښې څومره قرآن مجید لوستل ضروری دی؟
ج۔ کم نه کم یو آیت لوستل فرض دی۔ او سورهٔ فاتحه (الحمد شریف) لوستل واجب دی۔ او د فرضو د مبنی دوه رکعاتونو او وتر مونځ او سنت او نفل ټولو رکعتونو کښې سورهٔ فاتحه نه پس څه بل سورة یا یو لوئے آیت یا درے واړه آیتونه لوستل هم واجب دی۔
س۔ آیا سورهٔ فاتحه د ټولو مونځونو هر یو رکعت کښې لوستل واجب دی؟

د فرض مونځ دریم او څلورم رکعت نه علاوه د هر مونځ خواه فرض وی یا واجب یا سنت یا نفل هر رکعت کښی سورۀ فاتحه لوستل واجب دی۔

س۔ که چا ته یوه آیت هم یاد نه وی۔ نو څه به کوی؟

ج۔ د قرائت په ځائے دے سُبْحَانَ اللّٰهِ یا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولی۔ او زر تر زره د قرآن مجید زده کول پرے فرض دی۔ قرائت د فرض مقدار یادول فرض او د واجب مقدار واجب دی۔ او نه زده کولو کښی به سخت گنهگار بوی۔

س۔ قرآن مجید کوم کوم مونځ کښی زور سره لوستل پکار دی؟

ج۔ امام باندِ واجب دی۔ چه د ماښام او ماسختن مونځ په ومبنی دوه رکعاتو کښی او د سحر او جُمعے او اخترونو مونځونو کښی او د رمضان المبارک په میاشت کښی تراویح او وِتر مونځونو کښی آواز سره لولی۔

س۔ کوم مونځ کښی قرائت رو (اهسته) پکار دے؟

ج۔ د ماز یګر او ماسپخین مونځ کښی امام او منفرد تولو ته او وتر مونځ کښی منفرد له قرائت رو ویل پکار دی

س۔ زور سره د لوستلو مقدار څه دے؟
ج۔ زور سره د لوستلو ادنیٰ درجه دا ده: چه خپل آواز د نزدے سړی غوږ ته اورسی۔ او د رو لوستلو ادنیٰ درجه دا ده۔ چه خپل آواز خپل غوږ ته اورسی۔
س۔ کوم مونځونو کښی چه آواز سره قرأت کیږی هغې ته څه وائی؟
ج۔ هغې ته جهری مونځونه وائی۔ ځکه چه د جهر معنیٰ زور سره لوستل دی۔
س۔ کومو مونځونو کښی چه رو قرأت کیږی۔ هغې ته څه وائی؟
ج۔ هغې ته سرّی مونځونه وائی۔ ځکه چه د سر معنیٰ رو لوستل دی۔
س۔ که یو سړے ژبے نه الفاظ نه اوکاږی۔ صرف خیال کښی لولی۔ نو جائز دی۔ یا نه؟
ج۔ صرف بخیال زغلولو سره مونځ نه کیږی۔ بلکه ژبے سره لوستل ضروری دی۔

د مونځ دریم رکن رکوع او څلورم رکن سجدے سان

س۔ د رکوع ادنیٰ مقدار څه دے؟
ج۔ د رکوع ادنیٰ مقدار دومره ښکته کیدل دی چه لاس ګونډو ته اورسی۔
س۔ د رکوع مسنون طریقه څه ده؟
ج۔ دومره ښکته کیدل چه سر او ملا برابر وی۔ او لاس د پښتیو نه جُدا وی۔ او ګونډے د دواړو لاسونو سره اونیسی۔
س۔ که د بوډا توب په وجه ملا دومره ټیټه شی۔ یا خوګ دومره شا قربے شی۔ چه د رکوع شکل کښې شی۔ نو رکوع به څنګه کوی؟
ج۔ سر سره دے اشاره اوکړی۔ سر صرف لږ شان ښکته کولو سره رکوع به یئے اداء شی۔
س۔ سجدے نه څه مراد دے؟
ج۔ په مزکه تندی لګولو ته سجده وائی۔
س۔ که صرف پوزه یا تندی باندِ سجده اوکړی۔ نو سجده وشوه یا نه؟
ج۔ که د څه عذر نه داسے اوکړی۔ نو جائز دی۔ او بلا عذره که صرف تندی باندِ سجده اوکړی نو سجده وشوه۔ لیکن مکروه ده۔ او بلا عذر صرف پوزه باندِ

سجدہ کولو سرہ بہ سجدہ ادا نشی۔

س۔ هر رکعت کښې یوه سجده فرض ده، یا دوارهٔ؟

ج دوارهٔ سجدے فرض دی۔

س۔ که تندی او پوزه دواړو باندِ زخم وی. نو څه به کوی؟

ج۔ د سجدے اشارهٔ سر سره کول د اسے سړی د پارهٔ کافی دی۔

س۔ ړومبئ سجدے نه پس څومره ایسار ید وسرهٔ به دویمه سجده کوی؟

ج په بنه شان دے کینی. بیا دے دویمه سجده اوکړی۔

س۔ اختونو یا جُمعه یا څه لوئے جماعت کښې د خلقو در کثرت په وجه ځائے تنګ شی۔ او روستو سړی د خپل مخکښې والا په شا سجده اوکړی. نو جائز دی یا نه؟

ج۔ جائز دی۔

دمونځ پنځم رکن د آخرے قعدے بیان

س۔ د آخرے قعدے څومره مقدار فرض دے؟

ج۔ د التحیّاتُ آخری الفاظ عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ پورے
د لوستلو مقدار ناستہ فرض دہ۔
س۔ آخرہ قعدہ کوم کومو مونځونو کښې فرض دہ؟
ج۔ ټولو مونځونو کښې، خواہ فرض وی یا واجب
سنت وی یا نفل۔ آخری قعدہ فرض دہ۔

د مونځ د واجباتو بیان

س۔ د مونځ د واجباتو نہ څہ مراد دے؟
ج۔ د مونځ واجبات هغې څیزونو تہ وائی۔ چہ د هغې
مونځ کښې ادا کول ضروری دی۔ کہ هغې کښې
څہ څیز پہ هیرہ پاتے شی، نو سجدہ سهوہ کولو
سرہ مونځ درست کیږی۔ او هیرے سرہ پاتے
کیدو نہ پس سجدہ سهوہ نشی کولے، یا قصداً
څہ څیز پریږدی۔ نو د مونځ دوبارہ کول
واجب کیږی۔
س۔ د مونځ واجبات څومرہ دی؟
ج۔ د مونځ واجبات څوارلس دی۔
(۱) د فرض مونځونو په ومبنی دوہ رکعتہ قرأت
د پارہ مقررول۔

(۲) د فرض مونځ د دریم او څلورم رکعت نه علاوه ټولو مونځونو کښې سورۃ فاتحه لوستل۔
(۳) د فرض مونځونو په ومبی دوه رکعاتو کښې
(۴) او واجب او سنت او نفل ټولو رکعتونو کښې سورۃ فاتحه د سورة نه مخکښې لوستل۔
(۵) قرأت او رکوع کښې سورۃ۔ سجده او رکعتونو کښې ترتیب قائمول۔
(۶) قومه کول۔ رکوع نه پاسیدو سره نیغ اودریدل
(۷) جلسه۔ د دواړو سجدو مینځ کښې نیغ کیناستل
(۸) تعدیل ارکان۔ رکوع سجده وغیره اطمینان سره په ښه شان اداء کول۔
(۹) قعده اولی۔ درے یا څلور رکعت والا مونځ کښې۔ دوه رکعته نه پس د تشهد مقدار کیناستل۔
(۱۰) دواړو قعدو کښې تشهد لوستل۔
(۱۱) امام له د سحر مونځ، ماښام، ماسختن، جمعه اخترونو، تراویح او د رمضان شریف وترو کښې اواز سره قرأت کول۔ او د ماسختن، ماښام، یکرو وغیره مونځونو کښې رو لوستل۔
(۱۲) لفظ سلام سره د مونځ نه جدا کیدل۔

(۱۳) وتر مونځ کښې قنوت دعائي د پاره تکبیر وئیل او دُعاء قنوت لوستل۔

(۱۴) د دواړو اخترونو مونځ کښې زائد تکبیرونه وئیل۔

د مونځ د سنتو بیان

س۔ د مونځ د سنتو نه څه مراد دے؟

ج۔ کوم څیزونه چه مونځ کښې د حضور صلعم نه ثابت شوی دی۔ لیکن د هغې تاکید د فرض او واجب برابر ثابت نه دے۔ هغې ته سنت وائي۔ دے څیزونو کښې که څه څیز هیر ئے سره پاتے شی۔ نو مونځ نماتیږی۔ نه سجده سهوه واجب کیږی، نه ګناه کیږی۔ او قصدًا پریښودو سره مونځ خو نه ماتیږی، او نه سجده سهوه واجبیږی۔ لیکن پریښودونکے د ملامت مستحق کیږی۔

س۔ مونځ کښې څو سنت دی؟

ج۔ مونځ کښې یویشت[۲۱] سنت دی۔

(۱) تکبیر تحریمه نه مخکښې دواړه لاسونه غوږونو پورے اوچتول۔

(۲) د دوارړو لاسونو گوتې به خپل حال پرانستې اوګرځ په قبله کول -(۳) د تکبیر ویلو وخت سر نه ښکته کول-(۴) د امام تکبیر تحریمه او یو رکن نه بل رکن ته د تلو ټول تکبیرونه په قدر د حاجت اوچت آواز سره ویل -(۵) ښځې لاس په کس لاس د ناوے نه لاندې ایښودل (۶) ثناء سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ لوستل (۷) تعوذ- اعوذ بالله لوستل (۸) بِسْمِ اللّٰه لوستل - (۹) د فرض مونځ دریم او څلورم رکعت کښې صرف سورهٔ فاتحه لوستل -(۱۰) آمین لوستل- (۱۱). ثناء تعوذ، بسم الله او آمین ټول رو لوستل - (۱۲) د سنت موافق قرائت کول، کوم کوم مونځ کښې چه څومره قرآن مجید لوستل سنت دی- دهغې موافق لوستل (۱۳) رکوع او سجده کښې درے درے ځله تسبیح ویل (۱۴) رکوع کښې سر او ملا نیغ برابر ساتل. او د دوارړو لاسونو پرانستو گوتو سره ګونډے نیول- (۱۵) قومه کښې د امام سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ، او د مقتدی رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ویل (۱۶) سجدے ته په تلو په وخت اول دوارړه ګونډے بیا دوارړه لاسونه بیا تندے ایښودل (۱۷) جلسه او قعده کښې بسه

پښه خور ولو سره په هغې کیناستل او ښۍ پښه داسې اودرول چه د هغې د ګوتو سرونه قبلې طرف ته وی او د واړه لاسونه په ورنونو ایښودل (۱۸) تشهد کښې أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ باندِ د کلمې ګوتې سره اشاره کول (۱۹) آخری قعده کښې تشهد نه پس درود شریف لوستل (۲۰) درود شریف نه پس دعا لوستل (۲۱) رومبئ ښی طرف ته بیا ګس طرف ته سلام ګرځول۔

د مانځه د مستحباتو بیان:

س۔ مونځ کښې څومره څیزونه مستحب دی؟

ج۔ مونځ کښې پنځه څیزونه مستحب دی۔ (۱) تکبیر تحریمه وئیلو په وخت لستونړونه نه واړه تلی را اوښکل۔ (۲) رکوع۔ سجده کښې منفرد له درې ځلې نه زیات تسبیح وئیل (۳) د قیام حالت کښې د سجدې په ځائې او رکوع کښې د قدمونو په شا او جلسه او قعده کښې په خپله غیږ او د سلام په وخت په خپلو اوږو نظر ساتل۔ (۴) د خپل وس مطابق ټوخې بند ول۔ (۵) اسویلی کښې خُله بند ول۔ که پرانستې شی۔ نو د قیام حالت کښې د ښی لاس شا سره او باقی

حالت تو نو کښې د کس لاس شا سره خُله پټول۔

د مونځ کولو پوره ترکیب

هر کله چه د مونځ اراده او کړے. نو اول خپل بدن حدثِ اکبر، حدثِ اصغر او ظاهری ناپاکۍ نه پاک کړې او پاک کپړے اغوستلو سره په پاک ځائے قبلے طرف ته مخ کولو سره داسے اودریږی چه د دواړو قدمونو مینځ کښې څلور گوتے یا د دے قریب قریب فاصله وی بیا کوم مونځ چه کول وی د هغے زړه سره نیت کول۔ مثلاً دا چه د سحر فرض مونځ الله د پاره کوم. او ژبے سره هم او وائی. نو ښه دے. بیا دواړه لاسونه غوږونو پورے اوچت کړے د لاسونو تلے او گوتے د مخ په قبله وی. او کښتے گوتے دِ د غوږونو د پوسکو مقابل وی او گوتے دِ پرانستے وی. د غه وخت اَللّٰهُ اَکْبَر وئیلو سره دواړه لاسونه د نامے لاندې او تړے. د ښی لاس تلے دِ د کس لاس د تلی په شا وی. او کښتے او قچے گوتے سره د حلقے په طور کښتے اونیسی. او باقی درے گوتے دے په مړوند وی. او نظر دِ د سجدے په ځائے وی. لاس تړلو سره رو، رو ثناء اولولی. بیا تعوذ، بیا تسمیه، بیا

سورۂ فاتحه او لولی چه سورۂ فاتحه ختم کړے نو روښان آمین اووائی. بیا یو سورة یا یو لوئے آیت یا درې واړه آیتونه اولولې. خوکه امام پسے روستو ولاړ وي. نو صرف ثناء لوستلو سره چپ اودریږې قراءت صحیح کوئ. تادی مه کوئ. بیا د الله اکبر په ویلو سره رکوع ته لاړ شئ. کوتے پوانزئ هغې سره ګونډے اونیسئ. ملا داسے نیغه کړے که په هغې د اوبو پیالئ کیښودے شي نو ټیک پرته وي. سر د ملا سره نیغ ساتئ، مه ئے اوچتوئ مه ئے ښکته کوئ لاسونه دے پښتی ئو نه جُدا وي. او پنډئ دې نیغے ولاړے. بیا د رکوع تسبیح درې ځله یا پنځه ځله اولولې بیا تسمیه ویلو سره نیغ اودریږی تحمید هم اولولی امام دې صرف تسمیع او مقتدی دې صرف تحمید اولولی او منفرد دې تسمیع او تحمید دواړه اولولی. بیا د تکبیر ویلو سره سجدے ته لاړ شي. اول دواړه ګونډے بیا دواړه لاسونه، بیا پوزه بیا تندے کیږدے. مخ د د دواړو تلو مینځ کښ او کړے کوتے دے د غوږونو مقابل وي. د لاسونو کوتے نختے ساتئ چه د ټولو سرونه قبلے طرف ته وي. څنګلے دې د پښتئ ؤ نه اوخیته

دِ د ورنږونو نه جدا وی، ځنګلی په مزکه مه غزوئ
سجده کښی د ۳ یا ۵ ځله د سجدے تسبیح اولولی
بیا اول تندے بیا پوزه بیا لاس اوچت کړی۔ تکبیر
ویئیلو سره پاسی او نیغ کینی۔ بیا تکبیر ویئیلو سره
دویمه سجده اوکړے۔ بیا تکبیر ویئیلو سره پاسی۔
پاسید وکښی اول تندے، بیا پوزه بیا لاس بیا ګونډے
اوچتولو سره د پنجو په زور نیغ اودریږے۔ او
اودرید و سره لاس اوتړی۔ بسم الله، سورهٔ فاتحه
او یو سورة اولولی (که امام سرے دے، نو هیڅ نه لولئ
خاموش اودریږئ) بیا هغه قاعدے سره رکوع،
قومه، سجده، جلسه، دویمه سجده اوکړی۔
دویمے سجدے نه پاسید و سره کسه پښه خوره کړے
په هغه کښیني ښئ پښه اودروی۔ د دواړو پښو د ګوتو
سرونه دِ مخ په قبله وی۔ او دواړه لاسونه په ورنونو
کیږدی او التحیات اولولی چه اَشْهَدُ اَنْ لَآ اِلٰهَ ته
اورسی، نو د ښی لاس غټه ګوته او مینځنئ ګوته
اوچتولو سره اشاره اوکړی۔ او چپه ګوته او هغه سره
دویمه ګوته بند کړی۔ او د کلمے ګوته اوچتولو سره
اشاره اوکړی۔ لَآ اِلٰهَ باندِ ګوته اوچته کړی۔ او اِلَّا الله

باندے ښکته کړی او د غسے اخر پورے د ے حلقه تړلے ساتی تشهد ختمید و باندِ ے که د وله رکعته والا مونځ وی. نو درود شریف د ے اولولی. هغے نه پس دُعا او غواړی. بیا اول ښی طرف ته بیا گس طرف ته سلام اوگرځوی ښی طرف سلام گرځولو وخت ښی طرف ته مخ اوگرځوی. او گس طرف ته سلام کښی گس طرف ته مخ اوگرځوی ښی طرف ته سلام کښی د ښی طرف ملائکو او مونځ گزارو نیت اوکړی. او گس سلام کښی دگس طرف ملائکو او مونځ گزارو نیت اوکړی. او کوم طرف ته چه امام وی هغے طرف سلام کښی د امام نیت هم اوکړی. او امام د ے دواړو سلامونو کښی د مقتدیانو نیت اوکړی. او که درے یا څلور رکعته والا مونځ وی نو تشهد نه پس درود شریف مه لولے. بلکه تکبیر وئیلو سره او دریمی او دریم او څلورم رکعت که فرض مونځ وی، نو هغے قاعدے سره اوکه واجب یا سنت یا نفل مونځ وی نو هغے قاعدے سره پوره کولو سره سلام اوگرځوی.

(دَ تعلیم الاسلام دریمه حصه ختمه شوه)

تعلیم الاسلام

څلورمه حصه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

توحید

س ۔ د لفظ الله څه معنیٰ ده ؟

ج ۔ الله د هغې ذات (اللّٰه تعالیٰ) نوم دے چه واجب الوجود دے ۔ ټول صفات کمالیه هغه کښې موجود دی

س ۔ د واجب الوجود څه معنیٰ ده ؟

ج ۔ واجب الوجود داسے هستیٔ ته وائی چه د هغه وجود (موجود کیدل) واجب ضروری وی ۔ او د هغه عدم (نیستی) محال وی ۔ څوک چه واجب الوجود وی هغه همیشه وی ، نه د هغه ابتداء وی نه انتها ۔ او هیڅ وخت د هغه نیستی نشی کیدے ۔ هغه خپله موجود وی ۔ څکه چه کوم څیز د بل چا پیدا کید

سره پيدا وی. او وجود کښې راشی. هغه واجب الوجود نشی کيدے. د اسلامی تعليم په موجب الله تعالیٰ واجب الوجود دے د هغه نه سوا د عالم هيڅ څيز واجب الوجود نه دے.

د الله تعالیٰ صفات

- د صفات کماليه څه معنیٰ ده؟
- الله تعالیٰ واجب الوجود دے. او د واجب الوجود خپل ذات کښې کامل کيدل ضروری دی. دا ټول د هغه د پاره ثابت دی. دے صفتونو ته کماليه وائی.
- کوم څيز چه هميشه هميشه وی هغې ته څه وائی؟
- دا سې څيز ته قديم وائی.
- د الله تعالیٰ نه سوا نور څه څيزونه قديم دی؟
- الله تعالیٰ او د هغه ټول صفات قديم دی. دے نه سوا نور هيڅ څيز قديم نه دے
- هر کله چه د الله تعالیٰ نه سوا بل هيڅ څيز هميشه موجود نه وو. نو الله تعالیٰ آسمان او مزکه او ټول څيزونه څنګه جوړ کړل؟
- الله تعالیٰ ټول عالم خپل حکم او خپل قدرت سره

پیدا کړل۔ د دے عالم جوړولو او اسمان او مزکه پیدا کولو د پاره هغه ته د هیڅ څیز حاجت نه وو۔ ځکه که الله تعالیٰ هم عالم پیدا کولو کښې د څه څیز محتاج وی۔ نو بیا واجب الوجود نه شو کیدے۔ یا د ساتئ چه الله تعالیٰ واجب الوجود دے۔ او واجب الوجود خپل هیڅ کار کښې د بل سړی یا بل څیز محتاج نه دے۔

س۔ د الله تعالیٰ صفات کمالیه کوم کوم دی؟

ج۔ وحدت، قدیم، یا وجوبِ وجود، حیوٰة، قدرت علم، اراده، سمع، بصر، کلام، خلق، تکوین وغیره

س۔ د صفت وحدت څه معنیٰ ده؟

ج۔ د وحدت معنیٰ یو کیدل۔ دا د الله تعالیٰ صفت دے چه هغه هم خپل ذات کښې هم یو دے۔ او صفات کښې هم یو دے۔ او د توحید معنیٰ د الله تعالیٰ یو منل یا د هغه د یو کیدو یقین او اقرار کول دی۔

س۔ د صفت قدیم او وجوب وجود څه معنیٰ ده؟

ج۔ د قدیم معنیٰ قدیم کیدل۔ یعنی همیشه کیدل۔ او د وجوب وجود معنیٰ واجب الوجود کیدل دی۔ د دے معنیٰ تاسو د کتاب په شروع کښې لوستے ده۔

س۔ د ازلی ابدی څه معنیٰ ده؟

ج۔ د کوم څیز چه ابتدا نه وی. هیشه نه وی. هغه ته ازلی وائی۔ او د کوم څیز چه انتها نه وی د همیشه نه وی، هغه ته ابدی وائی. نو الله تعالیٰ ازلی هم دے او دا معنیٰ د قدیم کیدو ده۔

س۔ د حیوٰۃ څه معنیٰ ده؟

ج۔ د حیوٰۃ معنیٰ د ژوند ده۔ الله تعالیٰ ژوندے دے۔ د ژوند صفت هغه د پاره ثابت دے۔

س۔ د قدرت د صفت څه معنیٰ ده؟

ج۔ د قدرت معنیٰ د طاقت ده۔ د عالم د پیدا کیدلو قائم ساتلو، فنا کولو، او بیا د موجود کولو قدرت طاقت لری۔

س۔ د علم د صفت څه معنیٰ ده؟

ج۔ د علم معنیٰ پوهیدل. الله تعالیٰ د ټولو څیزونو عالم (په هر څه پوهه) دے۔ د هغه د علم نه هیڅ څیز وړوکے وی یا لوئے بهر نه دے. د ذرے نه ذره هغه ته علم دے۔ هر څیز د هغه د وجود نه مخکښ او معدوم کیدو نه پس هم پیژنی. توره شپه کښ د تورمیږی تلل د هغه د سنے حرکت په

ښه شان پېژنی. او وینی. د انسان زړه کښې چه کوم خیالات راځی. هغه د الله تعالیٰ علم کښې ټول روښانه وی. د غیب علم خاص د الله تعالیٰ علم دے۔

س۔ د ارادے څه معنیٰ ده ؟

ج۔ د ارادے معنیٰ خپل اختیار سره کار کول. الله تعالیٰ چه څه غواړی. خپل اختیار سره ئے پیدا کوی او څه چه غواړی خپل اختیار سره ئے معدوم (نیست) کوی. د دنیا ټولے خبرے د هغه اختیار او ارادے سره کیږی. د دنیا هیڅ څیز د هغه د اختیار او ارادے نه بهر نه وی. هغه د څه کار نه مجبوره نه دے۔

س۔ د سمع او بصر صفت نه څه مراد دے ؟

ج۔ د سمع معنیٰ اوریدل. او د بصر معنیٰ لیدل دی الله تعالیٰ هره خبره آوری. او هر څیز وینی. لیکن د مخلوق په شان د هغه نه غوږونه شته. او نه د مخلوق په شان ئے سترګے شته. نه د هغه د غوږونو او سترګو څه صورت او شکل شته۔ معمولی نه معمولی آواز آوری. او د وړوکی نه

وړوکی څیز وینی. دهغه لید و آوریدوکښی سنز دے اولوئے کښی او تیارے او رڼړا کښی هیڅ فرق نشته.

س۔ د صفتِ کلام څه معنیٰ ده؟

ج۔ د کلام معنیٰ وئیل، خبره کول دی. الله تعالیٰ د پاره دا صفت هم ثابت دے. لیکن دے د پاره د مخلوق په شان ژبه ئے نشته.

س۔ که د الله تعالیٰ ژبه نشته. نو هغه خبرے څنګه کوی؟

ج۔ مخلوق بغیر د ژبے خبرے نشی کولے. ځکه چه مخلوق خپل ټولو کارونوکښی د اسباب او آلات محتاج دے. لیکن الله تعالیٰ خپل هیڅ کارکښی د څه څیز محتاج نه دے. هغه کلام کولوکښی هم د ژبے محتاج نه دے. که هغه هم خبرو کولو د پاره د ژبے محتاج شی، نو هغه الله او واجب الوجود نشی کیدے.

س۔ د صفتِ خلق او تکوین څه معنیٰ ده؟

ج۔ خلق معنیٰ پیدا کول. او تکوین معنیٰ وجود کښی راوستل دی. الله تعالیٰ د پاره دا صفت هم ثابت

دے ـ هغه د تمام عالم خالق (پیدا کونکے) او مکون (وجود کښې راوستونکے) دے ـ

س ـ دے صفاتو نه علاوه د الله تعالیٰ نور صفتونه هم شته یا نه ؟

ج ـ هاں ! د الله تعالیٰ نور هم ډیر صفتونه دی ـ لکه وژل، ژوندی کول، رزق ورکول، عزت ورکول ذلت ورکول، وغیره وغیره ـ او د الله تعالیٰ ټول صفتونه اَبدی او قدیم دی ـ دے کښې کمے بیشی تغیر او تبدیلی نشی کیدے ـ

د الله تعالیٰ کتابونه

س ـ اسلامی عقائد وکښې ښود لے شوی دی چه قرآن مجید د رویشت ۲۳ کالو کښې نازل شو ـ او قرآن مجید کښې الله تعالیٰ فرمائیلی دی: شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیٓ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ (بقره ع ۲۳) رمضان هغه میاشت ده ـ چه قرآن مجید پکښې نازل کړے شوے دے ـ دے نه معلومه شوه ـ چه قرآن مجید د رمضان په میاشت کښې نازل شو ـ او قرآن مجید کښې بل ځلے فرمائی: اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ ـ مونږ قرآن مجید

شب قدر کښې نازل کړو. دے نه معلومه شوه چه قرآن مجید شب قدر کښې نازل شو. دا درے واړه خبرے خپلو کښې د یو بل نه مخالفے دی. دے کښې کومه خبره صحیح ده؟

ج. درے واړه خبرے صحیح دی. خبره دا ده چه د قرآن مجید نازلیدل په دوه قسمه دی. اول دا چه ټول قرآن مجید په یو ځل د لوح محفوظ نه د دُنیا (رومبی) اسمان ته نازل شو. دویم دا چه وخت په وخت د ضرورت د لحاظ نه لږ لږ دُنیا ته نازلیدلو. د قرآن مجید دے دواړو ایتونو کښې د نازلیدو نه رومبے نازلیدل مراد دی. چه د رمضان میاشت شب قدر کښې د لوح محفوظ نه د دُنیا اسمان ته نازل شو. او درویشت کاله کښې د نازلیدو نه دویم نازلیدل مراد دی. چه د دُنیا د آسمان نه په حضور صلعم درویشت کاله کښې نازل شو. دا درے واړه خبرے خپلو کښې مخالفے نه دی. بلکه درے واړه خبرے صحیح دی.

س. د قرآن مجید د نازلیدو ابتدا د کوم ځائے وشوه کوم ځائے د قرآن مجید نازلیدل شروع شو؟

ج۔ مکه معظمه کښې یو غر دے. د هغې نوم حرا دے هغې کښې یو غار وو۔ او حضور صلعم به دے غار کښې د الله تعالیٰ د عبادت دپاره تشریف اوړلو۔ او څو څو ورځے به هلته وو۔ طعام چه به ختم شو نو خپل مکان ته به واپس راغلو۔ بیا د څو ورځو خوراك به ئے اوړلو۔ او تنهائی کښې به ئے د الله تعالیٰ عبادت کولو۔ دے غار کښې په حضور صلعم قرآن مجید نازلیدل شروع شوے وو۔

س۔ د قرآن مجید د نازلیدو شروع څنګه وشوه؟

ج۔ حضور صلعم دے غار حرا کښې وو. چه جبرائیلؑ راغے۔ د حضورؐ مخے ته ظاهر شو۔ ورته ئے اوویل اِقْرَاء۔ دا لفظ د سورۃ علق ړومبے لفظ دے۔ دې معنیٰ دا اولوله۔ حضور صلعم ورته اوفرمائیل زه نه لوستے نشم۔ د غیبے درے ځله وشوه۔ بیا جبرائیلؑ دا ایتونه اولوستل: اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ۚ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝ اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝ او چه د هغه نه ئے واوریدل۔ نو حضورؐ هم اولوستل۔ د ټولو نه ړومبے دا آیتونه نازل شو۔

س۔ که د قرآن مجید د نازلیدو شروع د سورة علق د دے ابتدائی آیتونو نه شوے ده۔ نو ایا قرآن شریف چه نن کوم ترتیب سره موجود دے دے ترتیب سره نازل شوے نه دے؟

ج۔ نه۔ موجوده ترتیب د نزول ترتیب نه دے۔ خبره داده چه د قرآن مجید نزول خود ضرورت او موقع د لحاظ نه وو۔ کله چه به یو سورة نازل شو نو حضور صلعم به ښودل چه دا سورة د فلانی سورة نه پس او فلانی سورة نه مخکښ ولیکی او هر کله چه به یو ایت یا ایتونه نازل شو۔ نو نبی م به او فرمائیل چه دا ایت یا ایتونه د فلانی ایت نه پس او د فلانی ایت نه مخکښ اولیکئ۔ ځکه د قرآن مجید نازلیدل خود موقع او ضرورت د لحاظ نه د موجوده ترتیب خلاف دی۔ لیکن دا موجوده ترتیب هم حضور صلعم ښودلے وو۔ او د حضور م د ارشاد او حکم موافق قائم شوے دے۔

س۔ حضور صلعم چه کوم ترتیب سره قرآن مجید لیکلے وو۔ او کوم ترتیب ئے قائم کړے وو۔ دا خپله د نبی م د رائے سره وو۔ یا د الله د حکم مطابق به حضور م

ښودلو ؟

ج۔ د سورتونو تعداد او د هغې ابتدا او انتها او د هر سورة د ایتونو تعداد او د هر ایت ابتدا او انتها او د غسې د ټول قرآن مجید ترتیب د الله تعالیٰ د طرف نه حضرت جبرائیلؑ ته معلوم شو۔ او هغه حضورﷺ ته او ښودلو۔ او د حضورﷺ په ذریعه مونږ ته معلوم شو۔

س۔ د قرآن مجید د نازلیدو څوارلس۱۴ کالو نه زیات اوشو۔ نو د دے خبرے دلیل څه دے چه دا قرآن مجید چه مونږ سره موجود دے۔ هغه قرآن مجید دے کوم چه په حضورﷺ باندې نازل شوے دے؟

ج۔ د دے ډیر دلیلونه دی۔ یو څو اسان دلیلونه مونږ د لته بیانوو۔

اولنے دلیل: د قرآن مجید متواتر کیدل (تواتر سره) د حضورﷺ د زمانے نه نننه پورے نقل کیدو سره راتلل د دے ډیر مبنے دلیل دے۔ کوم څیز چه تواتر سره ثابت شو د هغې ثبوت یقیني او قطعي وی۔ هغې کښې د هیڅ قسم شك شبهے گنجائش نه وی۔

س۔ د متواتر او د تواتر څه معنی ده؟

ج۔ د کومې خبرې نقل کونکي چه دومره کثرت سره وي. چه د هغوی تولو حضراتو د دروغ د عقل په لحاظ محال وي. داسې خبرې ته متواتر وائي۔ او د هغې خبرې د غسې نقل کولو سره راتلو ته تواتر وائي۔ قرآن مجید د حضور صلعم د زمانې نه دومره کثرت سره خلق نقل کوي، او لولي ئې چه د ادنی عقل سړے هم د اشک نشي کولے چه دومره سړي د دروغ وائي۔

دویم دلیل: د حضور صلعم د زمانې نه نن پورې په لکھونو کروړونو مسلمانان د قرآن مجید حافظان راغلي دي۔ او نن هم د نیا کښې د مسلمانانو په لکھونو کروړونو بچي بوډاګان داسې موجود دي چه د هغوی سینو کښې قرآن مجید محفوظ دے۔

دریم دلیل: خپله الله رب العزت قرآن مجید کښې فرمائیلي دي: اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ٥ مونږ ذِکر (قرآن مجید) نازل کړے دے۔ او مونږ د هغې محافظ یو۔ هر کله چه

الله تعالیٰ خپله د قرآن مجید د حفاظت ذمه اخستې ده. او دهغې د حفاظت وعده ئې کړې ده. نو ضروري طور سره ثابته شوه چه قرآن مجید بعینه هغه دے کوم چه په حضور صلعم نازل شوے دے. ځکه چه د دے د حفاظت وعده خپله الله تعالیٰ کړې ده. تو نن پورې محفوظ دے. او انشاء الله قیامته پورې به محفوظ وي

څلورم دلیل: قرآن مجید د خپل نزول وخت کښې دا دعوی کړې وه چه دا نشان کلام هیڅوک نشي جوړ ولے. نو دا دعوی د نن پورې صحیح ده. ځکه چه کوم قرآن مجید نن موجود دے د دے په مثل نه چا او سه پورې جوړ کړے شو. او نه به ئې جوړ کړے شي. نو دا خبره د دے څرګند دلیل دے. چه قرآن مجید هغه اصلي کتاب دے. کوم چه په حضور صلعم نازل شوے دے.

رسالت

س. قرآن مجید کښې دي: وَإِنْ مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا

نَذِیرٌ (فاطر ع ۳) دا سې هیڅ قوم نشته چه د الله د طرفه ورته څوك ویروونکې نه وي راغلی. او بل ځائې فرمائیلي دي لِکُلِّ قَوْمٍ هَادٍ. د هر قوم د پاره هدایت کوونکی رالیږلے شوے دی. د دې ایتونو نه معلومیږي - چه هر قوم ته دالله د طرف نه پیغمبر رالیږلے شوے دے. آیا پاکستان او هندوستان ته هم څوك پیغمبر راغلی دے؟

ج- هو بیشکه د دې ایتونو نه ثابتیږي چه هر قوم ته الله تعالی څوك هادي او ویروونکے رالیږلے دے. په دې وجه کیدے شي چه پاکستان او هندوستان ته هم څوك نبي راغلي وي.

س. آیا دا کیدے شي چه د هندوانو پیشوایان لکه کرشن جي رام چندر جي وغیره د الله پیغمبران وو؟

ج- نه. ځکه چه پیغمبري یوه خاص عهده وه. چه د الله تعالی د طرف نه د هغه برګزیده او خاص بندیانو ته عطا کیده. څو پورې چه د شریعت نه دا خبره معلومه نه وي چه دا خاص عهده الله تعالی فلانی سړي ته عطا کړیده. هغه وخته پورې مونږ دا نه شو ویلې چه مونږ د شرعي دلیل نه بغیر څوك

سړے د خپلے رائے پیغمبر اوګنړو او واقع کښې هغه پیغمبر نه وی. نو د الله تعالیٰ حضور کښې به زمونږ نه د دے غلطے عقیدے تپوس کیږی.
دا سے پوهه شئ که تاسو صرف خیال سره یو سړے اوګنړی چه هغه د باچا نائب ګورنر جنرل دے او په واقع کښې هغه ګورنر جنرل نه وی. نو تاسو به د حکومت په نزد مجرم یئ. او دا سے سړے چه بادشاه ګورنر جنرل نه وی جوړ کړے. تاسو د ګورنر جنرل منلو سره د بادشاه د طرف نه د دیوے غلطے خبرے نسبت او که.
تیرو خلقو نه مونږ خاص طور سره هغے بزرګانو ته پیغمبر وئیلے شو. چه د هغوئ پیغمبر کیدل د شریعت نه ثابت وی. او قرآن مجید یا حدیث شریعت کښې هغوئ پیغمبر بنودلے شوے وی.
د هندوانو یا د نورو قومونو د پیشوایانو متعلق مونږ زیات نه زیات د ومره وئیلے شو که د هغوئ عقائد او اعمال درست وو. او د هغوئ تعلیم د اسمانی تعلیم خلاف نه وو او هغوئ د خلق خدا د هدایت او رهنمائی کار هم کړے وو نو ممکنه ده

چه نبی وی. خو داوئیل چه فلانے نبی وو یقیناً
بے دلیله خبره او دا اټکل ټیر دے۔

س۔ د حضور صلعم متعلق څه عقیدے ساتل
پکار دی؟
دا عقیدے ساتل پکار دی۔
(۱) چه حضرت محمد صلعم د الله تعالیٰ بنده انسان
اورسول دے۔
(۲) د الله تعالیٰ نه پس د ټول مخلوق نه افضل دے۔
(۳) د ګناهونو نه پاک دے
(۴) الله تعالیٰ پرے قرآن مجید نازل کړے دے۔
(۵) د معراج په شپه الله تعالیٰ اسمانونو ته اوبللو
د جنت او دوزخ سیل ئے پرے اوکړو۔
(۶) د الله تعالیٰ حکم سره ئے ډیرے معجزے
اوښودلے۔
(۷) د الله تعالیٰ ډیر زیات عبادت او بندګی به
ئے کوله۔
(۸) عادات او اخلاق ئے د ډیرے او رجے وو

(۹) اللہ تعالیٰ ورته د ډیرو تیرو او ائنده خبرو علم عطا کړے وو. چه حِیل است ئے پرِخبر کړلو.
(۱۰) اللہ تعالیٰ ورته د ټول اُمّت نه زیات علم عطا کړے وو. لیکن عالم الغیب نه وو. ځکه چه عالم الغیب کیدل صرف د اللہ تعالیٰ شان او د هغه خاص صفت دے.
(۱۱) حضور صلعم خاتم النبیّن دے. هیڅ نبی به تر روستو نه راځی. صرف حضرت عیسیٰ علیه السلام چه د مخکنی زمانے پیغمبر دے، د اسمان نه به راکوزشی او د اسلامی شریعت پیروی به کوی.
(۱۲) د انسانانو او جناتو ټولو د پاره رسول دے
(۱۳) د قیامت په ورځ به د اللہ تعالیٰ اجازت سره د ګنهګارو شفاعت کوی. ځکه ورته شفیع المذنبین وائی. او اللہ تعالیٰ به د حضور صلعم شفاعت قبول کړی.
(۱۴) حضور صلعم چه د کومو خبرو حکم کړے دے په هغے عمل کول. او د کومو خبرو نه ئے چه منع کړے ده، هغے نه منع کیدل. او د کومو واقعاتو چه

خبر ورکړې دې دهغې منل او په هغې يقين کول په اُمّت ضروري دي.

-د معصوم کيدو نه څه مراد دې؟

-دا چه هيڅ صغيره يا کبيره ګناه دحضور صلعم نه قصدًا يا سهوًا نه ده واقع شوې. ټول پيغمبران دګناهونو نه معصوم (پاك) دي.

-د حضورؐ معراج جسماني وو، يا منامي؟

-حضورؐ خپل جسم مبارك سره معراج شريف ته تشريف وړې وو. هو دې جسماني معراج نه علاوه څو ځله حضور صلعم ته خوب کښې هم معراج شوې دې. هغې ته منامي معراج وئيلې شي. ځکه چه منام خوب ته وائي. ليکن دحضور صلعم خوب او دغسې د ټولو انبياء عليهم السلام خوب رښتينې وي. هغې کښې غلطئ او خطا شبهه نشي کيدې. دحضورؐ يو معراج جسماني وو. او باقي څلور پينځه منامي وو.

-شفاعت نه څه مراد دې؟

شفاعت سفارش ته وائي. دقيامت په ورځ به حضورؐ دګنهګارو بنديانو د الله تعالی مخکښې سفارش کوي. حضور صلعم ته دا فضيلت ...

دے خو بیا هم د الله تعالیٰ د جلال و جبروت
د ادب نه حضور صلعم به هم شفاعت د پاره
اجازت غواړی چه اجازت اوشی نو شفاعت
به کوی۔
س۔ کوم قسم ګناهونو د پاره شفاعت کیدے شی؟
ج۔ د کفر او شرك نه سوا باقی د ټولو ګناهونو د
معافئ د پاره به شفاعت کیږی. کبیره ګناهونو
والا به د شفاعت زیات محتاج وی۔ ځکه چه صغیره
ګناهونه خو دنیا کښی هم عبادت سره معاف
کیږی۔

ایمان او د اعمال صالحه بیان

س۔ ایمان څه ته وائی؟
ج۔ ایمان دے ته وائی. چه الله تعالیٰ، د هغه ټولو
صفتونه، آسمانی کتابونه، او پیغمبران زړه سره
د ټولو تصدیق اوکړی. او کومے خبرے چه حضرت
محمد صلعم د الله تعالیٰ د طرف نه راوړی دی
هغه ټولے رښتینے اوګڼړی. او ژبے سره د هغے ټولو
خبرو اقرار اوکړی. دا تصدیق او اقرار د ایمان

حقیقت دے. لیکن اقرار د څه ضرورت یا مجبورئ وخت ساقط کیږی. لکه د ګنهګار سړی ایمان بغیر زبانی اقرار هم معتبر دے۔

س۔ اعمالِ صالحه څه ته وائی ؟

ج۔ د اعمالِ صالحه معنیٰ ده۔ نیک کارونه. کوم عبادتونه او نیک کارونه چه الله تعالیٰ او د هغه پیغمبرانو مخلوق ته ښودلی دی، هغې ټولو ته اعمالِ صالحه (نیک کارونه) وائی۔

س۔ آیا عبادات او نیک کارونه هم د ایمان حقیقت کښې داخل دی ؟

ج۔ هو! ایمانِ کامل کښې اعمالِ صالحه داخل دی۔ اعمالِ صالحه سره ایمان کښې رنړا او کمال پیدا کیږی که اعمالِ صالحه نه وی، نو ایمان ناقص دے۔

س۔ د عبادت څه معنیٰ ده ؟

ج۔ عبادت بندګی ته وائی. څومره د ټولو ریښتینی او حقیقی معبود هغه یو الله دے چه مونږ او ټوله دُنیائے پیدا کړے ده. مونږ د هغه بندیان یو. هغه مونږ ته د خپل عبادت حُکم کړے دے. هغه څومره په ذمه عبادت فرض کړے دے۔

س- الله تعالی خپل مخلوق کښې کوم کوم مخلوق ته د عبادت حُکم ورکړے دے؟

ج- انسانانو او پیریانو ته ئے د عبادت حکم ورکړے دے۔ دا دواړه ته مکلف وائي۔ ملائکې او نور جاندار د عبادت مکلف نه دي۔

س- جن (پیریان) څوک دی؟

ج- جن هم د الله تعالی یو مخلوق دے۔ چه اُور نه پیدا شوي ذي۔ د جنات (پیریانو) جسم ډیر لطیف دے چه موږ ته په نظر نه راځي۔ خو کله چه هغوئ د سړي یا څناورو په شکل شي نو بیا په نظر راځي۔ د خپل شکل د بدلیدو د بنیاد موا و ځنا ورو په شکل کښې د کیدو الله تعالی بدلولو او د سړوا و څنا ورو صورت کښې د کیدو الله تعالی هغوئ ته طاقت عطا کړے دے۔ دوئ کښې نران هم دي او ښځې هم۔ د دوئ اولاد هم کیږي۔

س- د عبادت کولو څه طریقه ده؟

ج- د عبادت ډیرے طریقے دي۔

(۱) مونځ کول۔ (۲) زکوٰة ورکول (۳) حج کول (۴) قربانی کول (۵) روژه نیول (۶) اعتکاف کول (۷) مخلوق ته د نیکو خبرو هدایت کول (۸) د بدو خبرو نه ئے منع کول (۹) د مور پلار استاذانو او بزرګانو

عزت او ادب کول (۱۰) مسجد جوړول (۱۱) مدرسه جاری کول (۱۲) علم دین زده کول (۱۳) علم دین ښودل (۱۴) د علم حاصلو نکومد د کول (۱۵) د الله تعالیٰ لاره کښې د دښمنانو سره جنګ (غزا جهاد) کول (۱۶) د غریبانو حاجت روائی کول (۱۷) په اوبو و طعام خوړول (۱۸) په تږو او به څکول (۱۹) دے نه علاوه ټول د اسے کارونه چه د الله د حکم او مرضیٔ موافق وی. ټول عبادت کښې داخل دی او دے کارونو ته اعمال صالحه وائی

د معصیت او ګناه بیان

س ۔ د معصیت څه معنیٰ ده ؟

ج ۔ د معصیت معنیٰ ده نافرمانی کول. حکم نه منل ۔ کوم کار کښې چه د الله تعالیٰ د احکامو نافرمانی کیږی، د هغے کول معصیت او ګناه ده. ګناه کول ډیره بده خبره ده. د الله تعالیٰ غضب، ناراضګی او عذاب د ګناه په وجه وی. ګناهونو کښې د ټولو نه لویه ګناه کفر او شرک دے. کافر او مشرک به همیشه دوزخ کښې وی. شفاعت به ئے هیڅ کله نه کیږی قرآن شریف کښې الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه مشرک به هیڅ کله نه بخښم.

دکُفر او شرک بیان

س۔ کُفر او شرک څه ته وائی؟

ج۔ په کومو څیزونو چه ایمان راوړل ضروری دی هغې کښې یوه خبره هم نه منل کفر دے۔ مثلاً څوک الله تعالیٰ نه منی۔ یا دهغه د صفاتو نه انکار کوی یا دوه درے خدایان منی، یا ملائکو نه انکار کوی یا یو پیغمبر نه منی، یا تقدیر نه منکر وی، د قیامت ورځ نه منی، یا د الله تعالیٰ قطعی احکامو کښې یو حکم نه منی، یا د رسول الله صلعم ورکړے شوے څه خبر دروغ گنړی۔ نو دے ټولو صورتونو کښې کافر کیږی او مشرک دے ته وائی۔ چه د الله تعالیٰ ذات یا صفات کښې بل څوک شریک کړی۔

س۔ د الله تعالیٰ ذات کښې د شریکولو څه معنیٰ ده؟

ج۔ ذات کښې د شریکولو دا معنیٰ ده۔ چه دوه درے خدایان منلو په وجه مشرک وی۔ او اتش پرست دوه خدایان منلو یاندِ مشرک شو۔ او هندوان د ډیرو خدایانو په وجه مشرک شوی دی۔

س۔ صفات کښې د شریکیدو څه معنیٰ ده؟

ج۔ د اللّٰه صفات په شان بل چا د پاره څه صفت ثابتول شرك دے۔ ځکه چه یو مخلوق کښې خواه هغه ملائکه وی یا نبی یا ولی یا شهید یا پیر یا امام وی د اللّٰه تعالیٰ د صفتونو په شان هیڅ صفت نشی کیدے۔

س۔ د شرك فی الصفات څو قِسمونه دی؟

ج۔ ډیر قِسمونه دی۔ د لته مونږ څو صفتونه ذکر کوو۔

(۱) شرك فی القدرت: د اللّٰه تعالیٰ صفتِ قدرت بل چا د پاره ثابتول، مثلاً دا گنړل چه فلانے پیغمبر یا ولی یا شهید وغیره باران ور ولے شی، ژوندی کول د هغه قبضه کښې دی۔ یا چا ته نفع، نقصان رسولو باندِ قدرت لری۔ دا ټولے خبرے د شرك دی

(۲) شرك فی العلم: د اللّٰه تعالیٰ په شان بل چا د پاره علم ثابتول۔ مثلاً دا سے گنړل چه د اللّٰه تعالیٰ په شان فلانے پیغمبر یا ولی وغیره په علم غیب پوهیدلو اللّٰه تعالیٰ په شان ذره ذره هغه ته علم دے۔ یا څمونږ د ټولو حالاتو نه واقف دے، یا د لرے او نزدے څیزونو خبر لری۔ دا ټول

شرك فى العلم دے۔

(۳) شرك فى السمع والبصر: د الله تعالیٰ صف
سمع (آوریدو) یا بصر (لیدو) کښې بل څوك ورسر
شریکول. مثلاً دا عقیده ساتل چه فلانے پیغمبر یا و
څوښ. تولے خبرے لرے او نزدے آوری. یا څوښ
کارونه د هر ځائے نه وینی دا ټول شرك دے۔

(۴) شرك فى القدرت: د الله تعالیٰ په شان
څوك حاکم ګنړل. او د هغه حُکم د الله د حکم په
شان منل. مثلاً پیر صاحب حکم اوکړو چه دا وظی
د مازیګر موخ نه مخکښې کوئ، نو د هغه حُکم تعمیل
دا ضروری اوګنړی. چه د وظیفې پوره کیدو په
وجه د مازیګر وخت د مکروه کیدو پورې اونه کړ
نو دا هم شرك دے۔

(۵) شرك فى العبادات: د الله تعالیٰ په شان
بل څوك د عبادت مستحق ګنړل. مثلاً یو قبر یا پیر
ته سجده کول، یا چا د پاره رکوع کول، یا د چا پیغمبر
پیر، ولی، امام په نوم روژه نیول، یا د چا نذر او
منښته منل. یا د یو قبر یا کور د خانه کعبې په شان
طواف کول وغیره. دا ټول شرك فى العبادات دی۔

س: د دې خبرو نه علاوه نور هم افعالِ شرکیه شته یا نه؟

ج۔ هاں! ډیر افعالِ داسې دی چه هغې کښې د شرک ګډون دے. هغې ټولو کارونو نه پرهیز کول لازم دی. هغه کارونه دا دی: نجومیانو نه د غیب خبرې تپوسل، تړویتی (پنډ) ته لاس ښودل، چا باندِ فال کتل د چیچک یا بلې بیمارۍ لګیدل. او دا ګنړل چه د دې بیماری بل ته لګی، تعزیه جوړول، جنډې خیژول قبرونو باندِ نذرانې خیژول، نذرونیاز منل. د الله تعالیٰ نه سوا د بل چا په نوم قسم خوړل، او تصویرونه جوړول، د تصویرونو تعظیم کول، چا پیر یا ولی ته مشکل کُشا وئیل، د چا پیر په نوم په سر بوتۍ ساتل، یا محرّم کښې د امامانو د نوم فقیر جوړیدل، په قبرونو میله لګول وغیره

د بدعت بیان

س۔ د کُفر او شرک نه پس کومه ګناه لویه ده؟

ج۔ د کفر او شرک نه پس بدعت لویه ګناه ده۔

بدعت هغې څیزونو ته وائی. چه د هغې اصل د شریعت

نه ثابت نه وی. قرآن مجید او احادیث کښې د هغې هیڅ ثبوت نه وی. د رسول الله صلعم، صحابه کرامو رض تابعین او د تبع تابعینو په زمانه کښې د دې څه وجود نه وه. او هغه د دین کارګزارو سره او کړی یا پرېږدی.

بدعت ډېر خراب څیز دے. رسول الله ص بدعت ته مردود فرمائیلی دی. او کوم سړی چه بدعت راوکاږی، هغه ته ئې د دین ورانوونکے وئیلی دی او فرمائیلی دی. د هر بدعت ګمراهی ده. او هر ګمراه دوزخ ته تلونکے دے.

س. د بدعت څه کارونه اوښائیې؟

ج. خلقو په زړګونو بدعتونه راوبنکلی دی. یو څو بدعتونه دا دی:

پاخه قبرونه جوړول، قبرونو باندې ګنبد جوړول د هوم د هام سره عرس کول، قبرونو باندې ډیوے لګول، قبرونو باندې څادرونه، او غلاف اچول، د مړی په مکان خوراك د پاره جمع کیدل، وادهٔ کښې سهره تړل، د ګلونو هار د وادهٔ ځلمی ته اچول، او جائز او مستحب کار کښې داسے شرطونه لګول چه د هغې د شریعت نه ثبوت نه وی، بدعت دے.

د باقي ګناهونو بیان

س۔ د کفر، شرک او بدعت نه علاوه نورے کومے خبرے د ګناه دي؟

ج۔ د کفر، شرک او بدعت نه علاوه نور هم ډیر ګناهونه دي. لکه د روغ ویئیل، مونځ نه کول، روژه نه نیول، زکوٰة نه ورکول، باوجود د مال او طاقت حج نه کول، شراب څکل، غلا کول، زنا کول، غیبت کول، د دروغو ګواهي ورکول، څوک په ناحقه وهل، تنګول، چُغلي خوړل، دهوکه ورکول، د مور پلار استاذانو نافرماني کول، خپلو کورونو او کمرو کښې تصویرونه لګول، امانت کښې خیانت کول خلق حقیرو او سپک ګنړل، جواري کول، کنځل کول، ناڅ کتل، سود اخستل، رشوت خوړل، لاندې پرتوګ اچول فضول خرچي کول، لوبو، تماشو تا تلونو او سینما ګانو ته تلل۔ او د دے نه علاوه نور ډیر ګناهونه دي، چه غټو کتابونو کښې به یې تاسو اولولئ۔

س۔ ګناه کونکے سړے مسلمان پاتے کیږي یا نه؟

ج۔ څوک چه داسے کار کوي، چه هغه کښې کفر یا شرک

بیا موندے شی هغه مسلمان نه پاتے کیږی، بلکه کافر او مشرک کیږی. او څوک چه د بدعت کار کوی، هغه خو مسلمان وی لیکن د هغه اسلام او ایمان ډیر ناقص وی دا سے سړی ته مبتدع او بدعتی وائی. او څوک چه کُفر او شرک او بدعت نه علاوه څه گناه کبیره کوی، هغه هم مسلمان خو دے لیکن ناقص مسلمان دے هغه ته فاسق وائی

س۔ که چا نه څه گناه اوشی، نو عذاب نه د بچ کیدو څه صورت دے؟

ج۔ توبه او بخلو سره الله تعالیٰ لے گناه معاف کوی توبه دے ته وائی چه خپلے گناه باندې شرمنده او پښیمانه شی. او د الله مخکښ ژړا زاری سره توبه او کاږی، چه اے الله څما گناه معاف کړے او زړه کښې عهد اوکړی چه بیا به هیڅ کله گناه نه کوم. یاد ساتئ صرف ژبے سره توبه کول اصل توبه نه ده.

س۔ آیا توبه کولو سره هر قِسم گناه معاف کیږی؟

ج۔ کوم گناهونه چه دا سے دی۔ چه هغے سره د بنده څه تعلق نه وی، صرف د الله تعالیٰ حق وی، چه

هغوړ د نافرماني کولو په وجه سزا ورکړی دا سې گناه توبه سره معاف کيدے شي. تر دے چه د کفر او شرک گناه هم توبے سره معاف کيږی.
ليکن کومه گناه چه دا سې وی چه هغ کښ د يو بنده هم تعلق وی، مثلاً د يتيم مال خوړل، په چا تهمت لګول، يا په چا ظلم کول. دا سې گناهونو ته حقوق العباد وائي. دا صرف توبے سره نه معاف کيږی، بلکه د هغ معافئ د پاره ضروري دی چه څکښ د هغ سړی حق ادا کړے شی، يا هغه ته ئے معاف کړی. د هغ نه پس د الله حضور کښ توبه اوکاږی نو د معافی اُميد کيدے شی۔

س۔ توبه کوم وخت قبليږی؟

ج۔ هر کله چه انسان مړ کيږی، او د عذاب ملائکے د هغه مخ ته راشی. او حلق ته دم راشی نو هغه وخت توبه نه قبليږی. او دے حالت نه مخکښ مخکښ هر وخت توبه قبليږی۔

س۔ که گنهګار سړے بغير د توبے مړ شی، نو جنت ته به ځی يا نه؟

ج۔ هو! سِوا د کافر او مشرک نه باقی تمام گنهګار به

د خپلو ګناهونو سزا اخوړلو سره جنت ته ځي او
دا هم ممکنه ده چه الله تعالیٰ د کفر او شرک نه
علاوه باقي ټول ګناهونه بغیر د سزا ورکولو د چا
شفاعت سره یا بغیر د شفاعته اوبښي۔
س۔ مړي ته د دُنیا عزیز، قریب رشته دار وغیره
هم څه فایده رسولے شي یا نه؟
ج۔ هاں! مړي ته بدني عبادت او مالي ثواب رسي
ژوندي خلق که څه نیک کار اوکړي۔ مثلاً قرآن
شریف یا درود شریف اولولي، د الله لاره کښې صدقه
خیرات ورکړي چه اوږي باندِ طعام اوخوروي
نو د دے کارونو ثواب د الله دطرف نه هغه ته
حاصلیږي۔ لیکن الله تعالیٰ خپل رحمت سره دومره
هم اختیار ورکړے دے چه هر کارکونکے خپل ثواب
چا مړي ته رسول غواړي نو الله تعالیٰ هغه مړي
ته هغه ثواب رسوي۔
دا سے ثواب رسولو د پاره څه خاص څیز خاص
وخت یا خاص صورت د خپل طرف نه تخصیص
کول نه دي پکار۔ بلکه کوم څیز چه څه وخت په
لاس راشي، الله د پاره چا مستحق ته ئے ورکړي

دهغې ثواب بسنل پکار دی۔ د رسم پابندی یا نمائش
او نوم شهرت د پاره لوئے لوئے دعوتونه کول
یا د خپل طاقت نه زیات قرض اخستو سره رسم
پوره کول ډیر بد دی۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

د قرائت د څو احکامو بیان

س۔ که د سحر، ماښام او ماسختن مونځ څان له اوکړی
نو جهر کول واجب دی یا نه ؟
ج۔ واجب خو نه دی، خو آواز سره لوستل بنه دی
س۔ که د امونځونه قضا اوکړی، نو څه حکم دے ؟
ج۔ قضا کښې امام له جهر سره لوستل پکار دی۔ او
منفرد ته اختیار دے چه آواز سره اولولی یا رو۔
س۔ د فرض مونځونو څومره څومره قرائت مسنون دے؟
ج۔ د سفر حالت کښې خو اختیار دے، چه سورة فاتحه
نه پس کوم سورة غواړی هغه اولولی البته اقامت
(کور کښې د اوسید و حالت) د قرائت خاص سورتونه
مسنون دی۔

س۔ د اقامت حالت کښې مسنون قرأت څه دے؟
ج۔ د اقامت حالت کښې د سحر او ماسپخین مونځ کښې طوال مفصل لوستل او د ماز یګر او ماسپخین مونځ کښې اوساط مفصل لوستل او د ماښام مونځ کښې قصار مفصل لوستل مسنون دی
س۔ طوال مفصل، اوساط مفصل، او قصار مفصل څه ته وائی؟
ج۔ د قرآن مجید د شپږ ویشتم پارے سورۂ حجرات نه سورۂ بروج پورے سورتونه ته طوال مفصل وائی۔ او سورۂ طارق نه سورۂ لَمْ يَكُنْ پورے سورتونو ته اوساط مفصل وائی۔ او سورۂ اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ نه النّاس د قرآن مجید آخر پورے سورتونو ته قصار مفصل وائی۔
س۔ دا مسنون قرأت امام د پاره دے یا منفرد د پاره؟
ج۔ امام او منفرد دواړو د پاره دا قرأت مسنون دے۔
س۔ که د اقامت حالت کښې د څه ضرورت په وجه مسنون قرأت پرېږدی۔ نو څه حکم دے؟
ج۔ جائز دے۔
س۔ په مونځ د پاره څه خاص سورة داسے هم مقرر دے

چه د هغې نه سوا بل سورة جائز نه وی؟

ج- هیڅ مونځ د پاره څه سورة د اسې مقرر نه دے شریعت اسانئ د پاره د هر ځائے نه د قرآن مجید د لوستلو اجازت ورکړے دے. د خپل طرف نه مقررول د شریعت خلاف دی۔

س- د سحر سنتو کښې مسنون طریقه څه ده؟

ج- حضورؐ به اکثر د سحر سنتو کښې په ومبې رکعت کښې قُلْ يَاأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ او دویم رکعت کښې قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ لوستلو۔

س- د وتر مونځ مسنون طریقه څه ده؟

ج- په ومبی رکعت کښې سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى، دویم رکعت کښې قُلْ يَاأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ او دریم رکعت کښې قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ لوستل ثابت دی۔

د جماعت او امامت بیان

س- امامت نه څه مراد دے؟

ج- د امامت معنی سردار کیدل. مونځ کښې چه کوم سړے د جماعت سردار وی او ټول مقتدیان د هغه تابعداری کوی. هغه ته امام وائی۔

س. جماعت فرض دے یا واجب یا سنت ؟
ج- جماعت سنّت موکده دے. دد ے ډیر تاکید دے بعضے علماؤ دے ته فرض او بعضے واجب هم وائی - دےکښې شک نشته چه جماعت کښې ډیرے فایدے دی -
س. د جماعت څه معنیٰ دی ؟
ج- جماعت په یو ځائے مونځ کولو ته وائی چه هغے کښې یو امام وی، او باقی مقتدیان -

د جماعت فایدے

س- جماعت سره د مونځ څه څه فایدے دی ؟
ج-(۱) په یو مونځ د اووِیشت مونځو ثواب حاصلیدل
(۲) پنځه وخته د مسلمانانو خپلوکښې یو ځائے کیدل
(۳) په دے وجه خپلوکښې اتفاق او محبت پیداکیدل
(۴) د یو بل لیدو سره د عبادت شوق او رغبت پیداکیدل
(۵) د مونځ سره زړه لګیدل -
(۶) جماعت کښې د نیك او بزرګ خلقو په وجه دګنهګارو مونځ هم قبلیدل۔

(۷) د ناواقفو د واقفو خلقو نہ پہ اسانہ مسائل زده کول۔
(۸) د حاجتمندو حال معلومیدل۔
(۹) مونځ د یو خاص عبادت شان ظاهریدل دی۔
دے نہ سوا نورے هم ډیرے فایدے دی
س۔ کومو خلقو تہ د جماعت د تہ راتلو اجازت دے؟
ج۔ ښځو، نابالغہ بچو، بیمار، د بیمار خدمت کونکی، کوډ شل، پښے پریکړے۔، ډیر بوډا، ړوند، د دے ټولو پہ ذمہ جماعت کښی حاضریدل لازم نہ دی۔
س۔ هغہ څہ عذر دے چہ د هغے پہ وجہ روغ جوړ سړی لہ جماعت لہ نہ راتلل جائز دی؟
ج۔ سخت باران، لار کښی زیاتے خټے، سختہ تیارہ شپہ کښی، سفر۔ مثلاً د ریل روانگی وخت قریب وی۔ د لویو وړو بولو حاجت وی۔ د سختے لوږے پہ حالت کښی دے عذرونو سره د جماعت د حاضری تاکید ختمیږی۔
س۔ کومو مونځونو کښی جماعت سنت مؤکده دے؟ یا واجب دے؟
ج۔ ټولو مونځونو کښی جماعت سره مونځ کول سنتِ

موکده دی۔ د تراویح د مونځ جماعت سنّت دی۔
رمضان شریف کښې د وِتر جماعت مستحب دے۔

س۔ کم نه کم د څو سړو جماعت کیږی؟

ج۔ کم نه کم د دوه سړی جماعت د پاره کافی دی۔ یو مقتدی وی، او یو امام۔ خو دے حالت کښې دے مقتدی د امام ښی طرف ته او دریږی، او هر کله چه دوه مقتدیان وی نو امام له مخکښې کیدو سره اودریدل پکار دی

س۔ جماعت کښې خلقو له څنګه اودریدل پکار دی؟

ج۔ یو ځائے صفونه نیغولو سره دے اودریږی، مینځ کښې دے خالی ځائے نه پریږدی۔ بچی دے روستو اودریږی دلویو سړو صفونو کښې بچو له اودریدل مکروه دی د ښځو صف د بچو نه هم روستو پکار دے۔

س۔ هر کله چه د امام مونځ فاسد شی، نو د مقتدیانو مونځ به صحیح وی۔ یا مقتدیانو د پاره به هم دوباره مونځ کول ضروری وی؟

ج۔ د امام مونځ فاسدکیدو سره د مقتدیانو مونځ فاسد کیږی۔ دوباره مونځ کول به مقتدیانو له ضروری وی۔

س: د امامت مستحق څوک دے؟
ج: اول عالم۔ هغه سړے چه د مونځ د مسائلو نه په ښه شان واقف وی۔ په شرط د دے چه اعمال ئے هم ښه وی۔ هغے نه پس قرآن ښه لوستے شی۔ بیا چه زیات متقی او پرهیزګار وی۔ بیا چه د زیات عمر والا وی۔ هغے نه پس چه زیات خوش خلق وی۔ او ذاتی شرافت لری۔ هغے نه پس چه زیات خوبصورته وی او صاحبِ وقار وی۔ دے نه پس چه نسبی شرافت لری۔
س: که د جومات امام مقرر وی، او د جماعت په وخت د هغه نه افضل سړے راشی نو څوک زیات مستحق دے؟
ج: مقرر امام د هغے اجنبی امام نه زیات مستحق دے۔ اګر که اجنبی زیات افضل وی۔
س: کوم خلقو پسے مونځ مکروه دے؟
ج: بدعتی، فاسق، جاهل غلام، جاهل باندیسے (چه) احتیاط نه کونکے وی، ولد الزنا یعنی حرامی پسے مونځ مکروه دے۔
لیکن که غلام او کلی وال (باندیسے) سړے عالم وی۔

اوپه وند احتیاط کوی. او عالم وی. قرآن ښه لوستے شی. او ولدزنا عالم او نیك بخت وی او هغوی نه افضل سړی موجود نه وی نو د هغوئ امامت بلاکراهته جائز دے۔

س۔ کوم خلقو پسے مونځ بالکل نه کیږی؟

ج۔ لیونے نشه کونکے، کافر او مشرك پسے د هیڅ سړی مونځ نه صحیح کیږی۔ او نابالغه پسے د بالغو او ښځے پسے د سړو مونځ نه صحیح کیږی۔ او چا چه باقاعده اودس او غُسل کړے وی، د هغه مونځ معذور پسے نه کیږی۔ او چا چه پوره ستر پټ کړے وی، د هغه مونځ داسے سړی پسے چه د هغه ستر بربنډ وی نه صحیح کیږی۔ او څوك چه رکوع سجده کوی، د هغه مونځ د رکوع او سجده اشاره سره کونکی پسے نه کیږی، او د فرض کونکی مونځ نفل کونکی پسے نه کیږی۔ د غسے یو فرض (مثلاً ماسپخین) کونکی مونځ دویم فرض (مثلاً ماز یګر) کونکی پسے نه کیږی۔

س۔ نا بالغ هلك پسے تراویح کول جائز دی یا نه؟

ج۔ نابالغ هلك پسے تراویح کول هم جائز نه دی۔ هو. هلك چه د پنځلس کالو شی۔ آګرکه د بالغ کیدو علامات پرے

ظاهر نه وی. نو تراویح او فرض مونځ ورپسې جائز دے۔

دمونځ دمفسداتو بیان

س۔ د مونځ مفسدات څه ته وائی؟

ج۔ (۱) مونځ کښې خبرے کول، قصدًا وی یا په هیره، لږ وی یا ډیر. هرسورت کښې مونځ ماتوی

(۲) سلام کول چا سړی ته د سلام کولو په قصد سلام یا تسبیح یا السلام علیکم یا د غسې څه لفظ وئیل۔

(۳) د سلام جواب ورکول

(۴) انټوشی کونکی ته یرحمك الله یا د مونځ نه د بهر سړی په دُعا آمین وئیل۔

(۵) په څه خراب خبر اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ وئیل یا په څه ښه خبر اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وئیل یا څه عجیبه خبر آورید و باندِ سبحان الله وئیل، دخپل امام نه بل چاته لقمه ورکول یعنی قرأت ښودل۔

(۷) قرآن شریف کتلو سره لوستل۔

(۸) د قرآن شریف لوستلو کښې څه سخته غلطي کول

(۹) عمل کثیر کول۔ څه داسې کار کول چه کتونکی دا اوګنړی چه دا سړے مونځ نه کوی۔

(۱۰) قصداً یا په هیره خوراک څکاک کول (۱۱) د دوه صفونو په مقدار تلل (۱۲) قبلې طرف ته بلا عذره سینه کرځول (۱۳) ناپاکه ځائے باندِ سجده کول (۱۴) د ستر پرانستے کید و حالت کښ د یو رکن مقدار ایسار یدل (۱۵) دُعا کښ داسے څیز غوښتل کوم چه د سړو نه غوښتلے شی مثلاً "یا الله! نن ماله تَلل روپئ را کړے (۱۶) یا د مُصیبت په وجه داسے ژړل چه حرفونه ظاهرشی (۱۷) د بالغ سړی مونځ کښ په قهقهه یا اواز سره خندل (۱۸) د امام نه مخکښ کیدل۔

د مانځه د مکروهاتو بیان

س۔ مونځ کښ څو مره څیزونه مکروه دی؟

ج ۔ (۱) سَدَل۔ یعنی کپړه اویزاندول مثلاً څادر په سر اچول او دهغے غاړے اویزاندول یا اچکن یا چوغه بغیر د دے نه چه لستونړو کښ لاس د ننه کړی په اوږ و اچول (۲) کپړے خاورو نه بچ کولو د پاره لاس سره راغوندول (۳) خپلو کپړو یا بدن سره لوبے کول (۴) معمولی کپړو کښ چه دهغے اغوستو سره مجلس ته تللے نشی خوښوی مونځ کول (۵) خُله کښ روپئ، پیسه یا څه څیز ایښودو سره مونځ کول

چه دهغې په وجه قراءت کولو نه مجبور وي. که قراءت نه مجبور وي نو مونځ بالکل نه کیږي (۶) سستي او بې پروائۍ سره سرتور مونځ کول (۷) د لویو وړو بولو د حاجت حالت کښې مونځ کول (۸) د پېښو په سر جمع کولو سره غټه کول (۹) ګنګو ټتقانړے لرے کول، خو که سجده کول مشکل وي نو یو ځل لرے کولو کښې څه حرج نشته (۱۰) ملا پیا تشي، پښتي با ندِ لاس ایښودل (۱۱) قبلې طرف ته مخ کرځولو سره یا صرف نظر سره اخوا دیخوا کتل (۱۲) د سپي په شان کیناستل یعني ورنړونه اودرولو سره کیناستل او ورنړونه خیټې سره او ګنډے سینې سره یوځائے کول او لاسونه په مزکه ایښودل (۱۴)، سجده کښې دواړه مړوندونه په مزکه خورول سړي دپاره مکروه دي (۱۵)، یو داسې سړي طرف ته مونځ کول چه مونځ ګزار طرف ته مخ کړي ناست وي. (۱۶) لاس یا د سر اشارے سره د سلام جواب ورکول (۱۷) بلاعذره څارزانو پلتۍ وهلو سره کیناستل (۱۸) قصداً اسویلے کول یا بند ولے نے شي خو بندے نه کړي (۱۹) سترګے پټول. خو که مونځ کښې زړه لګولو دپاره ئے بند کړي نو مکروه نه دي (۲۰) د امام محراب کښې د ننه اودریدل لیکن که یو قدم محراب نه بهر وي، نو مکروه نه دي.

(۲۱) یواز ے د امام یولاس اوچت ځائے باندِ ودریدل اوکه د هغه سره څه مقتدیان هم وی نومکروه نه دی (۲۲) د اسے صف پسے روستوځان له اودریدل چه هغے کښ ځائے خالی وی۔ (۲۳) دیو جاندار تصویر والا کپړوا غوستو سره مونځ کول (۲۴) داسے ځائے کښ مونځ کول چه د مونځ گزار د سر د پاسه یاد هغه مخے ته یا ښی یا کس طرف ته یا د سجدے په ځائے تصویر وی (۲۵) ایتونه سورتونه یا تسبیحات په گوتو شمیرل (۲۶) څادر یا څه کپړه داسے د ځان نه راچاپیره کولو سره مونځ کول چه تادی سره تر لاس نشی اوښکلی (۲۷) مونځ کښ آسویلے کول یعنی سستی کول (۲۸) د پټکی په ول سجده کول (۲۹) د سنت خلاف څه کار کول۔

دوترو مانځه بیان

س۔ د وترو مونځ سنت دے که واجب؟

ج۔ د وترو مونځ واجب دے د دے د کولو تاکید د فرضو مونځونو برابر دے اوچه پاتے شی قضا به ئے کوی او بلا عذره به یسنودل ئے سخت گناه ده۔

س۔ د وترو څو رکعتونه دی؟

ج۔ د وترو درے رکعتونه دی چه د وه رکعتونه اوکړی نو قعده به

اوکړی بیا به پوره شي او یو رکعت به اوکړي او قعده به اوکړي۔
س۔ د وترو په مونځ او نورو مونځونو کښې څه فرق دے؟
ج۔ د دے په دریم رکعت کښې دُعاء قنوت لوستے شي چه طریقه ئې دا ده: چه دریم رکعت کښې الحمدُ او سورت اولولی نو الله اکبر او وائی غوږونو ته لاس کړی او بیا لاس و نه د نامه لاندې کیدې دُعا قنوت لولی چه دُعاء قنوت ختم کړی نو بیا رکوع او نور مونځ پوره کړی۔
س۔ که دعاء قنوت ئې یاد نه وی څه به کوی؟
ج۔ بله څه دُعا مثلاً رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ الخ به لولی۔
س۔ که مقتدی دُعا قنوت نه وی ختم کړی او امام رکوع له لاړ شی؟
ج۔ دے به هم رکوع له ځی، دُعا قنوت به پریږدی۔

د سنّت او نفلو مونځونو بیان

س۔ څومره مونځونه سنت موکده دی؟
ج۔ دوه رکعته د سحر مونځ د فرضونه مخکښې او څلور رکعته (یو سلام سره) د ماسپخین مونځ او د جُمع د مونځ د فرضونه مخکښې۔ او دوه رکعته د ماسپخین د فرضونه پس۔ او دوه رکعته د ماښتن د فرضونه پس او رمضان شریف کښې د تراویح شل رکعته سنّتِ موکده دی۔

س۔ څومره مونځونه غیر مؤکده دی؟
ج۔ د ماز یګر د مونځ نه مخکښې څلور رکعته. او د ماسختن د سنّت مؤکده نه پس دوه رکعته. او د ما ښام د سنّت مؤکده نه پس شپږ رکعته او د جُمعې نه روستو د سنّت مؤکده نه پس دوه رکعته او د تحیة الوضوء دوه رکعته۔ د تحیة المسجد دوه رکعته۔ د څاښت د مونځ څلور یا اته رکعته صلوٰة تسبیح۔ نماز استخاره، نماز توبه، نماز حاجت وغیره دا ټول مونځونه سنّتِ غیر مؤکده دی۔
س۔ سنّت جومات کښې کول بهتر دی یا کور کښې؟
ج۔ ټول سنّت او نفل مونځونه کور کښې کول بهتر دی سوا د څو سنّتو او نفلو نه چه د هغې جومات کښې کول بهتر دی. لکه تراویح مونځ، تحیة المسجد د نمر تندرنیولو مونځ وغیره۔
س۔ د نفل مونځ کوم وخت کول افضل دی؟
ج۔ د صبح صادق نه پس د سحر د دوه رکعته سنتو نه علاوه فرضو نه مخکښې نفل کول مکروه دی
د سحر فرضو نه پس نمر ختلو نه مخکښې نفل مونځ مکروه دے۔ د ماز یګر د فرضو نه پس د نمر متغیر کیدو

نه مخکښې نفل مونځ مکروه دے. لیکن د دے
درے وارو وختو نو کښې د فرض مونځ قضا. د جنازے
مونځ او سجده تلاوت بلا کراهت جائز ده.

او د نمر ختلو شروع کیدو نه مخکښې یوه نیزه
او چتیدو پورے او تیاک تکنه غرمه وخت. او د
نمر متغیر کیدو سره د ډوبیدو پورے هر مونځ مکروه
دے. هو که د هغې ورځې د ماز یګر مونځ ئے نه وی کړے نو
د نمر متغیر کیدو او ډوبیدو حالت کښې هم کول ئے
جائز دی. د غسے د خطبے په وخت سنت او نفل مونځ
مکروه دے.

س. د نمر متغیر کیدو نه څه مراد دے؟

ج. هر کله چه نمر د سور لګوړی په شان شی. او نظر
پرِ ایساریږی. نو پوهه شئ چه نمر متغیر شو.

د تراویح د مونځ بیان

س. تراویح مونځ سنّت موکده دے یا نفل یا سنّت دی.

ج. تراویح سړو او ښځو د پاره سنّت موکده دی. او جماعت
سره کول ئے سنّت کفایه دی. که د محلے جومات کښې تراویح
مونځ جماعت سره کیږی. او یو سړے ئے کور کښې ځان

له او کړي، نو ګنهګار نه دے. لیکن که ټولے محلے والا یے جماعت سره او نه کړي، نو ټول به ګنهګار وي

س. د تراویح د مونځ وخت څه دے؟

ج. د تراویح د مونځ وخت ماسخوتن نه پس سحر پورے دے. د وتر مونځ نه مخکښ هم او د هغے نه پس هم د تراویح وخت دے. یعنی که چا نه څو رکعته پاتے شوي وي او امام وتر کوي، نو دا سړے دِ امام سره وتر کښ شریک شي، او وتر نه پس دِ پاتے شوے تراویح رکعتونه پوره کړي. نو جائز دي.

س. د تراویح مونځ څو رکعته دے، د هغے کیفیت او تعداد بیان کړئ؟

ج. شل رکعته لس سلامونو سره مسنون دي، یعنی دوه رکعته نیت دے کوي او د هر ترویحه (څلور رکعته) نه پس لږ شان آرام کول مستحب دي.

س. څو مره چه آرام د پاره کیني نو خاموش به وي یا څه به وائي؟

ج. اختیار لري، که خاموش وي، یا قرآن مجید روروو لولي، یا تسبیح لولي یا ځان له ــــ نفل مونځ کوي

س. تراویح مونځ کښ د قرآن ختمول څنګه دي؟

ج۔ پوره میاشت کښې یو ځل د قرآن مجید ختمول سنّت دی۔ او دوه ځل ختم کول افضل دی، او درې ځله ختم کول هغې نه زیات افضل دی. لیکن د دوه ځله او درې ځله دختم کولو فضیلت هغه وخت دے چه مقتدیانو ته تکلیف نه وی. هو یو ځل ختم کولو کښې دے خلقو د سُستی خیال نشی ساتلے۔

س۔ تراویح مونځ په ناسته کول څنګه دی ؟

ج۔ که د آودریدو طاقت لرې وی۔ نو په ناسته تراویح کول مکروه دی۔

س۔ بعضے خلق د رکعت شروع کښې نه شریکیږی۔ بلکه امام چه رکوع کوی۔ نو شریك شی دا څنګه دی ؟

ج۔ مکروه دی۔ شروع نه شریکیدل پکار دی۔

س۔ که یو سړے فرض مونځ جماعت سره لا نهٔ وی کړی فرض ځان له اوکړی او د تراویح جماعت کښې شریك شی۔ نو جائز دی یا نه ؟

ج۔ جائز دی۔

د قضا مونځو کولو بیان

س۔ ادا او قضا څه ته وائی؟

ج۔ ادا دے ته وائی. چه یو عبادت د هغې په مقرره وخت اوکړے شی۔ او قضا دے ته وائی چه یو فرض یا واجب د هغې مقرره وخت تیریدو نه پس اوکړے شی۔ مثلاً د ماسپخین مونځ ئے د ماسپخین وخت کښں اوکړو، نو ادا به ورته وئیلے شی۔ او که د ماسپخین وخت د تیریدو نه پس ئے اوکړو. نو قضا به ګنړلے شی۔

س۔ قضا د کومو مونځونو واجب دی ؟

ج۔ د ټولو فرض مونځونو قضا فرض۔ او د واجبو قضا واجب او د بعضے سنت قضا سنت دی۔

س۔ یو فرض یا واجب په وخت نه ادا کول او قضا کول څنګه دی ؟

ج قصداً او بلا عذره څه فرض یا واجب یا سنت موکده په وخت نه ادا کول ګناه دی۔ د فرض او واجب په وخت د نه ادا کولو ګناه ډیره لویه دی۔ هغې نه پس د سنت۔ هاں که بلا قصده قضا شی۔ مثلاً مونځ کول ترهیر شی یا د مونځ وخت کښں ئے سترګے ونه غړیدی او ده پاتے شو، نو څه ګناه نشته۔

س۔ فرض یا واجب مونځ قضا شی۔ نو څه وخت ئے کول

پکار دی؟

ج۔ څه وخت چه ورته یاد شی یا ویښ شی سمد ستی دِ اوکړی. تاخیر کول ئے ګناه ده۔ که وخت مکروه وی۔ نو دَ مکروه وخت دَ تلو نه پس دے اوکړی۔

س۔ د قضا مونځ نیت څنګه کول پکار دی؟

ج د قضا مونځ نیت داسے کول پکار دی چه زه د فلانئ ورځے د سحر یا ماسپخین قضا مونځ کوم صرف دا نیت کول چه د ماسپخین یا سحر قضا کوم کافی نه دی۔

س۔ که د چا په ذمه ډیر قضا مونځونه وی. او هغه ته ورځ یاده نه وی. مثلاً هغه میاشت دوه مونځ بلکل نه دے کړے. او دا ورته معلومه ده چه په ما د سحر دیرش مونځونه او دومره د ماسپخین وغیره مونځونه دی۔ لیکن میاشت ورته یاده نه ده چه دکومے میاشتے مونځونه تر قضا شوے دی۔ نو نیت به څنګه کوی؟

ج۔ داسے صورت کښ چه دیو مونځ مثلاً د سحر قضا کوی نو داسے نیت دے اوکړی چه څما په ذمه د سحر څومره مونځونه باقی دی. هغے کښ د ړومبنی سحر مونځ کوم یا هغے کښ د آخری سحر مونځ کوم۔ د غسے چه کوم مونځ قضا کوی، د هغے نیت دے طریقے سره پکار دے۔

س۔ قضا مونځ جومات (مسجد) کښې کول بهتر دی یا کور کښې
ج۔ که د ځان له سرې مونځ قضا وی۔ نو کور کښې کول بهتر دی۔ او که جومات (مسجد) کښې هم اوکړی نو څه حرج نشته۔ لیکن چا ته دې دا ذکر نه کوی۔ چه ما دا قضا کړې دے۔ ځکه چه د خپل قضا مونځ نورو ته ذکر کول مکروه دی۔
س۔ هغه کوم سنّت دی چه د هغې قضا کول سنّت دی؟
ج۔ د سحر سنّت۔ که فرض سره قضا شی، نو د زوال نه مخکښې د هغې دے هم فرضو سره قضا اوکړی۔ او که زوال نه پس ئې اوکړی، نو صرف د فرضو قضا به کوی او که صرف سنت پاتې شوې وی۔ نو د سنتو قضا نشته د نمر ختلو نه مخکښې کول ئې مکروه دی۔ او د نمر ختلو نه پس مکروه خو نه دی، لیکن هغه به سنّت نه وی نفل به شی۔
س۔ د ماسپخین څلور سنّت که د فرضو نه مخکښې اونه کړی نو د دې څه حکم دے؟
ج۔ د ماسپخین او د جمعې څلور سنت که د فرضو نه مخکښې اونه کړی نو د فرضو نه پس دې اوکړی۔ او فرضو نه پس د دوه سنتو نه مخکښې یا د هغې نه پس به د واړه شانه کولو

دپاره ئے ګنجائش شته. بهتره دا ده چه د دوو سنتو نه پس ئے اوکړی

د مدرک، مسبوق او لاحق بیان

س. مدرک چا ته وائی؟

ج. څوک چه امام سره پوره مونځ لا ندی کړی. د رومبی رکعت نه شریک شی. او اخر پورے ورسره وی هغه ته مدرک وائی.

س. مسبوق چا ته وائی؟

ج. مسبوق هغے سړی ته وائی چه امام سره د شروع نه یو یا څو رکعته نه وی لاندی کړی.

س. لاحق څه ته وائی؟

ج. لاحق هغه سړی ته وائی. چه د هغه نه امام سره د شریکیدو نه پس یو یا څو رکعته تلے وی. لکه یو سړے امام سره شریک شو. لیکن قعده کښی په ناسته ناسته اُوده شو. او دومره وخته پورے اوده وو چه امام یو یا دوه رکعته نور اوکړی.

س. مسبوق به خپل تلے مونځ څه وخت او څنګه پوره کوی؟

ج - امام سره اخر مونځ پورے دے شریک وی. کوم وخت چه امام سلام اوګرځوی. نو مسبوق دے هغه سره سلام نه ګرځوی. بلکه او دے دریږی. او تلے رکعتونه دے داسے اوکړی. ګویا چه هغه مونځ اوس شروع کړے دے. مثلاً چه تاسو نه صرف یو رکعت تلے وی. نو د امام د سلام نه پس ئے داسے اوکړے چه اول ثناء او اعوذ بالله او بسم الله لوستلو سره سورۀ فاتحه اولولے بیا یو سورة ورسره یوځائے کړے. بیا د قاعدے مطابق رکعت پوره کولو سره قعده اوکړی او سلام اوګرځوی دا طریقه د هر مونځ د تلی رکعتونو پوره کولو ده، او هر کله چه ستاسو د ماسپخین یا ماز یګر یا ماسختن یا د سحر دوه رکعته پاتے شوے وی. نو ړومبی رکعت کښ ثناء او تعوذ او تسمیه نه پس فاتحه او سورت او دویم رکعت کښ فاتحه او سورت لوستلو سره رکوع او سجدے نه پس قعده اوکړے او سلام اوګرځوے. او که د ماسپخین یا ماز یګر یا ماسختن صرف یو رکعت امام سره لاندِ کړے وی. نو څلور درے رکعتونه داسے پوره کړے چه اول رکعت فاتحه او سورت سره لوستلو سره قعده اوکړے. او بیا یو رکعت فاتحه او سورت سره

اولولی. بیا یو رکعت کښې صرف فاتحه لوستلو سره رکعت پوره کړے. او سلام اوګرځوے. که د ماښام یو رکعت امام سره لاندې کړے وی. نو یو رکعت کښې فاتحه او سورة لوستلو سره قعده اوکړے. بیا دویم رکعت هم فاتحه او سورت سره لوستلو سره قعده اوکړی او سلام اوګرځوی. غرض هر کله چه د مونځ صرف یو رکعت امام سره لاندې کړے وی. نو خپل مونځ کښې یو رکعت نه پس قعده کول پکار دی. خواه د څه وخت مونځ وی.

س. که مسبوق امام سره سلام ګرځولو سره اودریدلو. او امام سجده سهوه اوکړه، نو مسبوق به څه کوی؟

ج. واپس دے راشی. او امام سره دے سجده سهو کښې شریک شی.

س. که مسبوق په هیره امام سره خپله هم سلام اوګرځولو نو څه حکم دے؟

ج. که امام سره سلام ګرځولو نه مخکښې یا ټیک هغه سره ئے سلام اوګرځولو. نو د مسبوق په ذمه سجده سهوه نشته. او مونځ دے پوره کړی. او که امام سره د سلام نه پس هغه سلام اوګرځولو. نو د خپل مونځ آخر کښې

پرِ سجده سهوه واجب ده.

س. لاحق خپل تلے مونځ څه وخت او څنګه پوره کړی.

ج. د لاحق کوم رکعت چه د څه عذر مثلاً او دس کیدو په وجه تلے وی، نو څه وخت چه هغه راویښ شی، مخکښ دے خپل تلے مونځ امام سره ملګر تیا پریښودو سره او کړی او داسے دے او کړی چه امام سره ئے کوی. یعنی قرأت دے نه کوی. او هر کله چه تلے مونځ پوره کړی نو امام سره کیدو کښ دے پوره کړی، ئکه امام پسے ئے کوی. دے حالت کښ که هغه نه څه سهوه او شی. نو سجده سهو لاړِ هم نه کوی. ځکه چه د غه وخت هم هغه مقتدی دے او د مقتدی په سهوه سجده سهوه نشته.

د سجده سهوے بیان

س. سهوه څه ته وائی؟

ج. د سهوے معنیٰ د هیریدو ده. هیرے سره کله کله مونځ کښ کمے یا زیاتے سره نقصان راځی. بعضے نقصان داسے وی چه د هغے د فع کولو د پاره د مونځ اخری قعده کښ دوه سجدے کولے شی. هغے ته سجده سهوه وائی.

س. سجده سهوه څنګه کولے شی؟

ج- اخری قعده کښې د تشهد نه پس يو طرف ته سلام ګرځولو سره تکبیر او وائی. او سجده او کړی. سجده کښې درې ځله تسبیح لولی. بیا تکبیر کولو سره سرا وچت کړی. او کینی، دوباره التحیات، درود شریف او دُعا لوستلو سره دواړه طرف ته سلام اوګرځوی۔

س- که د سجده سهوے د سلام نه مخکښې التحیات نه پس درود او دُعا هم اولولی. نو څنګه دے؟

ج- بعض علماؤ احتیاطاً دا خوښ کړی دی چه سجده سهوے نه مخکښې تشهد او درود او دُعا اولولی او د سجده سهو نه پس هم درے واړه څیزونه اولولی. ځکه لوستل ئې بهتر دی۔ لیکن په نه لوستلو کښې هم نقصان نشته۔

س- سجده سهوه فرض مونځونو کښې واجب ده۔ یا نهولو مونځونو کښې؟

ج- ټولو مونځونو کښې د سجده سهوے یو شان حکم دے۔

س- که یو طرف ته سلام او نه ګرځوی او سجده سهوه او کړی، نو څه حکم دے؟

ج- د یو روایت مطابق جائز دی، خو قوی خبره دا ده چه یو طرف ته دے سلام اوګرځوی۔ که د واړه

طرف ته سلام اوکرځوی، نو سجده سهو دے نه نوی بلکه مونځ دے دوباره اوکړی.

س۔ سجده سهوه کوم څیزونو سره واجب کیږی؟

ج۔ (۱) څه واجب پاتے کیدو سره۔ (۲) واجب کښی تاخیر کولو سره (۳) یو فرض کښی تاخیر کولو سره (۴) څه فرض مقدم کولو سره۔ (۵) یو فرض مکرر کولو سره مثلاً دوه رکوع ئے اوکړے۔ (۶) د یو واجب کیفیت بدلولو سره سجده سهوه واجب کیږی۔

س۔ په د غه خبرو چه هیرید و سره سجده سهوه واجب کیږی. که قصداً اوکړے شی نو څه حکم دے؟

ج۔ قصداً کولو سره سجده سهو سره نقصان نه دفع کیږی، بلکه مونځ دوباره کول واجب دی۔

س۔ که مونځ کښی څو خبرے داسے اوشی چه هغے کښی هر یو باندې سجده سهوه واجبیږی. نو څو سجدے اوکړی؟

ج۔ صرف یو ځل سجده سهوه ورله کافی ده۔

س۔ قرأت کښی کوم کوم تغیرات کیدو سره سجده سهوه واجب کیږی؟

ج۔ (۱) د فرض مونځ په ومبی رکعت یا دویم رکعت یا دے دواړو کښی۔ او واجب یا سنت یا د نفل مونځونو یا یو

زیات رکعتو کښې سوره فاتحه پاتې کيد وسره ـ
(۲) د غې ښو لو رکعتونو کښې پوره سوره فاتحه یا د هغې نه زیاته حصه مکرر لوستلو سره ـ
(۳) دے سوره فاتحې نه مخکښې سورت لوستلو سره ـ
(۴) د فرض مونځ د دریم او څلورم رکعتو نه سوا د هر مونځ (فرض وی یا واجب یا سنت یا نفل) هر رکعت کښې سورة پاتې کيد وسره سجده سهوه واجب کیږی په شرط د دے چه د ا ښو لے خبرے هیرے سره شوے وی

س ـ که هیرے سره تعدیل ارکان او نه کړی، نو سجده سهوه واجب کیږی، یا نه ؟
ج ـ سجده سهوه واجب کیږی ـ
س ـ که سجده اولی هیره شی، نو څه حکم دے ؟
ج ـ که هیرے سره پاسی، که ناستې ته قریب وی، نو کيدے نی او سجده سهو دے نه کوی. او که او دریدو ته قریب وی. نو قعده دِ پریږدی او او دے دریږی. اخر کښې دے سجده سهوه او کړی. مونځ به ئے اوشی ـ
س ـ او کوم کوم خبرو سره سجده سهوه واجب کیږی
ج (۱) رکوع مکرر یعنی دوباره کولو سره ـ
(۲) درے سجدے کولو سره (۳) قعده اولی یا قعده

آخیر کښې تشهد پاتے کید و سره۔
(۴) قعده اولیٰ کښې تشهد نه پس د درود په قدر د اللّٰهُمَّ صَلِّ علٰی مُحَمَّدٍ لوستلو سره، یا د ومره خاموش کیناستو سره (۵) جهری مونځونو کښې دَامام په رو وئیلو سره
(۶) سرّی مونځونو کښې دامام جهر کولو سره سجدهٔ سهو واجب کیږی۔ په شرط د دے چه دا تمامے خبرے هیرے سره شوے وی۔
س۔ که دامام پسے د مقتدی نه څه سهوه اوشی، نو څه به کوی؟
ج۔ د مقتدی په ذمه خپلے سهوے سره سجده سهوه نه واجب کیږی۔
س۔ مسبوق ته خپل باقی تمام مونځ پوره کولو کښې که سهوه اوشی، نو څه به کوی؟
ج۔ دے صورت کښې د خپل مونځ آخری قعده کښې سجده سهوه کول پرِ واجب دی۔

د تلاوت د سجدے بیان

س۔ د تلاوت سجده څه ته وائی؟
ج۔ د تلاوت معنیٰ د لوستلو دی۔ قرآن مجید کښې څو مقامات

دا سے دی چه د هغې لوستلو یا آوریدلو سره سجده کول واجب کیږی. دے ته سجدهٔ تلاوت وائی۔

س۔ هغه څومره مقامات دی چه د هغې لوستلو یا آوریدو سره سجده کول واجبیږی۔

ج۔ ټول قرآن مجید کښې څوارلس مقامات دی. هغې ته څوارلس سجدے هم وائی۔

س۔ که د مونځ نه پس د سجدے ایت اولولی، نوځه وخت اوڅنګه سجده اوکړی؟

ج۔ بهتره خودا ده چه څه وخت د سجدے ایت اولولی نو هغه وخت دِ سجده اوکړی. لیکن که هغه وخت ئے اونه کړه، بیا هم څه ګناه نشته. خو تاخیر کول مکروه دی اود مونځ نه بهر د سجدے کولو بهتره طریقه دا ده چه اُودریږی. تکبیر وئیلو سره سجده اوکړی او تکبیر سره پاسی اودریږی. که په ناسته سجده اوکړی او سجدے نه پاسید وسره کیناستلو نو هم سجده وشوه۔

س۔ د تلاوت سجدے کولو د پاره څه شرائط دی؟

ج۔ کوم شرائط چه د مونځ دی، هغه د سجدے تلاوت هم دی. یعنی د بدن کپړے او ځائے پاکیدلو، ستر پټول، قبلے طرف ته مخ کول، نیت د سجدهٔ تلاوت کول۔

س۔ د تلاوت سجدہ کوموخیزونو سرہ فاسد کیږی
ج۔ کوم خیزونو سرہ چہ مونځ فاسدیږی هغې سرہ سجدہ تلاوت هم فاسد کیږی۔

س۔ کہ د سجدے ایت د وہ ځلہ یا زیات اولوستلے شی، نو څہ حکم دے؟
ج۔ کہ د سجدے څہ خاص ایت یو مجلس کښې دوہ یا زیات ځلے اولولی یا واوری، نو یوہ سجدہ واجبیږی۔

س۔ کہ یو مجلس کښې د سجدے ذوہ ایتونہ اولولی۔ یا یو ایت دوہ مجلسونوکښې اولولی۔ نو څہ حکم دے؟
ج۔ یو مجلس کښې څو مرہ مختلف سجدوکښې ایتونہ اولولی یا یو رکعت څو مرہ مجلسونوکښې مکرر اولولی هغومرہ سجدے واجب کیږی۔

س۔ کہ یو سړے د قران مجید د تلاوت کولو پہ وخت مخکښې روستو اولولی او صرف د سجدے ایت پریږدی نو څنګہ دی؟
ج۔ داسے کول مکروہ دی۔

س۔ کہ تلاوت کونکے داسے ځلئے کښې تلاوت کوی چہ هلتہ نور خلق هم ناست وی۔ نو هغہ وخت د سجدے ایت رُو اولولی۔ چہ نور خلق ئے وانہ وری، نو څنګہ دے؟

ج۔ جائز دی بلکه بهتر هم دادی چه ولولی۔

دبیمار دمونځ بیان

س۔ بیمار د پاره کوم حالت کښې په ناسته مونځ کول جائز دی؟

ج۔ بیمار کښې چه بالکل د اودریدو طاقت نه وی، یا اودریدو سره ورته تکلیف کیږی. یا د مرض زیاتیدو اندیښنه وی، یا چکر راتلو سره د غورځیدو خطره وی، یا د اودریدو طاقت خو وی. لیکن رکوع او سجده نشی کولے. نو دے صورتونو کښې په ناسته مونځ کول جائز دی۔ بیا که رکوع او سجده کولے شی خو رکوع او سجدے سره نو رنشی کولے۔ نو د رکوع او سجدے اشارے سره دے مونځ اوکړی. د رکوع او سجدے اشارے سره دے سر ښکته کړی او د سجدے اشاره کښې دے سر زیات ښکته کړی۔

س۔ که یو سړے پوره قیام نشی کولے، لیکن لږ ساعت اودریدے شی. د دے څه حکم دے؟

ج۔ په هغه دومره اودریدل ضروری دی۔

س۔ که مریض کښې په ناسته هم د مونځ کولو طاقت نه وی

نو څه به کوی؟

ج - په ملاسته دے مونځ کوی - په ملاسته د مونځ کولو صورت دا دے چه سم دے سملی او پښے دے قبلے طرف ته کړی. لیکن غزول یٔ نه دی پکار بلکه ګونډے دے ولاړے اوساتی. او د سر د لاندے تکیه وغیره دِ کیږدی - لږ دے اوچت کړی. او رکوع سجدے د پاره د سر ښکته کولو سره اشارے سره دے مونځ اوکړی. دا صورت افضل دے - او جائز دا هم دی چه شمال جانب ته سر کړی، په ښی اړخ یا په جنوب اړخ سملی. او اشارے سره مونځ اوکړی. دے دواړو صورتونو کښی په ښی طرف ملاسته افضله ده -

س - که بیمار کښی د سر اشارے سره طاقت نه وی نو څه حکم دے؟

ج - که سر سره د اشارے کولو طاقت هم نه وی. نو مونځ دے پاتے کړی. بیا که یوه شپه ورځ نه زیات د هغه دا حالت وی نو د پاتے شوی مونځ قضا هم د هغه په ذمه نشته. هاں! که د یوے شپے ورځے یا دے نه کم کښی د اشارے کولو طاقت پکښی راغے. نو د تیرو مونځونو (چه پنځه مونځونه یا دے نه کم وی) قضا د هغه په ذمه لازم ده

دمسافر د مونځ بیان

س۔ د څومره لرے سفر کولو سره سړے مسافر وی؟

ج۔ شریعت کښې مسافر دے ته وائی چه د ومره د لرے اراده کولو سره او ځی چه هلته درے ورځو کښې اورسی۔ درے ورځو کښې د رسیدو نه د اغرض نه دے چه ټوله ورځ تلو سره درے ورځو کښې دے اورسی بلکه هره ورځ سحر نه زوال پورے تلل معتبر دی۔ او او تلو نه د درمیانی تلل او ورځ نه وړه ورځ مراد ده۔

س۔ درمیانی درجه تلل نه څه مراد دے۔ او درے ورځے مسافت څو میله ذی؟

ج۔ درمیانی درجے تلل نه د پیاده سړی تلل مراد دے او ټیک خبره خو دا ده چه د درے منزلِ مسافت معتبر دے۔ لیکن آسانی د پاره اته څلویښت میله مسافت د درے منزل برابر گنړلے شوے دے (یعنی یو منزل شپاړس[۱۶] میله شو)

س۔ که یو سړے په آس، ګاډی، ریل یا موټر د ومره د لرے تلو اراده او کړی چه پیاده سړے د درے ورځو کښې رسی۔ نو د هغه د پاره څه حکم دے؟

ج۔ دے مسافر شو۔ خواهر څو مره زر اورسی۔

س۔ د مسافر مونځ کښی څه فرق وی؟

ج۔ مسافر د ماسپخین، مازیگر او ماسختن (د دے درے وختونو مونځونه) د څلور رکعته په ځائے دوه رکعته کوی۔ او د سحر، ماښام او وتر مونځونه په خپل حالت دے۔ دے درے مونځونو کښی څه فرق نه راځی۔

س۔ څلور رکعتیز مونځ دوه رکعته کولو ته څه وائی؟

ج۔ دے ته قصر وائی۔

س۔ مسافر به کوم وخت قصر شروع کوی؟

ج۔ کوم وخت چه د خپل کلی د آبادئ نه بهر اوځی۔ هغه وخت نه به قصر کوی۔

س۔ مسافر به څه وخت پورے قصر کوی؟

ج۔ څو پورے چه سفر کوی۔ او یو ښهر یا بناریه یا کلی کښی د پنځلس[۱۵] ورځو د ایساریدو نیت ئے نه وی کړے هغه وخت پورے به قصر کوی۔ او کله چه یو ځائے کښی د پنځلس ورځو پاتے کیدو نیت اوکړی نو نیت کولو سره پوره مونځ به کوی۔

س۔ که یو ځائے کښی د دوه څلور ورځو ایساریدو اراده وه۔ خو کار ئے پوره نه شو۔ بیا د دوه څلور؟

ورځو نیت ئے اوکړو. بیا کار پوره نه شو او دوه څلور ورځو نیت ئے اوکړو. د غسے پنځلس ورځو نه زیاتے تیرے شوے نو څه حکم دے؟

۷- څو پورے چه یو ځائے د پنځلس ورځو نیت ئے نه وی کړی. قصر مونځ دے کوی. دے حالت کښی که د پنځلس ورځو نه زیاتے هم تیرے شی. نو هم څه حرج نشته.

۸- که مسافر څلور رکعتیز مونځ پوره اوکړی. نو څه حکم دے؟

۹- که دویم رکعت بانده قعده اوکړه. نو اخر کښی سجده سهوه کولو سره به مونځ اوشی. لیکن قصداً داسے کولو سره به ګنهګار وی. او که په هیره تر داسے اوشو نو ګنهګار نه دے. او دے صورت کښی به دوه رکعته فرض او دوه رکعته نفل شی. لیکن که په دویم رکعت ئے قعده اونکړه. نو فرض مونځ ئے ونه شو. څلور واړه به نفل شی. فرض دے دوباره اوکړی.

۱۰- که یو مسافر د یو مقیم پسے مونځ اوکړی. نو څه حکم دے؟

۱۱- د مقیم امام اقتدا کولو سره د مقتدی مسافر په ذمه هم څلور رکعته فرض کیږی

س۔ که امام مسافر وی. او مقتدی مقیم وی. نو څه به کوی؟
ج۔ مسافر امام دے خپل دوه رکعته پوره کولو سره سلام اوګرځوی. او د سلام ګرځولو نه پس دِ اووائی چه تاسو خپل مونځ پوره کړئ. زه مسافر یم. مقتدیان دِ بغیر د سلام ګرځولو اودریږی. او خپل خپل رکعتونه دے پوره کړی. لیکن هغې د وارو رکعتونو کښې دے سورهٔ فاتحه او سورت نه لولی. او که څه سهوه اوشی نو سجدهٔ سهوه دے هم نه کوی۔
س۔ روان ریل او جهاز کښې مونځ کول جائز دی. که نه؟
ج روان ریل او جهاز کښې مونځ کول جائز دی. که او دریدو سره ئے کولے شی. د چکر خوړلو یا غورځیدو ویره نه وی. نو په ولاړه مونځ کول بهتر دی. او که په ولاړه نشی کولے. نو په ناسته دے اوکړی. د مونځ مینځ کښې که ریل یا جهاز تاویدو سره د مونځ ګزار مخ قبلے طرف ته یا لے نشی. نو سمدستی قبلے طرف ته تاویدل پکار دی. کنی مونځ ئے نه کیږی

د جُمعے د مونځ بیان

س۔ د جُمعے مونځ فرض دے، یا واجب یا سنت؟

ج۔ د جُمع مونځ فرض دے۔ بلکه د ماسپخین د مونځ نه .د دے تاکید زیات دے۔ د جُمع په ورځ د ماسپخین مونځ نشته۔ د جُمع مونځ د هغې قائمقام دے۔

س: آیا د جُمع مونځ په هر مسلمان فرض دے؟

ج۔ د جُمع مونځ په هر آزاد، بالغ، پوهه، تندرست، مقیم سړو باندِ فرض دے۔ نابالغه بچو، غلامانو، لیونو، بیمارانو، ړندو، شلو، ګوډو او د غسې عذردارو مسافرو او ښځو باندِ د جُمع مونځ فرض نه دے۔

س۔ که مسافر، ړوند، شل، ګوډ ښځې یا بیمار د جُمع مونځ کښِ شریک شی، نو د هغوئ مونځ درست کیږی یا نه؟

ج۔ هاں! درست کیږی۔ او د ماسپخین مونځ د هغوئ د ذمے نه ساقط شی۔

س۔ د جُمع د مونځ د صحیح کیدو څه شرطونه دی؟

ج۔ د جُمع د مونځ د صحیح کیدو څو شرطونه دا دی:

(۱) د ښهر یا د ښهر د قائمقام لوئ ښارئې یا کلی کښِ کیدل۔ د غسے د ښهر خوا وشا داسے آبادی چه د ښهر ضرورتونه هغې سره متعلق وی۔ مثلاً د ښهر مړی هلته دفن کیږی، یا چهاونړئ وی. هغه هم د

ښهر حکم کښې دی۔ ورو کی کلی کښې درست نه دے

(۲) دویم شرط د ماسپخین وخت کیدل دی۔

(۳) دریم شرط د مونځ نه مخکښې خطبه وړکول۔

(۴) څلورم شرط عام اذان۔

(۵) پنځم شرط جماعت۔

دا پنځه شرطونه چه بیا موندے شی۔ هلته د جُمع مونځ صحیح کیږی۔

س۔ د خطبے لوستلو مسنون طریقه څه ده ؟

ج۔ د مونځ نه مخکښې دے امام په منبر کینی۔ او د هغه مخکښې دے مؤذن اذان اوکړی۔ هر کله چه اذان اوشی۔ نو امام دے مونځ گزارو ته مخ کړی اُودریږی او خطبه دے اولولی، ړومبئ خطبه لوستلو سره دے لږ کینی، بیا دے اودریږی، دویمه خطبه دِ اولولی دویمه خطبه چه ختمه شی، نو امام دے د منبر نه را کوز شی۔ د محراب مخکښې دے اودریږی۔ مؤذن دے تکبیر اوکړی۔ بیا حاضرین دے اودریږی، امام سره دے مونځ ادا کړی۔

س۔ د خطبے اذان کوم ځائے کول پکار دی ؟

ج۔ د خطیب مخکښې کول پکار دی۔ منبر سره وی یا یو

دوه صفه پس یا ټولو صفونو نه پس جومات کښې وی یا بهر هر شان جائز دی۔

س۔ خطبه اُردو (پښتو) ژبه کښې لوستل یا د اُردو (پښتو) اشعار خطبه کښې لوستل څنګه دی؟

ج۔ عربی نه سِوا بله هره ژبه کښې خطبه مکروه ده۔ لیکن فرض خطبه ادا کیږی. البته ثواب کښې نقصان راځی۔

س۔ د خطبې په وخت کوم کومې خبرې ناجائز دی؟

ج۔ (۱) خبرې کول
(۲) سنّت یا نفل مونځ شروع کول (۳) خوراك څښاك
(۴) د چا خبرې جواب ورکول (۵) قرآن مجید وغیره لوستل۔ غرض کوم کار چه خطبه کښې نقصان اچوی هغه ټول مکروه دی۔ او کوم وخت نه چه امام د خطبې لوستلو اراده روان شی، د هغې وخت نه دا ټولې خبرې مکروه دی

س۔ د جُمع مونځ دپاره د جماعت د شرط کیدو نه څه مراد دے؟

ج۔ د جُمع مونځ کښې د امام نه سِوا کم نه کم درې سړی کیدل ضروری دی۔ که دا ۳ درې سړو نه کم وی، نود

جُمع مونځ نه صحيح کيږی۔

س۔ اذن عام نه څه مراد دے؟

ج۔ د اذن عام معنیٰ د اجازت دی۔ اذن عام نه مطلب دا دے چه ټولو ته اجازت وی چه راشی، مونځ کښې شريك شی۔ دا سے ځائے کښې د جُمع مونځ صحيح نه دے چه هلته صرف خاص خلق راتلاے شی۔ او هر سړی ته د راتلو اجازت نهٔ وی۔

س۔ د جُمع فرض مونځ څو رکعته دے؟

ج۔ دوه رکعته دے۔ خو د مونځ د شروع نه شريك شی خو يو رکعت يا آخره قعده کښې شريك شی۔ دوه رکعته دے پوره کړی۔

داخترونو د مونځ بيان

س۔ د اختر په ورځ کوم کوم کارونه سنّت يا مستحب دی؟

ج۔ (۱) غسل کول او مسواك وهل۔ (۲) ښيل لباس کښې ښه لباس اغوستل۔ (۳) خوشبوئ لګول (۴) د وړوکے (عيدالفطر) په ورځ عيدګاه ته د تلو نه مخکښې کجورے يا خوږ څيز خوړل (۵) صدقه فطر (سرسايه) ادا کولو سره تلل۔ (۶) عيدالاضحیٰ (د قربانئ اختر) کښې

مونځ نه پس قربانی کول او د هغې غوښه خوړل.
(۷) عیدګاه کښې د اختر مونځ کول (۸) پیاده تلل (۹)
په یوه لار تلل او په بله لار راتلل. (۱۰) د اختر مونځ
نه مخکښې کور یا عیدګاه کښې نفل مونځ نه کول. او د
اختر د مونځ نه پس عیدګاه کښې نفل مونځ نه کول.
س. د عید الفطر مونځ له تلو کښې لار کښې تکبیر وئیل څنګه دی؟
ج. عید الفطر (وړوکی اختر. د سرسایئ اختر) کښې رو
رو که تکبیر وئیلو سره ځی، نو څه حرج نشته. خو
لوئ اختر کښې زور سره تکبیر وئیل مستحب دی.
س. د اختر مونځ واجب دے یا سنت؟
ج. د دواړو اخترونو مونځ واجب دے. په کومو خلقو
چه د جُمع مونځ فرض دے، په هغوئ د اختر مونځ
واجب دے. او کوم شرطونه چه د جُمع مونځ کښې
دی هغه د اختر د مونځ هم دی. خو د اخترونو د
مونځ خطبه نه خو فرض ده او نه د مونځ نه مخکښې ده
بلکه د مونځ نه پس خطبه لوستل سنت دی.
س. د اختر د مونځ څو رکعته دی. او کوم ترتیب سره
کولے شی؟
ج. د دواړو اخترونو مونځ دوه دوه رکعته دے. دے

دواړو مونځونو دپاره اذان او تکبیر نشته. اول نیت دے داسے او کړی. چه زه د دوړوکی یا لوئے اختر واجب مونځ شپږ تکبیرونو سره دے امام پسے کوم بیا د تکبیر تحریمه وئیلو سره لاسونه دے او تړی. او ثنا دے اولولی. بیا دواړه لاسونه غوږونو پورے د اوچتولو سره الله اکبر دے اووائی. دواړه لاسونه دے پریږدی. بیا په دریم ځل لاسونه غوږونو پورے اوچتولو سره الله اکبر دے اووائی. او لاسونه دے اوتړی. بیا امام دے تعوذ، تسمیه، سورۀ فاتحه او سورة لوستلو سره رکوع او کړی. دویم رکعت د پاره چه اودریږی، نو امام دے مخکښ قرائت نه فارغیدو سره غوږونو پورے دے لاسونه اوچت کړی، دویم تکبیر دے او کړی او لاسونه دے پریږدی. بیا دے غوږونو پورے لاس اوچت کړی په دریم ځل دے تکبیر او کړی او لاس دے پریږدی بیا بغیر د لاس اوچتولو څلورم تکبیر دے او کړی. رکوع ته دے لاړ شی او د قاعدے مطابق دے مونځ پوره کړی. بیا دے امام اودریږی. خطبه دے اولولی او ټول خلق دے په ناسته خطبه واوری. اخترونو کښ هم دوه خطبے

دی. او د دوارو مینځ کښې ناسته مسنون ده۔

س۔ د عید الاضحیٰ خاص احکام څو دی؟

ج۔ (۱) لار کښې زور سره تکبیر وئیل۔ (۲) مونځ نه مخکښې هیڅ نه خوړل (۳) تکبیرات تشریق واجب کیدل۔

س۔ تکبیرات تشریق نه څه مراد دے؟

ج۔ تکبیرات تشریق کښې د فرض مونځونو نه پس تکبیرونه وئیلے شی. دے ته تکبیرات تشریق وئیلے شی۔

س۔ د ایام تشریق کومے ورځے دی؟

ج۔ ایام تشریق د درے ورځونو دے د ذی الحج د میاشتے یوولسم، دولسم او دیارلسم تاریخونه ایام تشریق وائی۔

س۔ تکبیرات تشریق کله نه کله پورے واجب دی؟

ح۔ (۱) د عرفے په ورځ (۲) د نحر (قربانئ په ورځ۔ (۳) درے ورځے د ایام تشریق. ټولے پنځه ورځے وئیلے شی۔

د عرفے ورځ د ذی الحج نهم تاریخ ته او د نحر ورځ لسم تاریخ ته وئیلے شی۔ د نهم تاریخ د سحر د مونځ نه پس تکبیرونه شروع کیږی. بیاد هر فرض مونځ پسے د دیارلسم تاریخ مازیګر پورے وئیل واجب دی د فرض

سلام ګرځولو آواز سره تکبیر وئیل پکار دی. البته ښځې دے آواز سره نه وائي. که امام نه هیر شی (مقتدیان) دے ضرور وائی)

س. تکبیر تشریق څه ته وائی او څو ځله وئیل ئې واجب دی

ج. تکبیر تشریق دے ته وائی: اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ. او د ا د هر مونځ نه پس یو ځل وئیل واجب دی

دجنازے دمونځ بیان

س. د مړی مونځ فرض دے، یا واجب یا سنت دے؟

ج. د مړی مونځ فرض کفایه دے. که یو دوه سړی ئې هم اوکړی، نو د ټولو د ذمے نه فرض ساقط شی. خو که هیڅوک ئې اونه کړی، نو ټول ګنهګار دی.

س. د جنازی د مونځ څو شرطونه دی؟

ج. (۱) د مړی مسلمانیدل (۲) د مړی پاکیدل (۳) ذ هغه د کفن پاکیدل (۴) د هغه ستر پټول (۵) د مړی د جنازے کونکو مخے ته ایښودل. دا شرطونه خو د مړی متعلق وو. او د جنازے مونځ کونکو د پاره سوا د وخت نه باقی ټول هغه شرطونه دی. کوم چه د مونځ شرطونه دی

چه تاسو د ے کتاب کښې لوستے دی

س۔ د جنازے د مونځ پوره ترکیب څه دے ؟

ج۔ مونځ د پاره صف تړلی او دریدل دی. که سړی زیات وی نو درے یا پنځه یا اووه صفونه دِ درست کړی. د جنازے د مونځ نیت دے دِ اسے اوکړی، چه زه الله د پاره د دے جنازے مونځ دے امام پسے کوم. بیا دِ امام زور سره او مقتدیان رو شان تکبیر اوکړی. او دواړه لاسونه دے غوږونو پورے اوچتولو سره د نامه لاندِ اوتړی. او امام او مقتدیان دِ ټول زو، رو ثناء اولولی د وتعالیٰ جَدّكَ نه پس وَجَلّ ثناءُكَ هم اولولی. نو بهتر دی. بیا امام دے زور سره او مقتدیان رو شان بغیر د لاس اوچتولو دویم تکبیر اوکړی، او دواړه دُرود ونه چه د مونځ آخری قعده کښې وئیلے شی. امام او مقتدیان دے ټول رو، رو اولولی. بیا د دویم تکبیر په شان دریم تکبیر دے هم اوکړی. که جنازه د بالغ نارینه یا زنانه وی نو امام او مقتدیان دے رو رو دا عربی دُعا دِ اولولی : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ

مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الاسلام وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ ط اے اللہ څمونږ ژوندی او مړی. حاضر او غائب، واړه، لوئے، نارینه او زنانه ټول او بښې. اے اللہ مونږ کښې چه څوك ژوندی وی، هغوئ په اسلام ژوندی لرے او څوك چه وفات دی په ایمان ئے وفات کړے. که د نابالغه هلك جنازه وی. نو دا دُعا دے اولولی:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّ. اجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّ اجْعَلْهُ شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا ط

ترجمه: اے اللہ دا بچے څمونږ د ایمان د پاره مخکښې تلونکے جوړ کړے. او د ده د جدائی مصیبت مونږ د پاره اجر او ذخیره جوړه کړے او دے څمونږ شفاعت کونکے او شفاعت کړے شوے جوړ کړے.

او که جنازه د ماشومے جینئ وی. نو په هغے دے هم دغه دُعا اولولی: لیکن د ومره فرق دے او کړی چه د دے واړه ځایه د اِجْعَلْهُ لَنَا په ځاے د اِجْعَلْهَا او په ځائے د شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا دے شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً اونولی. دا صرف د لفظونو فرق دے. معنیٰ ئے هم هغه د ه. دے نه پس امام زور سره او مقتدیانُ رُو

شان اول ښی طرف ته او بیا ګس طرف ته سلام
اوګرځوی۔

س۔ د جنازے د مونځ نه پس به څه کوی ؟

ج۔ جنازه دے اوچتولو سره یوسی د تلو په وخت که
کلمه شریفه وغیره لولی. نو زړه کښې دے لولی په جهر
سره لوستل ئې مکروه دی۔ د مړی ړومبنے منزل
یعنی د قبر او د حساب کتاب او د دُنیا د بے اعتباری
خیال دِ اوساتی. او زړه کښې دے مړی د پاره د مغفرت
او د آسانئ دُعا کوی. بیا قبرستان ته رسیدو سره
مړے دے دفن کړی۔

د اسلامی فرائضونه د روژے بیان

س۔ روژه څه ته وائی ؟

ج۔ د صبح صادق نه د نمر ډوبیدو پورے نیت سره د
خوراك څکاك او نفسانی خواهشاتو پریښودلو نوم
روژه ده۔ روژے ته صوم او صیام او روژه ماتولو
ته افطار وائی۔

س۔ د روژے څو قِسمونه دی ؟

ج۔ د روژے اته قِسمونه دی۔ (۱) فرض معین ،

(۲) فرض غیر معین (۳) واجب معین (۴) واجب غیر معین (۵) سنت (۶) نفل (۷) مکروه (۸) حرام۔

س۔ فرض معین کوم روژے دی؟
ج۔ کالو سر کښې یوه میاشت یعنی د رمضان شریف روژے فرض معین دی۔

س۔ فرض غیر معین کوم روژے دی؟
ج۔ که د څه عذر په وجه یا بلا عذره د رمضان شریف روژے پاتے شي نو د هغې قضا روژے فرض غیر معین دی۔

س۔ واجب معین کوم روژے دی؟
ج۔ نذر معین یعنی د څه خاص ورځ یا خاص تاریخونو روژے نیول د نذر منلو سره د هغې ورځ یا تاریخو سره روژے واجب کیږی. لکه چا نذر او منلو. که زه امتحان کښې پاس شوم، نو د الله د پاره به د رجب په ړومبی تاریخ روژه اوکړم۔

س۔ واجب غیر معین کوم روژے دی؟
ج۔ د کفارے روژے او د نذر غیر معین روژے واجب غیر معین دی. مثلاً چا نذر او منلو که زه اول نمبر پاس شوم، نو د الله د پاره به درے روژے ونیسم۔

س۔ کوم روژے سنّت دی؟
ج۔ روژو کښې سنت موکده هیڅ روژے نشته۔ لیکن کوم روژے چه حضور صلعم نیولی دی، یا د هغې دینی ترغیب ثابت وی۔ هغې ته سنّت وائی لکه د عاشورے د وړه روژے یعنی د محرم د نهم ۹ او لسم ۱۰ تاریخ روژے۔ عاشوره د محرم د لسم تاریخ نوم دے۔ او عرفه د ذی الحجے د نهم تاریخ روژه او ایام بیض دهرے میاشتے د یارلسم ۱۳، څوارلسم او پنځلسم تاریخونو روژے۔
س۔ مستحب کوم روژے دی؟
ج۔ فرض، واجب، او سنّت نه پس تمامے روژے، مستحب دی۔ لیکن بعضے روژے داسے دی چه هغې کښې ثواب زیات دے۔ لکه شوال کښې شپږ روژے۔ د ماه شعبان د پنځلسم تاریخ روژه، د جُمعې د ورځے روژه د کُل (پیر) د ورځے روژه۔
س۔ مکروه کوم روژے دی؟
ج۔ صرف د خالی د ورځے روژه۔ صرف د عاشورے یعنی د لسم تاریخ روژه، د نوروز د ورځے روژه د ښځے د خاوند د اجازت نه بغیر نفل روژه نیول۔

س. کوم روژې حرام دي؟
ج. کال و سو کښې پنځه روژې حرامې دي. د وړوکي اختر او لوئ اختر دوه روژې.
د ایام تشریق درې روژې.
ایام تشریق د ذی الحج دیوولسم[11]، دولسم[12]، دیارلسم[13] تاریخونو نوم دې.

د رمضان شریف د روژې بیان

س. د رمضان شریف د روژو څه فضیلت دې؟
ج. د رمضان شریف د روژې ډیر لوئ ثواب دې. او ډیر فضیلتونه حدیث شریف کښې راغلي دي. مثلاً حضور صلعم فرمائیلي دي. کوم سړې چه خاص د الله تعالیٰ د رضامندئ د پاره د رمضان روژې اونیسي، نو د هغه ټول وړوستني ګناهونه معاف شي دویم حدیث کښې حضور صلعم فرمائیلي دي د روژه دار د خُلې بوئ د الله تعالیٰ په نزد د مشک نه زیات بهتر دې دریم حدیث کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي. الله تعالیٰ فرمائي: روژه خاص ما د پاره ده. او زه به د هغې جزا ورکوم. د نفسے نور هم ډیر

فضیلتونه یې حدیثونو کښې راغلي دي.

س- د رمضان شریف روژې په کوموخلقو فرض دي؟

ج- هر مسلمان عاقل، بالغ، سړي، ښځې باندې فرض دي د دې د فرضیت نه انکار کونکې کافر او بلا عذره پرېښودونکې سخت ګنهګار او فاسق دے. اګر که نابالغه باندې روژه فرض نه ده. لیکن عادت اچولو دپاره بلوغ نه مخکښې د روژې ساتلو او مونځ کولو یې حکم دے. حدیث شریف کښې راغلي دي. هرکله چه بچې د اوو کالو شي، نو د مونځ حکم ورته کوئ. او چه د لسو کالو شي نو مونځ د پاره یې وهل هم پکار دي. د غسې چه روژه نیولے شي، نو څومره چه نیولے شي هغومره پرې نیول پکار دي.

س- هغه کوم عذرونه دي چه هغې سره روژه نه نیول جائز کیږي؟

ج- (۱) سفر یعنی مسافر له د سفر حالت کښې روژه نه نیول جائز دي. لیکن که سفر کښې مشقت نه وي، نو روژه نیول افضل دي.

(۲) مرض یعنی داسې بیماري چه هغې کښې د روژې نیولو طاقت نه وي. د بیمارۍ د زیاتیدو اندیښنه وي

(۳) ډیر بوډا کیدل -(۴) د ښځې حامله کیدل هرکله چه ښځې ته د حمل نه روژو نیولو سره د سخت نقصان رسیدو غالب گمان وی -
(۵) پیئ ورکونکے یا بچی ته روژے سره نقصان رسی۔
(۶) که د روژے په وجه د ومره لوږه یا د تندے غلبه وی چه د ساه وتلو اندیښنه وی. نو روژه نه ده پکار۔
(۷) د حیض او نفاس حالتونوکښ روژه جائز نه ده۔

د میاشت لیدو او گواهی بیان

س۔ د رمضان د میاشت د لیدلو څه حکم دے ؟
ج۔ د شعبان په یوکم دیرشم تاریخ د رمضان شریف میاشت لیدل یعنی د لیدو کوشش کول او مطلع باندے تلاش کول واجب دی. او د رجب په یوکم دیرشم تاریخ د شعبان میاشت لیدل مستحب دی چه د شعبان د نهه ویشتم ۲۹ تاریخ حساب ټیک ټیک معلوم شی. که د شعبان په ۲۹ تاریخ د رمضان شریف میاشت اولیدل شی، نو صبا که روژه اونیسے او که میاشت په نظر رانشی او مطلع (د را ختلو ځائے) صاف وی

نو روژه مه نیسئ. او که مطلع باندِ وریځ یا غُبار وی.
نو صبا یوولس بجو پورے خوراك څکاك نه دے پکار
که هغه وخت چرته نه د میاشت لیدو خبر معتبر
طریقے سره راشی. نو د روژے نیت اوکړے. او که نه
نو اوس خوری څکی. لیکن په نهه ویشتم[۲۹] تاریخ د
شعبان د میاشت نه لیدو صورت کښ که د سحر د
روژے داسے نیت اوکړی. که میاشت اولیدے شوه
نو د رمضان روژه به وی، کنی نفل به شی، داسے
کول مکروه دی.

س. د رمضان شریف د میاشت د پاره معتبر شهادت
څه دے؟

ج. د مطلع صاف نه کید و صورت کښ د وړوکی اختراو
لوئ اختر میاشت لیدلو د پاره دوه پرهیزګار،
ریښتنی سړی یا د غسے یو سړی او دوه ښځو ګواهی
شرط ده.

س. که مطلع صاف وی نو بیا د څومره سړو شهادت
به بهتر وی؟

ج. که مطلع صاف وی. نو د رمضان شریف او دواړو
اخترونو میاشت لیدلو د پاره کم نه کم د دومره

سړو ګواهي ضروري ده. چه د هغومره سړو د روغ وئیل او بناوټي خبره جوړولو باندې د زړه یقین اونه کړے شي. بلکه د هغوئ ګواهي سره په زړه د میاشت لیدلو ګمان غالب شي.

س۔ که د یو لرے ښهر نه د میاشت د لیدلو خبر راشي نو معتبر به وي یا نه؟

ج۔ خواه د هر څومره لرے نه خبر راشي معتبر دے مثلاً برما والو میاشت اونه لیده او چاټمي سړي د هغوئ مخکښ د میاشت د لیدلو ګواهي ورکړه۔ نو په هغوئ به د یوے روژے قضا لازم وي. هاں! دا شرط دے چه خبر داسے طریقے سره راشي چه د هغې په شریعت کښې اعتبار وي۔ د تار خبر معتبر نه دے۔

س۔ که یو سړي د رمضان شریف میاشت اولیده او د هغه ګواهي قبوله نه شوه. او د هغه نه علاوه بل چا اونه لیده. نه روژے اونیولے شوے، نو هغې سړي باندې روژه فرض ده یا نه؟

ج هاں! په هغه روژه نیول واجب ده. او که د هغې حساب سره دیرش ورځ پوره شي، او د اختر میاشت اونه لیدے شي، نو دا سړے دے نورو خلقو سره

یو دیرشمه روژه هم اونیسی

د نیت بیان

س۔ آیا د روژے د پاره نیت کول ضروری دی؟

ج۔ هو! روژے د پاره د نیت کول شرط دی. که اتفاقی طور سره د صبح صادق نه د نمر د وبیدو پورے خوراک څکاک او صحبت نه یې شو لیکن د روژے نیت ئے نه وو، نو روژه ئے نه کیږی۔

س۔ نیت کوم وخت کول ضروری دی؟

ج۔ د رمضان شریف او نذر معین او نفل روژو نیت د شپے نه کوی یا سحر د نیمے ورځے نه مخکښ مخکښ پورے جائز دی۔ د ورځے نه مراد شرعی ورځ ده چه د صبح صادق نه د نمر د وبیدو پورے ده مثلاً که څلور بجے صبح صادق شو او شپږ بجے نمر ډوب شو، نو شرعی ورځ د څوارلس ۱۴ گینټو شوه. او نیمه ورځ یوولس ۱۱ بجے شوه. نو یوولس ۱۱ بجو نه مخکښ مخکښ نیت کول ضروری دی. او د قضائے رمضان او کفارے او د نذر معین نیت د صبح صادق نه مخکښ کول ضروری دی.

س۔ نیت څنگه کول پکار دی؟

ج۔ د رمضان شریف، نذر معین، سنت او نفل روژو نیت کښې خو یکار دی چه خاص د هغې روژو قصد اوکړی یا صرف دا اراده اوکړی چه روژې نیسم یا د نفل روژې نیت اوکړی په هرصورت رمضان کښې د رمضان روژه او د نذر معین ورځ د نذر روژه او باقی ورځو کښې به سنّت یا نفل روژه شی. او نذر غیر معیّن او د کفارې او قضائے رمضان نیت کښې خاص د هغې روژو قصد کول ضروری دی

س۔ نیت د ژبې سره کول ضروری دی یا نه ؟

ج۔ نیت قصد او ارادے ته وائی۔ زړه سره کول کافی دی که ژبې سره اووائے نو بهتره ده۔ که اونه وائی نو څه حرج نشته۔

د روژے د مستحباتو بیان

س ۔ د روژے مستحبات کوم کوم دی ؟

ج ۔ (۱) پیشمنې کول (۲) د شپې نه نیت کول۔

(۳) پیشمنې اخر وخت کښې کول په شرط د دے چه صبح صادق نه یقیناً مخکښې فارغ شی۔

(۴) روژه ماتی کښې تادی کول، چه د نمر دننه دوبیدو

شبهه پاتې نه شي۔ (۵) غیبت۔ دروغ، کنځل کول وغیره نه پرهیز کول. خرابه خبرو نه بچ کیدل۔
(۶) چوهارو، کجورو سره. که دا نه وي نو اوبو سره روژه ماتول۔

س۔ پیشمنۍ څه ته وائي. او دې وخت کوم دې؟
ج۔ پیشمنۍ اخر وخت کښې د صبح صادق نه مخکښې څه خوراک څښاک ته وئیلې شي. د شپې اخري حصه کښې د صبح صادق نه مخکښې مخکښې د دې وخت دې پیشمنۍ کول سنّت دي. د دې ډیر لوئې ثواب دې که لوږه نه وي نو هم یوه نوړئ د وه خوړلې پکار دي

د روژې د مکروهاتو بیان

س۔ روژه کښې کومې کومې خبرې مکروه دي؟
ج۔ (۱) گوند جویل یا بل څه څیز خله کښې اچولې ساتل
(۲) څه څیز څکل. هو! د کومې ښځې خاوند چه بد مزاجه او سخت وي. هغې له د ژبې سر سره د اینکولی (سالن) مزه اخستل جائز دي۔
(۳) استنجاء کښې نه یا تې پښې خوړولو سره ناسته او خُله کنگالول یا پوزه کښې اوبه اچولو کښې مبالغه کول

(۴) خله کښې ډیر ساعت لاړے جمع کول او تیرول۔
(۵) غیبت کول، دروغ وئیل، کنځل کول۔
(۶) ناقلاری اوویره ظاهرول۔
(۷) که د غسل ضرورت وی، نو قصدًا صبح صادق پورے مؤخر کول۔
(۸) کوئیله ژولو سره منجن سره غاښونه مانج کول۔

س۔ کوموخیزونو سره روژه نه مکروه کیږی؟

ج۔ (۱) رانجه لګول (۲) بدن باندې تیل لګول. یا سر کښې تیل اچول (۳) بخوالی د باره غسل کول۔
(۴) مسواك کول اګرکه د تازه جرړے یا څانګے وی۔
(۵) خوشبوئی لګول یا بویول
(۶) په هیره څه خوراك څښاك کول
(۷) په خله بلاقصده قے کول۔
(۸) خپلے لاړے تیرول۔
(۹) بلاقصده مچ یا لوګے حلق ته کوزیدل۔

دے ټولوخبرو سره نه روژه ماتیږی او نه مکروه کیږی

د روژے د مفسداتو بیان

س۔ مفسدات نه څه مراد دے؟

ج۔ مفسدات هغه خبرو ته وائی۔ چه هغې سره روژه ماتیږی۔ دامفسدات دوه قسمه دی۔

(۱) یو هغه چه هغې سره صرف قضا واجب کیږی

(۲) هغه چه هغې سره قضا او کفاره دواړه واجب کیږی

س۔ کومو مفسداتو سره چه قضا واجبیږی، هغه کوم دی؟

ج۔ (۱) چا زبردستئ د روژدار خُله کښې څه څیز واچولو او هغه حلق کښې کوز شو۔

(۲) روژه ورته یاده وه۔ او خُله کنګالولو په وخت بلا قصده حلق ته اوبه کوزې شوې۔

(۳) قې ورته راغې۔ او قصدًا ئې حلق ته کوز کړو۔

(۴) قصدًا ئې په ډکه خُله قې اوکړو۔

(۵) کنکر یا د کانړی ټکړه یا د کجهورې وغیره هډوکے یا خاوره یا د کاغذ ټکړه ئې قصدًا تیره کړه۔

(۶) غابنونو کښې پاتې شوې څیز ئې ژبې سره راوښکلو تیر ئې کړلو۔ هر کله چه هغه د چنړې د دانې برابر وی، یا تر زیات وی۔ که خُلې نه راؤښکلو سره بیائې تیر کړلو۔ خواه د چنړې نه کم وی یا زیات، روژه ئې ماته شوه۔

(۷) غوږ کښې تیل اچول۔

(۸) یا ناشے (ناس) ئې اوکړلو۔
(۹) غاښونو نه وتلې وینه ئې تیره کړله۔ هر کله چه وینه لاړو باندِ غالبه وی۔
(۱۰) په هیره ئې څه خوراک څښاك اوکړو۔ اودا ئې اوګڼړله، چه روژه ئې ماته شوه۔ بیا قصدًا ئې خوراك څکاك اوکړو۔
(۱۱) دے خیال سره چه اوس لا صبح صادق نه دے شوے، پیشمنی ئې اوخوړلو۔ بیا معلومه شوه چه سحر شوے وو۔
(۱۲) د رمضان شریف نه سوا نورو ورځوکښې څه روژه قصدًا ماتول۔
(۱۳) د وریځ یا غبار (ګرد) په وجه دا خیال کول چه نمر ډوب شو، روژه ئې ماته کړه۔ حالانکه اوس لا ورځ باقی وه۔

دے ټولو صورتونوکښې صرف د هغې روژې قضا کول دی، چه هغې کښې دے خبرو نه څه خبره پیښه شی۔

س۔ کوموصورتونوکښې قضا اوکفاره دواړه واجب کیږی؟
ج۔ د رمضان شریف میاشت کښې روژه نیولو سره؛
(۱) داسے خیز چه د غذا یا دوا یا لذت په طور استعمالیږی

قصدًا ئې خوراک څکاک اوکړو.

(۲) قصدًا ئې صحبت اوکړو.

(۳) رنګ ئې اووهلو، یا رانجه ئې اولګول. او دا خیال ئې اوکړو، چه روژه ماته شوه. قصدًا خوراک څکاک ئې اوکړو. نو دې ټولو صورتونو کښې قضا اوکفاره دواړه واجب دی.

س. رمضان شریف کښې که د چا روژه ماته شی، نو بیا هغه له خوراک څکاک جائز دې یا نه؟

ج. نه بلکه هغه له لازم دی، چه ماښام پورې خوراک څکاک نه کوی. د غسې که مسافر ورځې کور ته راشی یا نا بالغ هلک بالغ شی. یا حیض او نفاس والا ښځه پاکه شی. یا مجنون (لیونې) تندرست (روغ) شی. نو دې خلقوله هم باقی ورځ کښې ماښام پورې د روژه دارو په شان اوسیدل واجب دی.

س. د رمضان شریف نه سوا د بلې یوې روژې ماتولو سره کفاره واجب کیږی. یا نه؟

ج. کفاره صرف د رمضان شریف میاشت کښې روژه ماتولو سره واجب کیږی. د رمضان شریف نه سوا د بلې روژې ماتولو سره، خواهغه د رمضان قضا روژې وی، کفاره

نه واجب کیږی۔

د روژے د قضا بیان

س۔ د روژے د قضا واجب کید و څومره صورتونه دی؟

ج۔ (۱) بلا عذر فرض یا واجب معیّن روژے نه نیول۔

(۲) د څه عذر په وجه که څه روژے پاتے شوے وی۔

(۳) روژه ئے اونیوله۔ د څه عذر په وجه ماته شوه یا ماته ئے کړه۔ نو د دے روژو قضا نیول فرض دی

س۔ قضا روژے کله نیول پکار دی؟

ج۔ کله چه وخت بیا مومی. او څومره چه زر کیدے شی نیول ئے بهتر دی. بلا وجه پکښ تاخیر کول بد کار دی۔

قضا روژے پر له پسے نیول ضروری دی یا نه؟

خوا مسلسل ئے اونیسی یا مینځ کښ څه وقفه کولو سره ئے اونیسی۔ دواړه شان جائز دی۔

س۔ که د مخکنی رمضان روژے قضا نیول لا باقی وی چه دویم رمضان راغے۔ نو څه به کوی؟

ج وس د دے رمضان روژے دے اونیسی. او رمضان پس دے ئے و مبنځ قضا روژے اونیسی

س۔ نفلی روژه ساتلو سره ئے ماته کړه. نو د دے څه حکم دے؟

ج۔ د دے قضا نیول واجب دی۔ ځکہ چہ نفلی مونځ او نفلی روژه شروع کولو نہ پس واجب کیږی۔

س۔ کہ د قضا روژے ساتلو طاقت نہ وی۔ نو څہ بہ کوی؟

ج۔ کہ دومره بوډا شوے وی، چہ روژه نشی نیولے۔ او آینده د طاقت راتلو اُمید هم نہ وی۔ نو دے صورت کښې د روژو فدیہ ورکول جائز دی۔

س۔ د روژو فدیہ څہ ده؟

ج۔ د هرے روژے بدلہ کښې پاؤ کم دوه سیره غنم یا درے نیم سیره وربشے یا د دے قیمت یا د دے قیمت برابر بلہ څہ غلہ مثلاً روجے (چاؤل)، باجره، جوار وغیره ورکول دی۔ او د هر فرض مونځ او واجب مونځ فدیہ هم دغہ مقدار ده۔ خو څوپورے چہ مونځ کولے شی د سر اشارے سره، هغہ وخت پورے د اشارے سره ادا کول ئے فرض دی۔ او هر کلہ چہ اشاره هم نشی کولے۔ او دے حال کښې مونځ پرے فرض نہ دے۔ ھ مونځ د فدیے ورکولو بس دغہ صورت دے۔ کہ د مونځ کولو طاقت کیدو زمانہ کښې مونځونہ قضا کړی وی او بغیر د ادا کولو وفات شو۔ نو د هغے مونځونو فدیہ ورکولے شی۔

س۔ که د یو سړی په ذمه څه قضا روژے وی. او هغه وفات شو، نو د هغه د طرفه څوک سړے روژے اونیسی. نو جائز دی که نه ؟

ج۔ یعنی د مړی د ذمے نه روژے نه کوزیږی. هاں! وارث که فدیه ورکړی، نو جائز دی۔

دکفارے بیان

س۔ د روژے د ماتولو څه کفاره ده ؟

ج۔ کفاره دا ده۔ چه یو غلام ډ ازاد کړی. لیکن د دے ملکونو کښں غلام نشته۔ ځکه د لته صرف دوه صورتونه کښں کفاره ورکول کیدے شی۔

(۱) دا چه دوه میاشتے مسلسل روژے اونیسی۔

(۲) که دوه میاشتے د روژو نیولو طاقت ئے نه وی۔ نو په شپیتو مسکینانو دے په مړه خیټه طعام اوخوری یا شپیته مسکینانو ته دی سړی سر پاؤ کم دوه سیره غنم یا د هغے قیمت یا د هغے قیمت برابر، وریجے، جوار باجره ورکړی (سیر نه د اتیا روپئی وزن مراد دے)

س۔ د شپیتو مسکینانو غله مثلاً دوه منه پنځه ویشت سیره غنم یو مسکین ته ورکول جائز دی، یا نه ؟

ج۔ که یو مسکین ته هره ورځ دیوے ورځے غله یا وکم دوه سیره غنم ورکړے شی۔ یا هغه باندِ شپیته ورځے دوه وخته طعام خوروی، نو جائز دی۔ لیکن که هغه ته د یوے ورځے نه زیاته غله یا قیمت ورکړے شی، نو د یوے ورځے به صحیح وی۔ او د یوے ورځے نه چه څه زیات ورکړے وی هغه کفاره کښِ نشی شمیرلے

س۔ که یو مسکین ته پاؤکم دوه سیره نه کم ورکړے شی نو جائز دی یا نه؟

ج۔ نه۔ بلکه کفاره کښِ یو مسکین ته پاوکم دوه سیره غنم یعنی د یوے ورځے دیوے غلے مقدار نه کم ورکول، یا یوه ورځ کښِ د یوے ورځے د مقدار نه زیات ورکول ناجائز دی۔

س۔ که د رمضان خوروژے ئے ماتے کړے۔ نو څه حکم دے؟

ج۔ یوه کفاره واجب ده۔

د اعتکاف بیان

س۔ اعتکاف څه ته وائی؟

ج۔ اعتکاف دے ته وائی چه سړے د الله کور یعنی مسجد

کښې ایساریدل عبادت ګڼړلو سره په دے نیت دا سے جومات کښې ایسارشی. چه هغه کښې جماعت سره مونځ کیږی.

س- صرف جومات کښې ایساریدو ته ئے عبادت ولے وئیلے د

ج- هرکله چه انسان خپل کار روزګار، سیل تماشه ګرځیدل هرڅه پریږدی. مسجد کښې ایسارشی. او هغه کښې د ایساریدو نه ئے د الله تعالیٰ رضا مندی مقصود وی. نو د هغه عبادت کیدل ظاهر وی.

س- ښځه اعتکاف کوم ځائے اوکړی؟

ج- خپل کور کښې کوم ځائے چه مونځ کوی. د اعتکاف نیت کولو سره په هغه ځائے دے هر وخت اوسی. لویو وړو بولو نه علاوه بل څه کار د پاره هلته نه پاسیدو سره د مکان انګړیا څه دویمے حصے ته دے نه ځی. او که کور کښې د مونځ څه خاص ځائے مقرر نه وی. نو اعتکاف نه مخکښې دا سے ځائے دِ جوړکړی. او بیا دے هلته اعتکاف کوی.

س- د اعتکاف کومے فایدے دی؟

ج- اعتکاف کښې دا فایدے دی. (۱) اعتکاف کونکی ګویا خپل ټول بدن، ټول وخت د الله تعالیٰ عبادت د پاره

وقف کړے دے.
(۲) د دُنيا د جګړو او ډيرګناهونو نه محفوظ وی.
(۳) د اعتکاف حالت کښی هغه ته هر وخت د مونځ ثواب حاصلیږی. ځکه چه د اعتکاف اصل مقصود دا دے چه معتکف هر وخت د مونځ او جماعت شوق کښی ناست وی.(۴) د اعتکاف حالت کښی معتکف د ملائکو مشابهت پیدا کوی. چه د هغوئ په شان هر وخت عبادت او تسبیح و تقدیس کښی وی.
(۵) جو مات د الله تعالیٰ کور دے. ځکه معتکف اعتکاف کښی د الله تعالیٰ کوانړی، بلکه د هغه د کور میلمه وی.
س. د اعتکاف څو قسمونه دی؟
د اعتکاف درے قسمونه دی.
ج. (۱) واجب، (۲) سنّت موکده (۳) مستحب.
س. واجب اعتکاف کوم یو دے؟
ج. د نذر اعتکاف واجب دے. مثلاً چا نذر او منلو چه زه به درے ورځو د پاره اعتکاف کوم، یا دا سے ئے او ویل که ځما فلانے کار وشو، نو الله د پاره به دوه ورځے اعتکاف اوکړم.
س. سنّت مؤکده کوم اعتکاف دے؟

ج د رمضان عشره اخیره یعنی د لسو ورځو اعتکاف سنّت موکده دے. د دے شروع د شلم د ما بنام یعنی د نمر ډوبیدو د وخت نه کیږی. او دا ختر میاشت لیدلو سره ختمیږی. میاشت خواه دیو کم دیرش ورځو وی یا د دیرش. د واړه وصورتونو کښې سنّت ادا کیږی. دا اعتکاف سنّت مؤکده علی الکفایه دے د بعض خلقو کولو سره د ټولو ذمے نه ادا کیږی.

س. مستحب اعتکاف کوم یو دے؟

ج. د واجب او سنّت موکّده نه علاوه نور ټول اعتکاف مستحب دے. او د کال ټولو ورځو کښې[۱] اعتکاف جائز دے

س: دا اعتکاف صحیح کیدو شرطونه کوم دی؟

ج: (۱) مسلمان کیدل (۲) حدثِ اکبر او حیض ونفاس نه پاکیدل. (۳) عاقل کیدل (۴) نیت کول (۵) جومات کښې اعتکاف کول. دا خبرے خو د هر قِسم اعتکاف د پاره شرط دی. او واجب اعتکاف د پاره روژه هم شرط ده.

د اعتکاف د مستحباتو بیان

س. اعتکاف کښې کومے خبرے مستحب دی؟

(۱) نیکے او ښے خبرے کول۔
(۲) د قرآن شریف تلاوت کول۔
(۳) درود شریف لوستل۔
(۴) علوم دینیه ښودل۔
(۵) وعظ و نصیحت کول۔
(۶) جامع مسجد کښې اعتکاف کول۔

د اعتکاف د وختونو بیان

س۔ کم نه کم څومره وخت کښې اعتکاف کیږی؟
ج۔ د واجب اعتکاف دپاره چونکه روژه هم شرط ده۔ ځکه د دے وخت کم نه کم یوه ورځ ده۔ نو د یوے ورځے نه کم مثلاً د وه څلور گینټے یا د شپے د اعتکاف نذر منل صحیح نه دی۔ او کوم اعتکاف چه سُنّتِ موکده دے۔ د هغے وخت د رمضان شریف عشرهٔ اخیره ده۔ او نفلی اعتکاف دپاره د وخت څه مقدار مقرر نه دے یعنی نفلی اعتکاف لس پنځه مینټه هم کیدے شی۔ که مسجد کښې د داخلیدو په وخت د اعتکاف نیت کوی، نو روزانه د ډیرو اعتکافونو ثواب به ورته حاصل شی۔



اعتکاف کښې چه کوم خبرې جائز دي د هغې بیان

س۔ د معتکف د جومات نه وتل کوم عذرونو سره جائز دي؟

ج۔ (۱) لویو وړو بولو د پاره وتل۔ (۲) غسل د پاره وتل
(۳) د جُمعې مونځ د پاره د زوال په وخت یا د ومره وخت مخکښې جامع مسجد ته د رسیدو سره د خطبې نه مخکښې چه څلور رکعته سُنّت اوکړې شي۔
(۴) اذان کولو د پاره د اذان ځائ ته د جومات نه بهر تلل

س۔ لویو وړو بولو د پاره څومره لرې تلل پکار دي؟

ج۔ خپل مکان پورې که هر څومره لرې وي۔ تلل جائز دي. او! که هغه دوه مکانات وي۔ یو د اعتکاف ځائ ته قریب دے۔ او دویم لرې دے: نو قریب ځائ کښې قضائ حاجت کول ضروري دي۔

س۔ د جنازې مونځ د پاره معتکف له جومات نه وتل جائز دي یا نه؟

ج۔ که هغه وخت ئې د اعتکاف نیت کړے وو، چه جنازې

دپاره څم، نو جائز دی. او که نیت ئے نه وو کړے نو جائز نه دی

س. نورے کومے کومے خبرے اعتکاف کښ جائز دی؟

ج: (۱) جومات مسجد کښ خوراك څښناك (۲) او ده کیدل (۳) څه د حاجت څیز خرید کول. په شرط د دے چه هغه څیز مسجد کښ نه وی (۴) او نکاح کول جائز دی.

د اعتکاف د مکروهاتو او مفسداتو بیان

س. اعتکاف کښ کومے کومے خبرے مکروه دی؟

ج. (۱) بالکل خاموشی اختیارول او هغه عبادت ګنړل.
(۲) سامان جومات ته راوړل خرڅول او اخستل.
(۳) جنګ جګړا یا بیهوده خبرے کول.

س. کوم څیزونو سره اعتکاف فاسد کیږی؟

ج. (۱) بلا عذره قصدًا یا سهوًا د جومات نه بهر وتل.
(۲) د اعتکاف حالت کښ صحبت کول.
(۳) د څه عذر نه بهر وتلو سره د ضرورت نه زیات ایسار یدل. لکه پاخانه د پاره لاړ او د فارغید و نه پس هم څه وخت ایسار شو. (۴) د بیمارئ یا د

خوف یه وجه وتل - دے پتولو صورتونو کښ اعتکاف
کول فاسد کیږی.

س- که اعتکاف فاسد شی. نو د هغې قضا واجب ده یا نه؟

ج- د واجب اعتکاف قضا واجب ده - د سنّت او نفل
قضا واجب نه ده -

د نذر (منښتې) منلو بیان

س- نذر منل څنګه دی؟

ج- جائز دی - منښتو منلو سره د هغې پوره کول واجب دی
آیا هره منښته منلو سره پوره کول ئے واجب دی؟
کومه منښته چه خلافِ شرع نه وی. او د هغې
شرطونه بیا موندے شی، نو د هغې پوره کول واجب
دی او کومه منښته (نذر) چه د څه خلافِ شرع کار
وی. د هغې پوره کول نا جائز دی -

س- د نذر صحیح کیدو څه شرطونه دی؟

ج- منښته د څه عبادت وی. مثلاً که څما فلانے کار روشو
نو الله د پاره دوه رکعته مونځ اوکړم، یا روژه به
ونیسم. یا د ومره مسکینانو باندِ به طعام اوخوروم
یا زر روپئ به صدقه کړم -

(۲) د کوم څیز چه نذر منلے وی. هغه د هغه د قدرت نه بهر نه وی، کنی نذر نه صحیح کیږی. لکه اووائی، که ځما فلانے کار وشو. نو د فلانی سړی د دُکان مال به خیرات کړم. دا نیت صحیح نه دے، ځکه چه د چا غیر دُکان مال د هغه ملکیت نه دے. او د هغه د قدرت نه بهر دے. دے نه علاوه نور هم شرطونه دی چه غټو کتابونو کښی به ئے تاسو اولولئ.

س. د چا پیر یا ولی نذر منل څنګه دی؟

ج. د الله تعالیٰ نه سوا د بل چا نذر منل حرام دی ځکه منښته هم یو قسم عبادت دے. او سوا د الله تعالیٰ نه بل څوک د عبادت مستحق نه دے.

اسلامی فرائضو کښی د زکوٰة بیان

س. زکوٰة څه ته وائی؟

ج. د مال هغې خاص حصې ته زکوٰة وائی. چه هغه د الله د حکم موافق فقیرانو، محتاجانو وغیره ته ورکولو سره مالک ئے جوړ کړی. دا سے پوهه شئ، چه مونځ او روژه بدنی عبادت دے، او زکوٰة مالی عبادت دے.

س. زکوٰة فرض دے یا واجب؟

ج۔ د زکوٰة ورکول فرض دی، قرآن مجید او د رسول الله صلعم د حدیثونو نه د دے فرضیت ثابت دے۔ کوم سړے چه د زکوٰة د فرض کیدو نه انکار اوکړی هغه کافر دے۔ مسلمان آزاد، عاقل، بالغ مالك نصاب کیدل۔ د نصاب د خپل اصلی حاجتونو نه زیات او قرض نه بچ شوے کیدل۔ او مالك کیدو نه پس نصاب باندِ یو کال تیریدل، د زکوٰة د فرض کیدو شرطونه دی، نو کافر، غلام، لیونی او د نابالغ مال کښ زکوٰة فرض نه دے۔

د غسے که چا سره د نصاب نه کم مال وی، یا مال د نصاب برابر وی، لیکن هغه قرضدار هم دے، یا مال ورسره کال وسر نه دے پاتے شوے۔ نو دے حالتونو کښ فرض نه دے۔

د زکوٰة د مال او نصاب بیان

س۔ کوم کوم مال کښ زکوٰة فرض دے؟

ج۔ سرو سپینو زرو او هر قِسم د تجارت مال کښ زکوٰة فرض دے۔

س۔ د سرو سپینو زرو نه د هغے سکے لکه اشرفئ، روپئ

وغیره مراد دی، یا بل څه؟

ج- د سرو سپینو زرو هغو لوښو نو کښ زکوة فرض دے لکه اشرفئ، روپئ، زیور، لوښی، ګوته وغیره۔

س- جواهراتو باندِ زکوة فرض دے، یا نه؟

ج- جواهرات که تجارت دپاره وی. نو زکوة پرے فرض دے. اوکه تجارت دپاره نه وی، نو زکوة پرِ فرض نه دے. خواه ډهرځومره مالیت والا که چاسره د تانبے وغیره لوښی د نصاب نه د زیات قیمت وی. یا څه مکان یا دُکان وغیره د نصاب د زیات قیمت وی او دهغ کرایه هم راځی یا د چاندی سرو زرو نه سِوا د بل قِسم سامان او اسباب دے لیکن دا هول څیزونه تجارت دپاره نه دی. نو هغے کښ په هیڅ یو څیز زکوة فرض نه دے۔

س- سرکاری نوټ که چا سره په قدر د نصاب وی نو څه حکم دے؟

ج- په هغ زکوة فرض دے۔

س- که چا سره لږ شان سره زر، او لږ شان چاندی وی دواړو سره د یو نصاب نه پوره کیږی، نو په هغے باندِ

زکوٰة فرض دے یا نه ؟

ج۔ دے صورت کښې د سرو زرو قیمت یا چاندی سره یا د چاندی قیمت د سرو زرو تګولو سره او ګوری۔ که دواړو نه د یو نصاب پوره کیږی یا نه، که دیو نصاب پوره کیږی، نو د هغې حساب سره زکوٰة ورکړئ۔ او دواړو کښې که دیو نصاب نه پوره کیږی، نو زکوٰة فرض نه دے۔

س۔ که چا سره صرف څلور تولے سره زر وی۔ او د هغې قیمت د چاندی د نصاب برابر یا زیات دے۔ لیکن د چاندی څه څیز د هغه سره نشته، نه روپئ نه زیور نو په هغه زکوٰة فرض دے یا نه ؟

ج۔ دے صورت کښې په هغه زکوٰة فرض نه دے۔

س۔ د تجارت د مال نه څه مراد دے ؟

ج۔ کوم مال چه د خرڅولو او نفع ګټلو د پاره وی، هغه د تجارت مال دے، خواه هر قسم مال وی۔ لکه غله کیړه، قند، پړے د بساط خانے اسباب وغیره۔

س۔ نصاب څه ته وائی ؟

ج۔ کومو مالونو کښې چه زکوٰة فرض دے۔ د هغې شریعت خاص خاص مقدار مقرر کړے دے، هغو مره مقدار

چه چا سره پوره شي، نو زکوٰة فرض کیږي. دے
مقدار ته نصاب وائي.

س. د چاندۍ څه نصاب دے؟

ج. د چاندۍ حساب چه څلور پنځوس تولے دوه ماشے وزن چاندي وي، يوے تولے نه د يوے روپۍ وزن مراد دے.

س. د څلور پنځوس تولے دوه ماشے چاندۍ زکوٰة، څومره دے؟

ج. زکوٰة کښې څلویښتم حصه ورکول فرض کیږي. د د (۵۴) تولو (۲) ماشو زکوٰة يوه توله (۴) ماشے او دوه رتے چاندي شوه.

س. د سرو زرو نصاب څه دے؟

ج. د سرو زرو نصاب ۷، تولے او ۸ اته ماشے سره زر دي د دے زکوٰة ۲، ماشے ½۲ رتے سره زر شو.

س. د تجارتي مال نصاب څه دے؟

ج. د تجارتي مال سرو زرو او چاندۍ سره قیمت اولګوئ. بیا د چاندۍ یا سرو زرو نصاب قائمولو سره د هغې حساب سره زکوٰة ورکړئ.



د زکٰوة بیان

س. د زکٰوة دا داکولو صحیح طریقه کومه ده ؟

ج. څومره زکٰوة چه واجب شوے دے، هغه چا مستحق ته خاص الله تعالیٰ د پاره ورکړی. او هغه مالک جوړ کړے. د څه کار یا خدمت اُجرت کښې د زکٰوة ورکول جائز نه دی. هو که د زکٰوة د مال نه فقیرانو د پاره څه څیز خرید کولو سره پرې تقسیم کړی. نو جائز دی۔

س. زکٰوة کله اداکول پکار دی؟

ج. هر کله چه په قدر د نصاب مال باندې کال پوره شی. (د قمری میاشت حساب سره کال مراد دے) نو سمدستی د زکٰوة اداکول پکار دی. تاخیر کول ښه نه دی۔

س. د کال تیرید و نه مخکښې که یو سړے زکٰوة ورکړی نو جائز دی یا نه؟

ج. که په قدر د نصاب د مال مالک کال تیرید و نه مخکښې زکٰوة ورکړی نو جائز دی۔

س. د زکٰوة ورکولو په وخت نیت کول هم ضروری دی یا نه؟

او! د زکوٰة ورکولو په وخت، یا زکوٰة اوبنکلو سره د جدا کولو په وخت د نیت کول ضروری دی، چه مال زکوٰة کښی ورکوم، یا زکوٰة د پاره جدا کوم که د زکوٰة د خیال بغیر چا ته روپئ ورکړی. او د ورکولو نه پس هغه د زکوٰة حساب کښی اولګوی، نو زکوٰة نه ادا کیږی۔

س۔ چا ته چه زکوٰة ورکړی، هغه ته دا ښودل چه دا د زکوٰة مال دے ضروری دی یا نه؟

ج۔ دا ضروری نه دی، بلکه د انعام په نوم یا د چا غریب بچو ته د اختر په طور ورکولو سره هم ادا کیږی۔

س۔ کال تیرید و نه پس که زکوٰة ئے لا نه وو ورکړے، چه ټول مال ئے ضائع شو، نو څه حکم دے؟

ج۔ د هغے زکوٰة هم د هغه د ذمے نه ساقط شو۔

س۔ د کال تیرید و نه پس که ټول مال ئے د الله لار کښی ورکړو. نو څه حکم دے؟

ج۔ د هغے زکوٰة هم معاف شو۔

س۔ د کال تیرید و نه پس که لږ مال ضائع شو، یا خیرات ئے کړو نو څه حکم دے؟

ج۔ څنګه چه مال ضائع شو، یا خیرات ئے کړو، د هغے زکوٰة

هم ساقط شو. د باقي مال زکوٰة دے ورکړي۔

س. که د چاندۍ زکوٰة چاندۍ سره ادا کړي، نو د وزن اعتبار دے یا د قیمت؟

ج۔ د وزن اعتبار دے. مثلاً چا سره تَلل روپئ وي کال تیریدونه پس هغه له دوه نیمے تولے چاندي ورکول پکار دي. اوس هغه ته اختیار دے چه هغه دوه نیمے روپئ ورکړي. یا د چاندۍ ټکړه دوه نیمے تولے ورکړي، نو زکوٰة به ئے ادا شي. لیکن که د چاندۍ ټکړه د دوه نیمے تولے قیمت کښې د دوه روپو وي، نو دوه روپئ ورکولو سره زکوٰة نه ادا کیږي۔

س. د چاندۍ زکوٰة چه واجب شي، نو بل څه څیز هم زکوٰة کښې ورکولے شي یا نه؟

ج۔ او! څومره چاندۍ چه زکوٰة کښې واجب کیږي د هومره چاندۍ قیمت څه بل څیز مثلاً کپړه یا غله خرید کولو سره ورکول هم درست شو۔

د زکوٰة د مصارف بیان

س۔ د زکوٰة د مصارف نه څه مراد دے؟

ج۔ کوم سړي ته چه د زکوٰة ورکولو اجازت دے۔

هغه ته مصرفِ زکوٰة وائی. او مصارف د مصرف جمع ده. مصارفِ زکوٰة نه هغه خلق مراد دی چه هغوئ له زکوٰة ورکول جائز دی.

س. مصارفِ زکوٰة څومره او کوم کوم دی؟

ج. دے زمانه کښې مصارفِ زکوٰة دا دی:

(۱) فقیر یعنی هغه سړے چه هغه سره څه لږ شان مال اسباب شته، لیکن د نصاب برابر نه دے.

(۲) مسکین یعنی هغه سړے چه هغه سره هیڅ نه وی.

(۳) قرضدارے یعنی هغه سړے چه د هغه په ذمه د خلقو قرض وی. او هغه سره د قرض نه بچ شوی په قدر د نصاب هیڅ مال نه وی.

(۴) مسافر چه د سفر حالت کښې تنګ دست شوے وی هغه ته په قدر د حاجت زکوٰة ورکول جائز دی.

س. اسلامی مدرسو ته د زکوٰة مال ورکول جائز دی یا نه؟

ج. هو! طالب العلمانو ته زکوٰة ورکول جائز دی. او د مدرسو مهتممانو ته دے د پاره چه په طالب العلمانو ئے خرچ کړی. ورکولو کښې څه حرج نشته.

س. کومو کومو خلقو ته زکوٰة ورکول نا جائز دی؟

ج. دے خلقو ته د زکوٰة ورکول نا جائز دی:

(۱) مالدار یعنی هغه سړے چه په هغه خپله زکوٰة فرض دے، یا د نصاب برابر قیمت څه مال ورسره موجود وی، او د هغه د اصلی حاجت نه زیات وی لکه چا سره د تانبے لوښے د روزمره ضرورت نه زیات پراته وی او د هغے قیمت په قدر د نصاب دے. هغه له د زکوٰة مال اخستل حلال نه دی. آګرکه خپله په هغه هم د هغے لوښو زکوٰة ورکول واجب نه وی.

(۲) سید او بنی هاشم، بنی هاشم نه حارث بن عبدالمطلب او حضرت جعفر رضؓ او حضرت عقیل رضؓ او حضرت عباس رضؓ او حضرت علی رضؓ اولاد مراد دے (څوک چه ځانته سید وائی. هغه له زکوٰة اخستل نه دی پکار. د غسے کوم عالمان پیش امامان چه سرکاری نوکری کښے وی یا پینشن اخلی یا څه نه څه جائیداد لری، هغوئ له هم صدقه فطر یعنی سرسایه او زکوٰة اخستل نه دی پکار.)

(۳) خپل مور پلار، نیا، نیکه، د پلار د طرف نه وی یا د مور د طرف نه خواه د وئ ته د پاسه وی.

(۴) ځوئ، لور، نمسے، نمسئ، خواه د وئ نه لاندِ وی.

(۵) د خاوند خپلے ښځے ته او ښځه خپل خاوند ته هم زکوٰة نشی ورکولے. (۶) کافر (۷) د مالدار سړی نابالغ اولاد

دے یتیمو لو خلقو ته زکٰوة ورکول جائز نه دی۔

س۔ کومو کارونو کښې د زکٰوة مال خرچ کول جائز نه دی؟

ج۔ کومو ځیزونو کښې چه څوك مستحق مال جوړ نه کړے شی۔ هغې کښې مالی زکٰوة خرچ کول جائز نه دی لکه د مړی ګور کفن کښې لګول یا د مړی قرض اداکول یا د جومات تعمیر یا فرش یا لوټو یا اوبو وغیره باندِ خرچ کول جائز نه دی۔

س۔ یو سړی سره د ۱۰۰۰ زر یا دوه ۲۰۰۰ زره روپو مکان دے چه هغې کښې هغه اوسی۔ یا د هغې په کرایه ګزاره کوی۔ دے نه علاوه د هغه سره هیڅ مال نشته، بلکه تنګدست دے۔ هغه له زکٰوة ورکول جائز دی یا نه؟

ج۔ جائز دی۔ ځکه چه دا مکان د هغه اصلی حاجت کښې داخل دے، البته هرکله چه چا سره د هغه د اصلی حاجت نه زیات مال وی، او هغه په قدر د نصاب وی نو هغه له زکٰوة اخستل جائز نه دی۔

س۔ که څوك مستحق ګڼړلو سره زکوٰة ورکړی وروسته معلومه شی چه هغه سیّد یا مالدار وو۔ یا د خپل مور پلار یا اولاد نه څوك وو، نو زکٰوة ادا شو یا نه؟

ج۔ ادا شو۔ دوباره ورکول جائز نه دی۔

تانبے، پیتل، چینی وغیرہ لوښی ئے ایښے وی. یا څہ مکان ئے خالی پروت دے او د څہ قِسم سامان او اسباب د ے. او د هغہ د حاجتِ اصلیہ نہ زائد دے او د هغې څیزونو قیمت د نصاب برابر یا زیات دے نو پہ هغہ زکٰوۃ فرض نہ دے. لیکن صدقۂ فطر پرے واجب دہ. د صدقہ فطر پہ نصاب کالو سرتیریدل هم شرط نہ دی. بلکہ پہ هغہ ورځ د نصاب مالک شوے وی. نو هم صدقہ فطر ادا کول پرِ واجب دی.

س. صدقۂ فطر د چا چا د طرف نہ ورکول واجب دی؟

ج. هر صاحبِ نصاب سړی باندِ د خپل طرف نہ او د خپل نابالغہ اولاد د طرف نہ صدقۂ فطر ورکول واجب دی لیکن د نابالغو کہ خپل مال وی، نو د هغوئ د مال نہ دے ادا کړی.

س. مشهورہ دہ چا چہ روژے نہ وی نیولے پہ هغہ صدقۂ فطر واجب نہ دہ. دا صحیح دہ یا غلطہ؟

ج. دا خبرہ غلطہ دہ، بلکہ هر صاحبِ نصاب باندِ واجب دہ، خواہ روژے ئے نیولے وی یا نہ وی نیولے.

س. د صدقۂ فطر واجب کیدو وخت کوم دے؟

ج. د اختر پہ ورځ صبح صادق کیدو سرہ دا صدقہ واجب

کیږی. کوم سړے چه د صبح صادق نه مخکښې مړ شو. د هغه د مال نه به صدقهٔ فطر نشی ورکولے. او کوم بچے چه د صبح صادق نه مخکښې پیدا شی. د هغه د طرف نه به ئے ادا کولے شی.

س. که صدقهٔ فطر د اختر د ورځے نه مخکښې ورکړی، نو جائز دی، یا نه؟

ج. جائز دی.

س. د صدقه فطر اداکولو بهتر وخت کوم دے؟

ج. د اختر په ورځ مونځ له تللو نه مخکښې اداکول ئے بهتر دی. او که مونځ نه پس ئے اداکړی. نو هم جائز دی خو پورے چه ادا ئے نه کړی د هغه په ذمه واجب الاداوی. خواه هر څو مره موده تیره شی.

صدقهٔ فطر کښې کوم کوم څیز او څومره ورکول پکار دی

صدقهٔ فطر کښې هر قسم غله او قیمت ورکول جائز دی د دے تفصیل دا دے: که غنم یا د هغے اوړه یا ستوان ورکړی، نو سړی سر یا ؤ کم د وه سیره ورکول پکار دی (سیر نه مراد د اتیا روپو وزن دے) او اوربشے یا د هغے اوړه یا ستوان د دے نیم سیره ورکول پکار دی. که د اوربشو او غنمو نه علاوه بل څه غله مثلاً وریجے، باجره

جوار وغیره ورکوی نو د پاؤکم دوه سیره غنمو قیمت یا درے نیم سیره د وربشو قیمت کېښ چه څومره غله راځی هغومره ورکول پکار دی. او که قیمت ورکوی، نو د پاؤکم دوه سیره غنمو یا درے نیم سیره وربشو قیمت ورکول پکار دی.

س۔ د یو سړی صدقهٔ فطر یو فقیر ته ورکول یا لږ لږ ډیرو فقیرانو ته ورکول هم جائز دی یا نه؟

ج۔ څو فقیرانو ته ورکول جائز دی۔ د غسے د څو سړو صدقه فطر هم یو فقیر ته ورکول جائز دی۔

س۔ صدقهٔ فطر اسرسایه کومو خلقو ته ورکول پکار دی؟

ج۔ کومو خلقو ته چه زکوٰة ورکول جائز دی. هغوئ ته صدقه فطر ورکول هم جائز دی. او کومو خلقو ته چه زکوٰة ورکول ناجائز دی. هغوئ ته صدقه فطر ورکول هم ناجائز دی۔

س۔ په کومو خلقو چه صدقه فطر واجب دی هغوئ زکوٰة یا صدقهٔ فطر اخستے شی یا نه؟

ج۔ نشی اخستے۔ او هیڅ فرض یا واجب صدقه داسے خلقو له اخستل جائز نه دی. چا سره چه د صدقه فطر نصاب موجود وی۔

زمونږ د ادارے د کتابونو مختصر

فهرست

۱۔ پاره اوّل۔ دوئم و سوئم (اعلیٰ کاغذ ارغوې سائز)
۲۔ قاعده بغدادی
۳۔ نورانی قاعده
۴۔ انتخاب صحاح سته ——— (پښتو)
۵۔ احکام دین ——— (پښتو)
۶ تعلیم الاسلام 24 روپے (پښتو مکمل)
۷۔ اسلامی ښاوے ——— (پښتو)
۸۔ کتاب النکاح من الهدایه ——— (پښتو)
۹۔ د مور پلار حقوق ——— (پښتو)
۱۰۔ د روژے احکام او مسئلے ——— (پښتو)
۱۱۔ آداب الصالحین ——— (پښتو)
۱۲۔ فتوح الغیب (شاه عبدالقادر جیلانی) (پښتو مکمل)

د دې نه علاوه زمونږ سره هر قسم تفاسیر۔ فقه
تصوف۔ درسی و غیر درسی او قرآن شریفونه د بازار
نه رعایتی او مناسب دام ملاویږی

وحیدی کتب خانه پیښور